د افغانستان اسلامي جمهوریت

د لوړو زده کړو وزارت

ننګرهار پوهنتون

اقتصاد پوهنځی

ملي اقتصاد څانګه

# د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ او په ملي اقتصاد یې اغېزې

## (له ۱۳۹۰ کال څخه تر ۱۳۹۸ کال پورې)

Ketabton.com

ترتیب کوونکی: اعجازاحمد «نایاب»

لارښود استاد: پوهنوال محمد زبیر «نورمل»

کال: ۱۳۹۹ هـ.ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيْمِ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تقريظ

د محترم اعجاز احمد د جمعه ګل زوی مونوګراف چې (د امريکايي ډالر په ورانډې د افغانۍ د تبادلې نرخ او په ملي اقتصاد يې اغېزې) عنوان لاندې ليکلی، د ليسانس دورې لپاره کافي بولم

**پوهنوال محمد زبير «نورمل»**

**د ننګرهار پوهنتون، اقتصاد پوهنځي استاد**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مننلیک

مننه کوم له خپل مور او پلار څخه چې تل يې د ژوند يواځيني هدف په لور تشويق کړی يم

مننه کوم د ننګرهار پوهنتون، اقتصاد پوهنځي له ټولو استادانو څخه چې په څلور کلنه تحصيلي دوره کې يې راسره نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې دي

او مننه کوم له لارښود استاد، پوهنوال محمد زبير «نورمل» څخه چې د موضوع په ترتيب کې يې راته لازمي لارښووني او همکاري کړې ده

## ډالۍ

ګران پلار او مور ته!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لنډیز (Abstract)

دغه څېړنه (د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ او په ملي اقتصاد یې اغېزې) له (۱۳۹۰) هجري شمسي کال څخه تر (۱۳۹۸) هجري شمسي کال پورې د امریکایي ډالر یه وړاندې د افغانۍ په ارزښت کې د بدلون څرنګوالی او د افغانۍ په ارزښت کې د یاد بدلون له کبله د افغانستان په اقتصاد باندې وارد شویو تاثیراتو څخه خبري کوي.

له دې څېړنې څخه مو هدف دا دی، څو معلومه کړو چې په تېرو نهه کلونو کې د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ بدلون څرنګه وه او د افغانستان په اقتصاد یعني د لوی اقتصاد په اساسي اهدافو (انفلاسیون نرخ، اقتصادي وده، د تادیاتو بېلانس او استخدام سطحه) باندې یې څه اغېزې درلودې؟

دا یوه کمي څېړنه ده چې د عنوان مربوط راټوله شوې ټوله ډېټا یې دویم لاس او د اعدادو او ارقامو په بڼه راټوله شوې ده، چې د تحلیل لپاره یې له مایکرو سافټ ایکسیل پروګرام څخه استفاده شوې، او نتایج یې د چارټ او اعدادو په بڼه راوړل شوي او بیان شوي دي.

د راغونډې شوې ډېټا تر تحلیل وروسته دا نتېجه لاسته راځي، چې په وروستۍ لسیزه کې د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ نږدې په دوامداره ډول سره کموالی کړی او د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د ارزښت بدلون په ملي اقتصاد باندې خورا تاثیر ګذار عامل وه. که څه هم داسې فکر کېږي چې د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د ارزښت ټیټوالی به له هر څه وړاندې د هیواد په بازارونو کې د قیمتونو سطحه متاثیره کوي، ولې؛ د ارقامو تحلیل دا نتېجه څرګندوي چې تر ټولو مهم او متاثیره کیدونکي فکټورونه صادرات او بیا په ترتیب سره واردات او د وزګارتیا کچه دي، خو په انفلاسیون نرخ او اقتصادي وده باندې یې تاثیر په کمه اندازه دی. یا په بل عبارت، د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د ارزښت بدلون څخه تر ټولو زیات متأثره کېدونکی متحویل صادرات او تر ټولو کم متاثیره کېدونکی فکټور اقتصادي وده ده.

**د څېړنې کلیدي ټکي:** افغانۍ (Afghani)، امریکایي ډالر (US Dollar)، د تبادلې نرخ (Exchange Rate)، اقتصادي وده (Economic Growth)، انفلاسیون نرخ (Inflation Rate)، سوداګري (Trade)، استخدام (Employment)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


| عنوان | مخ |
|---|---|
| سریزه ........................................................................ | ۱ |
| پېژندنه (Introduction) ........................................................................ | ۲ |
| د څېړنې ستونزه ........................................................................ | ۲ |
| د څېړنې اهميت ........................................................................ | ۲ |
| د څېړنې موخې ........................................................................ | ۳ |
| د څېړنې پوښتنې ........................................................................ | ۳ |
| د څېړنې فرضيې ........................................................................ | ۴ |
| د څېړنې ساحه ........................................................................ | ۵ |
| تېرو ليکنو ته کتنه ........................................................................ | ۵ |
| د څېړنې خلا ........................................................................ | ۷ |
| د څېړنې مېتودولوژي ........................................................................ | ۸ |
| ۱. د څېړنې ډيزاين ........................................................................ | ۸ |
| ۲. د مالوماتو راټولولو مېتود ........................................................................ | ۸ |
| ۳. د مالوماتو تحليل ........................................................................ | ۹ |
| پايله (Result) ........................................................................ | ۹ |
| د تبادلې نرخ پېژندنه ........................................................................ | ۹ |
| ۱. تعريف ........................................................................ | ۹ |
| ۲. د تبادلې نرخ ډولونه ........................................................................ | ۱۰ |
| ۱,۲. د تبادلې بدلېدونکی يا ارتجاعي نرخ ........................................................................ | ۱۰ |
| ۲,۲. د تبادلې ثابت نرخ ........................................................................ | ۱۲ |
| ۳,۲. د تبادلې ګډ يا مشترک نرخ ........................................................................ | ۱۶ |
| د تبادلې نرخ کموالی (Devaluation) ........................................................................ | ۱۶ |
| ډالرايزېشن (Dollarization) ........................................................................ | ۱۸ |
| اسعاري اتحاديه (Currency Union) | ۲۰ |
| د اسعارو بازار ........................................................................ | ۲۱ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانیو نرخ او د پیسو کړنلاره یا پولي سیاست .................................................. ۲۲
د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانی د تبادلې نرخ څرنګوالی ................................ ۲۲
د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانی د تبادلې نرخ اغېزې د افغانستان په اقتصاد باندې .... ۴۱
۱. د تبادلې نرخ تاثیر په انفلاسیون نرخ باندې .................................................... ۴۱
۲. د تبادلې نرخ تاثیر په اقتصادي وده باندې ........................................................ ۴۳
۳. د تبادلې نرخ تاثیر په خارجي تجارت باندې ...................................................... ۴۵
۱,۳. د تبادلې نرخ تاثیر په صادراتو باندې ........................................................ ۴۵
۲,۳. د تبادلې نرخ تاثیر په وارداتو باندې ......................................................... ۴۷
۴. د تبادلې نرخ تاثیر د وزګارتیا په کچه باندې ..................................................... ۴۸
مناقشه (Discussion) ...................................................................... ۵۱
پایله اخیستنه (Conclusion) ................................................................ ۵۴
وړاندیزونه (Recommendations) .......................................................... ۵۵
اخځلیکونه (References) ................................................................... ۵۶

## جدولونه

**عنوان** **مخ**

د آمریکایي ډالر په وړاندې د افغانی د تبادلې نرخ څرنګوالی، کال (۱۳۹۰) هـ.ش ........ ۲۲
د آمریکایي ډالر په وړاندې د افغانی د تبادلې نرخ څرنګوالی، کال (۱۳۹۱) هـ.ش ........ ۲۴
د آمریکایي ډالر په وړاندې د افغانی د تبادلې نرخ څرنګوالی، کال (۱۳۹۲) هـ.ش ........ ۲۶
د آمریکایي ډالر په وړاندې د افغانی د تبادلې نرخ څرنګوالی، کال (۱۳۹۳) هـ.ش ........ ۲۹
د آمریکایي ډالر په وړاندې د افغانی د تبادلې نرخ څرنګوالی، کال (۱۳۹۴) هـ.ش ........ ۳۱
د آمریکایي ډالر په وړاندې د افغانی د تبادلې نرخ څرنګوالی، کال (۱۳۹۵) هـ.ش ........ ۳۳
د آمریکایي ډالر په وړاندې د افغانی د تبادلې نرخ څرنګوالی، کال (۱۳۹۶) هـ.ش ........ ۳۵
د آمریکایي ډالر په وړاندې د افغانی د تبادلې نرخ څرنګوالی، کال (۱۳۹۷) هـ.ش ........ ۳۷
د آمریکایي ډالر په وړاندې د افغانی د تبادلې نرخ څرنګوالی، کال (۱۳۹۸) هـ.ش ........ ۳۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګرافونه

**عنوان** | **مخ**


د یو (USD) په وړاندې د (AFN) د تبادلې نرخ ګال (۱۳۹۰هـ.ش) .......................... ۲۴
د یو (USD) په وړاندې د (AFN) د تبادلې نرخ ګال (۱۳۹۱هـ.ش) .......................... ۲۶
د یو (USD) په وړاندې د (AFN) د تبادلې نرخ ګال (۱۳۹۲هـ.ش) .......................... ۲۸
د یو (USD) په وړاندې د (AFN) د تبادلې نرخ ګال (۱۳۹۳هـ.ش) .......................... ۳۰
د یو (USD) په وړاندې د (AFN) د تبادلې نرخ ګال (۱۳۹۴هـ.ش) .......................... ۳۲
د یو (USD) په وړاندې د (AFN) د تبادلې نرخ ګال (۱۳۹۵هـ.ش) .......................... ۳۵
د یو (USD) په وړاندې د (AFN) د تبادلې نرخ ګال (۱۳۹۶هـ.ش) .......................... ۳۷
د یو (USD) په وړاندې د (AFN) د تبادلې نرخ ګال (۱۳۹۷هـ.ش) .......................... ۳۹
د یو (USD) په وړاندې د (AFN) د تبادلې نرخ ګال (۱۳۹۸هـ.ش) .......................... ۴۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ ارزښت ډېر د اهمیت وړ دی. ځکه چې افغانستان یو وارداتي هیواد دی او اکثریت د هغه هیوادونو چې افغانستان ورسره تجارتي اړیکي لري، د خپلو توکو په مقابل کې د ډالر غوښتنه کوي. دا چې د افغانستان وارداتي توکي تر ډېره بریده د امریکایي ډالر په مقابل کې راځي، نو په همدې اساس ویلای شو چې د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ ارزښت ډېر د اهمیت وړ دی او د بدلون په صورت کې یې د هیواد بازارونه په چټکۍ او سخت ډول متأثیره کیږي.

هر هیواد د خارجي اسعارو په مقابل کې د خپلي ملي کرنسي ارزښت داسي ټاکي ترڅو په وسیله یې د هیواد دننه اقتصادي وضع په مثبت ډول متاثیره او د هیواد د اقتصادي اوضاع د سمون په موخه ټاکل شوي اهداف ترلاسه شي. د هیواد دننه د ملي پیسې چلښت او اعتبار د پولي سیاست د تطبیق لپاره یو مهم فکتور دی، چې باید شتون ولري ترڅو د دولت لخوا ټاکل شوې پالیسۍ په درست شکل سره اهداف ترلاسه کړای شي.

د طالبانو د واک له منځه تګ سره په افغانستان کې د امریکا متحده آیالاتو په مالي او فوځي ملاتړ سره د هیواد دننه نوی نظام رامنځته شو او یاد نظام په هیواد کې د اقتصادي راکړو ورکړو په منظور په نوې بڼې سره افغانۍ چاپ او نشر کړه. که څه هم له همهغه پیل څخه د افغانستان د دولت ټول تادیات په افغانۍ دي، ولي د هیواد داخلي جګړو او د نظامونو یو په بل پسې په پرلپسې ډول ړنګېدل او جوړېدل د دې سبب شوي چې په موجوده نظام هم د خلکو بې باوري زیاته او یاده بې باوري د افغانیو د نه چلښت لامل وګرځي. له (۱۳۹۸) هجري شمسي کال مخکې د هیواد په اکثریت خاوره او آن په پلازمینه کې افغانۍ له پوره اعتبار څخه برخمنه نه وه، خو په کال (۱۳۹۸) هجري شمسي کې د هیواد دننه بازارونو کې د خارجي اسعارو د چلښت په وړاندې د دولت کلک غبرګون وکولای شو چې د هیواد ډېری سیمو کې د افغانۍ چلښت پیل او راکړه ورکړو کې اعتبار پیدا کړي، ولي لا تراوسه هم ډېری لوی معاملات په امریکایي ډالر او پاکستاني کلداري ترسره کیږي.

د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ ارزښت خورا د اهمیت وړ دی او لازمه برېښي چې په تېرو څو کلونو کې د هیواد په اقتصادي اوضاع باندي د یادو اسعارو ترمنځ د تبادلې نرخ د بدلون تاثیرات وڅېړل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پېژندنه (Introduction)

د اوسني نړيوالتوب په لړ کې هيوادونه له اقتصادي اړخه يو د بل سره تړلي دي. په همدغه ترڅ کې هيوادونه يو له بل سره سوداګريزي اړيکې لري او خپل توليد شوي توکي او خدمات يو په بل پلوري. دا چې د هيوادونو پولي واحدونه سره توپير لري نو طبعي ده چې د دغه پير او پلور لپاره بايد خپل اسعار سره تبادله کړي، تر څو د هر هيواد په اړونده کرنسۍ د هغوی توکي او خدمات وپيري. بېلا بېل اسعار چې په کوم نرخ يو د بل سره تبادله کيږي د اسعارو د تبادلې د نرخ په نوم ياديږي. په لنډ ډول، د تبادلې نرخ د بهرنيو اسعارو له مخې د يو هيواد د پيسو د قيمت څخه عبارت دی، يا د تبادلې نرخ هغه نرخ دی چې له مخې يې يو پولي واحد د کوم بل پولي واحد سره بدل يا تبادله کيږي.[1]

د يو هيواد د پيسو ارزښت ټيټوالی او لوړوالی دواړه په خپل ځای ګټې او زيانونه لري، په تېرو څو کلونو کې په ځانګړې توګه، له کله چې له افغانستان څخه د امريکايي ځواکونو د وتلو خبر ګرمه شوې، د افغانۍ ارزښت د امريکايي ډالر په وړاندې ورځ تر بلې ښکته والی مومي. د دې لپاره چې معلومه شي، چې د امريکايي ډالر په وړاندې د هيواد د افغانۍ ارزښت دا ښکته والی د هيواد په اقتصاد څه اغېز ښندلی، ما وپتېيله چې په ياده موضوع څېړنه وکړم او بلاخره يوه ټولګه ګټور مالومات د استفادې لپاره راجمع کړم.

### د څېړنې ستونزه

دا چې د امريکايي ډالر په وړاندې د افغانۍ ارزښت ورځ تر بلې په چټکۍ سره کموالی کوي، نو لازمه بريښي ترڅو مالومه شي چې د افغانۍ په ارزښت کې ياد بدلون په ملي اقتصاد څه اغېز غورځولی دی؟

### د څېړنې اهميت

د پيسو د ارزښت ټيټېدل يا د بهرنيو پولي واحدونو په مقابل کې د ملي پولي واحد د ارزښت راغورځېدل که له يو خوا د دې سبب ګرځي چې په نړيوال بازار کې د داخلي توليداتو قيمت ټيټ شي او د دې په وسيله په ترتيب سره صادرات او داخلي توليد تشويق کيږي. له بل پلوه د پيسو ارزښت د يو لړ زيانونو لکه، د انفلاسيون نرخ لوړېدل او د وارداتو د قيمت په لوړوالي سره د هيواد دننه د خلکو د خريد قدرت کمېدلو سبب هم ګرځي.[2]

---

1 ) کوټوال، نصير. (۱۳۹۴). اقتصادي درسونه. کابل، افغانستان: اکسوس کتابپلورنځی.
2 ) Excel Books Private Limited. (2012). Macro Economics. New Delhi: Excel Books Private Limited.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره له دې چې د پیسو ارزښت کموالی یو لړ ګټې لري، او د همدې ګټورتوب ترلاسه کولو لپاره اړینه ده چې مناسبه پولي پالیسي جوړه او تطبیق شي ترڅو د خارجي اسعارو په مقابل کې د ملي پولي واحد ارزښت ټیټ او مقصود اهداف ترلاسه شي، ولي دا هم لازمه ده چې د پیسو د ارزښت ثبات په نظر کې ونیول شي. که چیرته د هیواد د پیسو په ارزښت کې کموالی په داسې بڼه وي چې له کبله یې د پیسو په ارزښت کې په لویه اندازه بې ثباتي رامنځته شي، نه یواځې دا چې مطلوب اهداف به ترلاسه نشي، بلکې؛ د پیسو ارزښت ټیټوالي له کبله به زیان هم رامنځته شي.

دا چې افغانستان یو وارداتي هیواد دی او اکثریت وارداتي توکي یې د امریکایي ډالر په مقابل کې واردیږي، واضح خبره ده چې د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ په ارزښت کې بدلون به د هیواد په بازارونو او اقتصاد باندې اغېز اچوي. د څېړنې په پایله کې به په دې وپوهیږو چې له تېرو څو کلونو راهیسې د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د ارزښت راکمیدلو د افغانستان په اقتصاد باندې څه ډول اغېز کړی، او آیا په ریښتیا هم د قیمتونو په سطحه زیات تاثیر ګذار عامل دی؟

## د څېړنې موخې

۱. د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د ارزښت بدلون او د هیواد د انفلاسیون نرخ سره یې په اړیکه باندې پوهیدل.

۲. د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د ارزښت بدلون او د هیواد د اقتصادي ودې سره یې په اړیکه باندې پوهیدل.

۳. د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د ارزښت بدلون او د افغانستان خارجي تجارت سره یې په اړیکه باندې پوهیدل.

۴. د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د ارزښت بدلون او د هیواد دننه د استخدام سطحې سره یې په اړیکې باندې پوهیدل.

## د څېړنې پوښتنې

۱. د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د ارزښت بدلون د انفلاسیون په نرخ څه ډول تاثیر درلود؟

۲. د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د ارزښت بدلون په اقتصادي وده باندې څه ډول تاثیر درلود؟

۳. د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د ارزښت بدلون د هیواد په تجارت څه ډول اغېز درلود؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴. د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د ارزښت بدلون د هیواد دننه د استخدام سطحه باندي څه تاثیر درلود؟

**د څېړنې فرضیې**

(۱)

$H_0$: د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د ارزښت ښکته والي سره د انفلاسیون نرخ کې لوړوالی راغلی دی.

$H_A$: د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د ارزښت ښکته والي سره د انفلاسیون نرخ کې ټیټوالی راغلی دی دی.

(۲)

$H_0$: د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د ارزښت ښکته والي سره په اقتصادي وده کې مثبت تغیر راغلی دی.

$H_A$: د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د ارزښت ښکته والي سره په اقتصادي وده کې منفي تغیر راغلی دی.

(۳)

$H_0$: د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د ارزښت ښکته والي سره د هیواد په سوداګري کې مثبت تغیر راغلی.

$H_A$: د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د ارزښت ښکته والي سره د هیواد په سوداګري کې منفي تغیر راغلی دی.

(۴)

$H_0$: د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د ارزښت ښکته والي سره د استخدام سطحه کې لوړوالی راغلی دی.

$H_A$: د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د ارزښت ښکته والي سره د استخدام سطحه کې ټیټوالی راغلی دی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د څېړنې ساحه

دا څېړنه په افغانستان کې د "د امريکايي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ او په ملي اقتصاد يې اغېزې" اړوند ده، چې له (۱۳۹۰) هجري شمسي کال څخه تر (۱۳۹۸) هجري شمسي کال اړوند مالومات پکې راټول شوي دي. د تبادلې نرخ اړوند ډېټا له ( dab.gov.af, https://finance.yahoo.com, www.saraishahzada.af او www.investing.com) څخه، د سړي سر ناخالص داخلي توليد اړوند ارقام له (www.nasia.gov.af)، د انفلاسيون نرخ اړوند له (www.macrotrends.net) او د بېکارۍ نرخ اړوند ارقام له (www.statista.com) او د صادراتو او وارداتو اړوند ارقام د افغانستان د احصايې مرکزي ادارې لخوا نشر شويو احصايوي سالنامو څخه راخيستل شوي دي.

## تېرو ليکنو ته کتنه

دلته مونږ له دې څخه يادونه کوو چې د تبادلې نرخ په ملي اقتصاد باندې څه ډول اغېز ښندي. د تبادلې نرخ د هغه کاروبارونو لپاره مهم دی چې نړيوال تجارت ترسره کوي، نورو هيوادونو ته اموال صادروي او يا هم له نورو هيوادونو څخه اموال واردوي. که د بهرنيو اسعارو په وړاندې د يو هيواد د پيسو ارزښت لوړ شي، نو دې سره په نړيوال بازار کې د صادرونکو کاروبارونو توکي په لوړه بيه تماميږي، تقاضا به ورته کمه او بلاخره په تجارت کې کموالی راځي، خو که ياد حالت د واردونکو کاروبارونو په وړاندې وګورو، نو ويلای شو چې د بهرنيو اسعارو په وړاندې د يو هيواد د پيسو د ارزښت لوړوالي سره به د وارداتي توکو قيمت ټيټ او په داخل کې به ښه بازار پيدا کړي.

نه يوازې تجارت، بلکې؛ د لوی اقتصاد نور اساسي فکټورونه (د انفلاسيون نرخ، د تادياتو بيلانس، اقتصادي وده او د بېکارۍ کچه) هم د تبادلې نرخ د بدلون سره متأثيره کيږي. د موضوع د لا وضاحت لپاره د موضوع په هکله له لاندې تيرو ليکنو څخه يادونه کوو:

اې سي اريز او مليندرېټوز په کال (۱۹۹۶) ميلادي، مې کې د (د تبادلې نرخ اغېز انفلاسيون په نرخ) عنوان لاندې څېړنه کړې، چې ياده څېړنه دا ښيي چې د تبادلې نرخ بدلون د انفلاسيون نرخ د بدلون يو عامل دی.[3]

3 ) Arize, A., & Malindretos, J. (1996). Effects of Exchange Rate Variability on Inflation Variability. *Applied Economics Letters*, 6.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاول کنوي، آرون ډریو، بین هانټ او السدېر سکاټ په کال (۱۹۹۸) میلادي، می کي د (د تبادلې نرخ تاثیر په انفلاسیون نرخ په هغه هیوادونو کې چې د کمي اقتصادي آزادي لرونکي دي) عنوان لاندي څېړنه کړې، چې یاده څېړنه ښیي، چې د تبادلې نرخ بدلون په انفلاسیون نرخ باندي زیات تاثیرګذار عامل دی.(4)

نصیر «کوټوال» په خپل کتاب (اقتصادي درسونه) کې، چې په کال (۲۰۱۵) میلادي کې خپور شوی لیکي، چې د پیسو ارزښت او انفلاسیون نرخ ترمنځ معکوسه رابطه شتون لري.(5)

ډاني راډریک په کال (۲۰۰۴) میلادي کې د (حقیقي تبادلې نرخ او اقتصادي وده) تر نوم لاندي څېړنه کړې وه، د دوی څېړنه دا ښیي چې د بهرنیو اسعارو په وړاندې د یو هیواد د پیسو د ارزښت ټیټوالی (Devaluation) اقتصادي وده تحریکوي.(6)

جان ایف کنیډي په کال (۲۰۰۷) میلادي، جولای کې د (حقیقي د تبادلې نرخ او اقتصادي وده) عنوان لاندي څېړنه کړې وه. د دوی څېړنه دا ښیي چې د بهرنیو اسعارو په وړاندې د ملي پیسو د ارزښت کموالی د هیوادونو اقتصادي وده، په ځانګړې توګه په پرمختیایي هیوادونو کې تحریکوي.(7)

مارټین ریپټي، پیټر سکاټ او ارسلن رزمي په کال (۲۰۱۱) میلادي، مارچ کې د (حقیقي د تبادلې نرخ او اقتصادي ودي) تر عنوان لاندي څېړنه کړې، چې د دوی د څېړني نتېجه هم دا ښیي، چې د تبادلې نرخ د کموالي (Devaluation) او اقتصادي ودي ترمنځ مثبته اړیکه شتون لري.(8)

نصیر کوټوال په خپل کتاب (اقتصادي درسونه) کې، چې په کال (۲۰۱۵) میلادي کې خپور شوی، لیکي: د بهرنیو اسعارو په وړاندې د پیسو د ارزښت لوړوالی د صادراتو د کموالي او وارداتو د زیاتوالي سبب ګرځي.(9)

کایلي وانګ او کریسټوفر بي بېرټ په کال (۱۹۹۸-۱۹۸۹) میلادي پورې (د صادراتو په حجم باندي د تبادلې نرخ د بدولون د تاثیراتو سنجش) عنوان لاندي څېړنه کړې وه، چې د دوی څېړنه دا ښیي

---

4 ) Conway, P., Drew, A., Hunt, B., & Scott, A. (1998). Exchange Rate Effects and Inflation Targeting in a Small Open Economy. *Reserve Bank of New Zealand Discussion Paper*, 20.

5 ) کوټوال، نصیر. (۱۳۹۴). اقتصادي درسونه. کابل، افغانستان: اکسوس کتابپلورنځی.

6 ) Rodrik, D. (2004). The Real Exchange Rate and Economic Growth. *Brookings Papers on Economic Activity*, 76.

7 ) F. Kennedy, J. (2007). The Real Exchange Rate and Economic Growth. 37.

8 ) Rapetti, M., Skott, P., & Razmi, A. (2011). The Real Exchange Rate and Economic Growth. *International Review of Applied Economics*, 19.

9 ) کوټوال، نصیر. (۱۳۹۴). اقتصادي درسونه. کابل، افغانستان: اکسوس کتابپلورنځی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي، د وارداتي هیوادونو صنعتي تولیدات او منتظره د تبادلې نرخ بدلون په ګډه سره د تجارت حجم متاثیره کوي.[10]

جینګوا زي، هینري ډبلیو کینوکن او اویستاین میرلنډ په کال (۲۰۰۳) میلادي، اپریل کې (د تبادلې نرخ تاثیرات د سمن (Salmon) ماهي د صارداتو په قیمت) عنوان لاندي څېړنه کړې وه، چې د دوی څېړنه دا ښیي چې د تبادلې نرخ بدلون د تجارت په حجم باندي تاثیر ګذاره دی.[11]

روبرټو فرینکیل او لېنس ټایلر په کال (۲۰۰۶) میلادي، فروري کې د (حقیقي تبادلې نرخ، پولي سیاست او استخدام) په نوم څېړنه ترسره کړې، چې د نوموړې څېړني څخه څرګندېږي چې د تبادلې نرخ د استخدام سره مستقیمه رابطه لري.[12]

ډېمیر او فیراټ په کال (۲۰۱۰) میلادي کې د (د تبادلې نرخ بدلون او د استخدام سطحي لوړوالی په پرمختیایي هیوادونو کې) عنوان لاندي څېړنه ترسره کړې. دوی په خپله څېړنه کې لیکي چې، د تبادلې نرخ لوړوالي سره د استخدام سطحه کې لوړوالی رامنځته کیږي.[13]

## ۳,۲ د څېړني خلا

پورته مو لدې څخه یادونه وکړه چې د تبادلې نرخ څه دی او په ملي اقتصاد باندي څه ډول اغېز لري؟؟ چې د نوموړي بحث څخه دا جوته شوه چې د تبادلي نرخ د لوی اقتصاد اساسي اهداف (انفلاسیون نرخ، اقتصادي وده، د استخدام سطحه او د تادیاتو بیلانس) تر تاثیر لاندي راولي.

په مختلیفو هیوادونو کې د دې اړوند څېړني ترسره شوې دي، چې د یو هیواد د پیسو ارزښت بدلون سره د هیواد په اقتصاد باندي څه تاثیرات لویږي، ولې دلته به مونږ د "د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ او په ملي اقتصاد یې اغېزې" تر عنوان لاندي څېړنه  کې په دې باندي خبري وکړو چې په تېرو نهه کلونو کې د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ په ارزښت کې بدلون څرنګه وه او د افغانستان په اقتصاد (انفلاسیون نرخ، اقتصادي وده، خارجي تجارت او وزګارتیا سطحه) باندي یې څه اغېزې درلودې؟

---

10 ) Wang, K.-L., & B.Barrett, C. (1998). Estimating the Effects of Exchange Rate Volatility on Export Volumes. *Journal of Agricultural and Resource Economics*, 31.

11 ) Xie, J., W. Kinnucan, H., & Myrland, O. (2003). The Effects of Exchange Rate on Export Prices of Farmed Salmon. *Marine Resource Economics*, 439.

12 ) Frenkel, R., & Taylor, L. (2006). Real Exchange Rate, Monetary Policy and Employment. *DESA*, 13.

13 ) Firat, D. (2010). Exchange Rate Volatility and Employment Growth in Developing Countries. *MPRA*, 47.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د څېړنې مېتودولوژي

### ۱. د څېړنې ډيزاين

عموما مونږ څېړنه او د څېړنې ډيزاين په کمي او کيفي سره ويشو، ولې د څېړنې ډولونه او ډيزاينونه په مختليف ډول کټاګوري کيږي. دا يوه کمي څېړنه ده، چې مالومات پکې د اعدادو او ارقامو په بڼه راټول شوي دي. د ماهيت له مخې خالصه يا نګه او هدف ته په کتو تشريحي څېړنه ده، ځکه چې د موضوع اړوند مالومات له مخکې څخه په بېلا بېلو سرچينو کې موجود او مونږ له دې عنوان لاندې راغونډ کړي دي.

دا چې زمونږ موضوع د تبادلې نرخ مربوط ده او د تبادلې نرخ او د هغه د بدلون له کبله اغېزمن کيدونکي فکټورونه ټول د اعدادو او اراقامو په بڼه ښودل کيږي، نو په همدې اساس مونږ د څېړنې ډيزاين کمي وټاکل، چې اړيکي ته په کتو بيا طولي څېړنيز ډيزاين ( Longitudinal Quantitative Research Design) دی، يعني د څو کلونو اعداد او ارقام پکې را غونډ شوي او د ډېټا رحجان پکې تحليل شوی دی. پلټنې ته په کتو سره غيري تجربوي څېړنيز ډيزاين او وخت ته په کتو سره (Retrospective Quantitative Research Design) دی، ځکه چې د تېر وخت اړوند مالومات پکې را اخيستل شوي دي.

### ۲. د مالوماتو د راټولولو مېتود

په ټوله کې مونږ دوه ډوله (لومړی لاس او دويم لاس) مالومات لرو. دا چې پدې څېړنه کې د وخت په وخت مالوماتو رحجان معلوم شوی، نو د داسې يو څېړنيز ډيزاين په لرلو سره مونږ له لومړي لاس ډېټا څخه هغه وخت استفاده کولای شو کله چې وخت ته په کتو سره زمونږ د موضوع څېړنيز ډيزاين (Prospective) وي، يعني د راتلونکې په اړه مالومات په کې راغونډيږي، ولې دا چې وخت ته په کتو سره د دې موضوع څېړنيز ډيزاين (Retrospective) دی، يعني د تېر وخت په هکله مالومات پکې راټوليږي، نو پدې صورت کې چې اړيکي ته په کتو سره زمونږ د څېړنې ډيزاين طولي (Longitudinal) او وخت ته په کتو سره (Retrospective) وي مونږ بايد له دويم لاس ډېټا څخه استفاده وکړو.(14)

پدې څېړنه کې مونږ له دويم لاس نشر شويو مالوماتو څخه استفاده کړې، چې له ( dab.gov.af, https://finance.yahoo.com ,www.saraishahzada.af، www.investing.com،

14 ) Kumar, Ranjit. (2011). Research Methodology. New Delhi: SAGE Publications Ltd.

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.nasia.gov.af، www.macrotrends.net، www.statista.com او د افغانستان د احصایيي مرکزي اداري لخوا نشر شويو احصايوي سالنامو څخه راخيستل شوي دي.

**۳. د مالوماتو تحليل**

د مالوماتو د تحليل لپاره مختليف سافتوېرونه او فارمولونه شتون لري، چي له جملي څخه يې يو هم مایکروسافټ ایکسیل دی، چې په مرسته يې احصايوي تحليل ترسره کولای شو. د تبادلي نرخ اړوند ډېټا د مقايسي او څرنګوالي سنجش لپاره د ایکسیل مختليف فارمولونه (Functions) او چارټونه استفاده شوي او همدارنګه د متحولونو ترمنځ د اړيکي په څرنګوالي پوهيدلو لپاره هم ایکسیل استفاده شوی دی.

## پایله (Result)

## د تبادلي نرخ پېژندنه

پول يا پيسي د اقتصادي سيستم او جريان يوه مهمه برخه ده، داسي چي د ټولو اقتصادي فعاليتونو، کاليو يا توکو او چوپړونو ارزښت د پيسي په وسيله ټاکل کيږي. که مو پيسه درنه او با ارزښته وي نو په ټوله کي به د پير غښتلي ځواک ولرو او د نورو توکي او خدمات به ارزانه رانيسو.(15) د هيوادونو تر مينځ د پيسو يا اسعارو واحدونه بېلا بېل دي، يعني ټول هيوادونه خپل خپل پولي واحدونه لري. د اوسني نړيوالتوب په لړ کي هيوادونه له اقتصادي اړخه يو د بل سره تړلي دي، په همدغه ترڅ کي هيوادونه يو له بل سره سوداګريزي اړيکي لري او خپل توليد شوي توکي او خدمات يو په بل پلوري. دا چي د هيوادونو پولي واحدونه سره توپير لري نو طبعي ده چي د دغه پير او پلور لپاره بايد خپل اسعار سره تبادله کړي، تر څو د هر هيواد په اړونده کرنسۍ د هغوی توکي او خدمات وپيري.

**۱. تعريف**

بېلا بېل اسعار چي په کوم نرخ يو د بل سره تبادله کيږي د اسعارو د تبادلي د نرخ په نوم يادېږي. په لنډ ډول، د تبادلي نرخ د بهرنيو اسعارو له مخي د يو هيواد د پيسو د قيمت څخه عبارت دی، يا د تبادلي نرخ هغه نرخ دی چي له مخي يې يو پولي واحد د کوم بل پولي واحد سره بدل يا تبادله کيږي.(16) د بيلګي په ډول د يو ډالر قيمت (۷۴) افغانۍ دی نو د افغانيو سره د يو ډالر د تبادلي نرخ (۷۴) افغانۍ

---

15 ) Krugman, Paul. Obstfeld, Maurice. (2003). International Economics. New York: Hugh Crawford.
16 ) کوټوال، نصير. (۱۳۹۴). اقتصادي درسونه. کابل، افغانستان: اکسوس کتابپلورنځی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او که د یوې افغانۍ د تبادلې نرخ په ډالرو سره پیدا کوو نو یو ډالر په (۷۴) افغانیو ویشو چې په دې صورت کې به د ډالرو له مخې د یوې افغانۍ قیمت یا د تبادلې نرخ (۰,۰۱۳۵۱۳۵) وي.

### ۲. د تبادلې نرخ ډولونه

دولتونه د نورو هیوادونو په مقابل کې د خپلو اسعارو د تبادلې لپاره د تبادلې د نرخ د لاندې ډولونو څخه استفاده کوي.[17]

### ۱,۲. د تبادلې بدلیدونکی یا ارتجاعي نرخ

د تبادلې بدلیدونکی نرخ په دې مانا چې د نورو کرنسیو په مقابل کې د ملي کرنسۍ د تبادلې د نرخ ټاکل د بهرنیو اسعارو بازار ته پریښودل کیږي تر څو هلته د عرضې او تقاضا د قواوو د برخورد په پایله کې نوموړی نرخ وټاکل شي.[18] دلته دولتونه د خپلو اسعارو د تبادلې د نرخ د بدلون او یا په هغه کې د تغیر راوستلو سره کومه دلچسپي نه لري او د بازار له لوري ټاکل شوی نرخ د خپل ځان او د نړیوال تجارت په خیر او ګټه ګڼي او په کومو حالاتو کې چې دغه چاره د یو هیواد په ګټه نه وي او یا په بهرنۍ سوداګرۍ کې د نا انډولۍ لامل کیږي نو بیا نوموړې هیوادونه د ګمرکي تعرفو، سهیمو او د نورو پالیسیو په عملي کولو سره دغه ستونزه حلوي. د تبادلې د ارتجاعي یا بدلیدونکي نرخ د حمایت په اړه د علماوو نظریات په لاندې ډول دي:[19]

- د تبادلې د ارتجاعي نرخ پلویان وائي چې دغه ډول نرخ یو هیواد د دې جوګه ګرځوي ترڅود یوې خپلواکه اقتصادي پالیسي څخه استفاده وکړي. په دې صورت کې د یو هیواد پولي پالیسي د تبادلې د مشخص نرخ پورې نه ده تړل شوې، ځکه که د تبادلې لپاره د دولت له خوا یو مشخص نرخ ټاکل کیده نو د خپلو پیسو د ارزښت د لوړوالي لپاره به یې د تبادلې نرخ په خپله تغیراوه او په دې سره به هیواد په بحران کې ډوب شوی وو او هم به بې روزګاري زیاته شوې وه، ځکه د پیسو د ارزښت په لوړوالي سره به زمونږ اجناس د خارجي هیوادونو لپاره په لوړه بیه تمامیدل نو په نتیجه کې به یې زمونږ صادرات کمیدل او د هیواد په داخل کې به د تولیداتو د عدم تشویق سبب ګرځیده او بالاخره به تولیدي فعالیتونه په ټپه ولاړ وو چې په نتیجه کې به یې بې روزګاري هم زیاته شوې وه.
- د تبادلې نرخ د تادیاتو په بیلانس باندې د یو تعادلي فکتور په حیث تاثیرکوي نو په دې خاطر باید آزاد پریښودل شي.

---

17 ) کوټوال، نصیر. (۱۳۹۴). اقتصادي درسونه. کابل، افغانستان: اکسوس کتابپلورنځی.
18 ) Krugman, Paul. Obstfeld, Maurice. (2003). International Economics. New York: Hugh Crawford.
19 ) http://millifikar.blogspot.com/2019/06/1-fixed-exchange-rate-vs-flexible.html?m=1

(c) ketabton.com: The Digital Library

- که د تبادلې نرخ په ټینګه سره ثابت وساتل شي نو د یو هیواد داخلي اقتصادي سیستم ته به د خارج څخه د انفلاسیون او ډیفلاسیون خطرات متوجه شي؛ اما، د تبادلې په نرخ کې تغیرات او نوسانات د انفلاسیون او ډیفلاسیون د مداخلې مخنیوی کوي.
- ځینې وخت دا سوال هم پیداکیږي چې د عرضې او تقاضا فورمول د اقتصاد په هره ساحه کې په ښه ډول سره کارکوي نو د تبادلې په نرخ کې یې ولې ونه کړي. په دې اساس به دا ښه وي چې د تبادلې نرخ آزاد پریښودل شي ترڅو د عرضې او تقاضا په اساس وټاکل شي.
- د تبادلې په نرخ کې نوسانات په نړیوال تجارت کې هیڅ ډول زیان نه رامینځته کوي، ځکه چې صادرونکي او واردونکي دواړه هیوادونه د دې قابل دي چې د خپلې پوهې او ځیرکتیا په اساس په راتلونکي کې د تبادلې په نرخونوکې نوسانات پیش بیني کړي او د هغې د خطراتو څخه د مخنیوي په خاطر په راتلونکي نرخ (Forward Rate) سره معاملات تر سره کړي، البته ثابت نرخونه په نړیوال تجارت کې سوداګرو ته دغه سهولت نه تهیه کوي.

د تبادلې بدلیدونکی نرخ یو شمیر ګټې او زیانونه لري چې په لاندې ډول، په ترتیب سره لومړی له ګټو او بیا زیانونو څخه یادونه کوو:[20]

- د بهرنیو اسعارو ذخیرې ته د اړتیا نشتون: د پولي نظام تنظیموونکي چارواکي د خپلو پیسو د نرخ د ثابت ساتلو لپاره د بهرنیو اسعارو زیرمو ته اړتیا نه لري. که چیرته په هیواد کې ثابت د تبادلې نرخ رایج وي، نو هیواد د تبادلې نرخ د ثبات لپاره د بهرنیو اسعارو زیرمو ساتلو ته اړتیا پیدا کوي ترڅو د ملي پیسو د ارزښت د کموالي په صورت کې د اسعارو په بازار کې ملي پیسې ورباندې وپیري او له دې طریقه د ملي پیسو ارزښت تر مطلوبې سطحې لوړ کړي.
- د پولي نظام تنظیمونکو چاروکو د اختیار زیاتوالی: د پولي نظام تنظیمونکي چارواکي په اړونده چارو کې خپلواک دي چې څه ډول د پیسو د تنظیم پالیسي ګانې جوړې او عملي کړي.
- آزاد نړیوال تجارت: د تبادلې د نرخ نوموړی سیستم بهرنۍ آزادې سوداګرۍ ته لار هواروي او د همدغه سیستم له لارې په بازار کې د یوې کرنسۍ کمبود او یا هم ډیروالی د بازار د قوانینو له مخې په خپلسرې ډول له مینځه ځي او نوموړې ستونزه حل کیږي.

د پورته یادو شوو ګټو تر څنګ د تبادلې نوموړی سیستم ځینې زیانونه هم لري، چې په لاندې توګه ورڅخه یادونه کوو.

20 ) https://rohi.af/news/38465

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د تبادلې بدلېدونکي يا متغير نرخ د کرنسۍ د نرخ د غورځېدلو او لوړېدلو له امله د سوداګرو او کاروباريانو راتلونکي ګټه له ګواښ سره مخامخ کوي. دغه چاره سوداګر زړه ماتی کوي، له کاروبار او بهرنۍ سوداګرۍ لاس اخلي او له امله يې د بهرنۍ سوداګرۍ حجم کمېږي. کله چې د کرنسۍ د تبادلې په نرخ کې نوسانات زيات وي، نو دغه کار هغه صنعتونه هم زيانمنوي چې نورو هيوادونو ته خپل توليدات صادروي. ولې، د ملي پيسو د ارزښت لوړوالی په دې مانا ده چې په نړيوال بازار کې د مطلوب هيواد د توليداتو ارزښت لوړېږي، او د اجناسو د قيمت په لوړوالي سره به همدې توليداتو ته تقاضا کمه شي، نو په نتيجه کې به د صادراتو له طريقه تصديو ته لږ عايد راځي. ولې، چې د محصولاتو د قيمت د لوړوالي له کبله به يې په نړيوال بازار کې محصولات کم اخيستل کيږي او دې سره به د تصدۍ ګټې زيانمنې شي.

د بېلګې په توګه، په دې وروستيو کې د ډالر او ځينو نورو خارجي اسعارو په مقابل کې په بيساري ډول د افغانۍ نرخ را پرېوتی. مرکزي بانک چې د افغانۍ د ثبات لپاره کومې لارې چارې په کار اچوي د بهرنيو اسعارو په ځانګړي ډول د ډالر په مقابل کې د افغانۍ په ثبات کې اغيزمنې نه دي ثابتې شوي. مرکزي بانک د اسعارو د تبادلې بازار له لارې بازار ته ډالر وړاندې کوي او په وسيله يې د بازار څخه افغانۍ رانيسي، دا چاره د ډيرې لنډې مودې لپاره د ډالر په مقابل کې د افغانۍ راښکته کيدونکی ارزښت ثابت ساتي خو وروسته بيا چې کله مرکزي بانک هره ورځ بازار ته ډالر پمپ نه کړي د افغانۍ ارزښت په چټکۍ سره رالويږي. دلته ستونزه په دې کې ده چې د مرکزي بانک له لورې د اسعارو بازار ته پمپ شوي ډالر په ډيرې تيزۍ سره له دوران څخه وځي، ځکه دلته ټول وګړي د راتلونکو زيانونو له امله چې د افغانۍ د ارزښت د رالويدو له امله يې محسوسوي خپلې شته افغانۍ ډالرو ته بدلوي، نوموړي ډالر بيا بيرته په اقتصادي دوران کې نه اچول کيږي او د وګړو له لورې بهر ته ليږدول کيږي.[21]

### ۲,۲. د تبادلې ثابت نرخ

د تبادلې ثابت نرخ په دې مانا چې د خارجي اسعارو سره د کورنيو پيسو د تبادلې لپاره يو ثابت نرخ ټاکل کيږي.[22] د بېلګې په ډول د افغانيو سره د يو ډالر د تبادلې نرخ د (۵۲ او ۵۶) افغانيو تر مينځ ټاکل کيږي. کله چې د افغانيو او ډالرو د تبادلې نرخ د دغه ټاکل شوي حدودو څخه کم او يا زياتيږي

21 ) https://rohi.af/news/38465
22 ) USI Publications. (2012). Macro Economics. New Delhi: USI Publications.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو چارواکي د بيلابيلو لارو څخه د دغه کار مخنيوی کوي او د تبادلې نرخ بيرته خپل اصلي حالت ته راولي.

د تبادلې د ارتجاعي نرخ په اړه چې کوم نقاط پورته ذکر شول هغه د تبادلې ارتجاعي نرخ ته قوت وربښي، اما د لاندې وجوهاتو پر بنسټ د تبادلې ارتجاعي نرخ تقريباً تر زياته حده ناکټور او د تبادلې ثابت نرخ ګټور ګڼل شوی دی.(23)

- ځرنګه چې د تبادلې د نرخ نوسانات په وارداتو او صادراتو باندې تاثير غورځوي، نودغه ډول نرخونه چې هميشه د تغيراتوسره مخامخ وي د يو هيواد د داخلي ثبات او استقامت لپاره ګواښ ګرځي او دا به د دې سبب شي چې د وارداتي صنايعو ترمنځ به په دوامداره ډول سره ملي منابع له يو ځخه بل ته انتقال مومي چې دغه ډول کړنه به نه يوازې دا چې داخلي اقتصادي وضعه بې ثباته کړي بلکې دغه منابع به هم ورسره ضايع شي.
- د ثابت نرخ پلويان په دې عقيده دي چې د تبادلې په نرخ کې نوسانات نړيوال تجارت له خطر سره مخامخ کوي او په صادرونکو او واردونکو سوداګرو کې د عدم اطمينان او شک روحيه پيداکوي. په داسې حال کې چې د ثابت نرخ په صورت کې صادرونکي او واردونکي دواړه بنه پراعتماده وي، دا ځکه چې دوي په دې عقيده لري چې د تبادلې موجوده نرخ به په راتلونکي کې هم په خپل حال پاتې کيږي.
- د تبادلې د ارتجاعي نرخ په موجوديت کې په خارجي اسعاروکې اکثره وختونه په پيشکي ډول سره معاملات تر سره کيږي کوم چې په خپله د تبادلې په نرخ کې ثبات له منځه وړي، نو په دې اساس که سوداګر په دې باندې پوه شي چې د تبادلې په نرخ کې کموالي رامنځته کيدونکي دی نو دوي خپله پانګه او سرمايه نورو هيوادونو ته انتقالوي. همدارنګه د ارتجاعي نرخونو په صورت کې زياتره خلک د احتکار څخه استفاده کوي چې دا هم په مارکيټ کې ځيني وخت د اسعارو د زياتوالي او په ځيني وخت کې د اسعارو د کموالي سبب ګرځي. د ثابت نرخ په صورت کې دغه ډول ستونزې نه رامنځته کيږي.
- د ارتجاعي نرخونو موجوديت په پراخه پيمانه د ګټې او هم د تاوان سبب ګرځي. سوداګر د تبادلې په نرخونو کې د ناڅاپي تغيراتو څخه د ګټې اخيستنې په منظور بايد له ځان سره په نغده ډول ډيرې پيسې ولري تر څو اسعار پرې خريداري کړي، چې په دې صورت کې به د سوداګرو سره په نغده ډول زياتې پيسې موجودې وي او په نتيجه کې به يې د پورونو په ورکړه کې کموالي (Contraction of Credit)، د سود په نرخ کې زياتوالي او د استخدام په کچه کې به

23 ) http://millifikar.blogspot.com/2019/06/1-fixed-exchange-rate-vs-flexible.html?m=1

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم کموالي رامنځته شي. د ثابت نرخ په موجودیت کې د دغه ډول ستونزو مخنیوی کیدلای شي.

- د تبادلې په نرخ کې ارتجاعیت او نوسانات په یو هیواد کې د نورو هیوادونو د پانګه اچوونکو له خوا د اوږد مهاله پانګه اچونې د عدم تشویق سبب ګرځي، ځکه چې هر هغه عامل چې په داخلي اقتصاد باندې تاثیر ګذاره وي او د رکود حالت ته یې بیایي د پانګه اچوونکو د عدم تشویق سبب ګرځي، پداسې حال کې چې د تبادلې ثابت نرخ د خارجیانو له خوا د اوږد مهاله پانګه اچونې د تشویق سبب ګرځي.

د تبادلې ثابت نرخ هم یو لړ ګټې او زیانونه لري چې په لاندې ډول ورڅخه یادونه کوو:[24]

- د انفلاسیون مخنیوی: ښکاره خبره ده چې انفلاسیون د پیسو د تبادلې د نرخ د بې ثباتۍ سره نېغه اړیکه لري، نو کله چې د کرنسۍ لپاره د تبادلې ثابت نرخ وټاکل شي په پایله کې یې د انفلاسیون یا د پیسو د پرسوب مخه نیول کیږي. له دې پرته د تبادلې د بدلیدونکي نرخ په حالت کې ممکن ډیرې وختونه د اسعارو د تبادلې نرخ د ټاکل شوي حد څخه ښکته شي چې دا چاره د پیسو پرسوب ته هم لاره هواروي.
- اطمینان او د پانګونې زیاتوالی: د تبادلې ثابت نرخ د اسعارو اړوند د سوداګرو او نورو وګړو د راتلونکي احتمالي زیانونو په هکله ویره له مینځه وړي چې په دې صورت کې هغوی په بهرنیو تادیاتو کې له کومې ویرې پرته په ډاډه زړه خپل هر ډول کاروبار پر مخ وړلای شي ځکه هغوی د خپلې کورنۍ کرنسۍ د تبادلې د نرخ د ثابتوالي له امله ډاډه او مطمین وي، اوله بله اړخه دغه چاره د نړیوالې سوداګرۍ په پرمختګ کې هم اغیزمنه ثابتیږي. د تبادلې ثابت نرخ د راتلونکي ډاډمنتیا له امله په یو هیواد کې د پانګونې د زیاتوالي سره هم مرسته کوي، کاروباریان د همدغه ډاډ پر بنسټ په یو هیواد کې پانګونه کوي، دغه پانګونې د کورنۍ اړتیا تر څنګ د صادراتو په موخه هم توکي تولیدوي، اوس که چیرته د تبادلې نرخ ثابت نه وي او د بیلګې په ډول د کورنۍ کرنسۍ ارزښت د بهرنیو اسعارو په وړاندې لوړ شي نو په دې صورت کې به د یو هیواد صادراتي توکي د نورو هیوادونو د وګړو لپاره ګران تمامیږي او د نړیوال بازار په سیالۍ کې به وروسته پاتې کیږي.

د پورتنیو ګټو سربیره د تبادلې ثابت نرخ هم یو لړ زیانونه لري چې عبارت دي له[25]

24 ) http://rohi.af/news/38465
25 ) Krugman, Paul. Obstfeld, Maurice. (2003). International Economics. New York: Hugh Crawford.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د تبادلې د ناسم نرخ ټاکل: که د تبادلې لپاره ثابت نرخ په پوره پاملرنې سره و نه ټاکل شي نو دا کار ډېرې ستونزې زیږوي. د بېلګې په ډول، کله چې د تبادلې نرخ ډېر زیات لوړ وي نو دا چاره د صادراتو د قیمت د زیاتوالي له لارې یو هیواد ته زیان رسوي، دا چاره په خپل وار سره د یو هیواد د اقتصادي ودې او پرمختګ بهیر له ځنډ او خنډ سره مخ کوي ځکه صادرات هم د مجموعي تقاضا د یوې برخې په توګه په اقتصادي پرمختګ کې لوی رول لري.
- د نرخ د ثابت ساتلو ستونزه: په مناسبه کچه د تبادلې د نرخ ساتل څه نا څه ستونزمن کار دی. کله چې په بازار کې د تبادلې نرخ د ټاکلې حد څخه ښکته کیږي نو دولت مجبور دی چې په بازار کې مداخله وکړي او د تبادلې نرخ بیرته مطلوب حالت ته لوړ کړي. په دې موخه لکه زمونږ د هیواد په څیر ډیری هیوادونه د بهرنیو اسعارو زیرمې بازار ته عرضه کوي او په بدل کې یې خپله کورنۍ کرنسۍ رانیسي. دا چاره د بهرنیو اسعارو د زیرمو د کموالي له امله لا ډیرې ستونزې رامینځته کوي.

د پورتني بحث څخه دا خبره په ډاګه شوه چې نه ثابت نرخونه او نه هم ارتجاعي نرخونه مونږ د هدف په لوري رهنمایي کوي، او داسې هم نه شي کیدلای چې د تبادلې یو نرخ په دوامداره ډول سره باقي پاتې شي. که له یوې خوا څخه د تادیاتو په بیلانس کې د (Debit او Credit) اړخونو تر منځ د موجود توپیر د له منځه وړلو لپاره د تبادلې د نرخ تغیرول یو مناسب کار نه دی نو له بلې خوا د هیواد په داخل او یا خارج کې په نورو عواملو کې د سترو تغیراتو په موجودیت کې ثابت نرخ ساتل هم ګټه نه لري.[26]

په دغسې حالاتوکې عمومي ګټه په دې کې ده چې په ځینو وختونو کې د حالاتو او شرایطو مطابق د اسعارو په ارزښت کې یو څه تغیر رامنځته شي تر څو په مختلفو هیوادونو کې د اسعارو په نرخونو کې او هم د قیمتونو په سطحه کې د امکان ترحده د عدم تعادل مخنیوې وشي. همدغه وجه ده چې د نړیوال وجهي صندوق (International Monetary Fund) له خوا ټولو هیوادونو ته تر یوې ټاکلې اندازې پورې د اسعارو په ارزښت کې د تغیراتو اجازه ورکړل شوې ده.

داچې ثابت نرخونه امکان پذیره (Feasible) نه دي او ارتجاعي نرخونه په زیاتو هیوادونوکې د منلو وړ نه دي، نو نړۍ د داسې یو سیستم په لور روانه ده په کوم کې چې به د تبادلې نرخ تر یوې ټاکلې اندازې پورې نوسان کوي. مثلاً په کال کې یو یا دوه فیصده چې په یوه لسیزه کې لس یا شل فیصد ته رسیږي.

26 ) Krugman, Paul. Obstfeld, Maurice. (2003). International Economics. New York: Hugh Crawford.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۳,۲. د تبادلې ګډ یا مشترک نرخ

د تبادلې دا ډول نرخ د ثابت او بدلیدونکي نرخ ګډوله ده چې د تبادلې کنټرول شوی نرخ هم ورته وایي. د نومورې نرخ له مخې د اسعارو د تبادلې نرخ د عرضې او تقاضا له مخې ازاد پرېښودل کیږي خو د اړتیا پر مهال پکې د دولت له لوري مداخله کیږي او د کورنۍ کرنسۍ د تبادلې نرخ د بازار د عملیاتو له لارې مطلوبې کچې ته راوړل کیږي. نن سبا د نړۍ ډیری هیوادونه په خپلو اقتصادي پالیسیو کې د تبادلې د همدغه نرخ څخه کار اخلي ځکه د هغوی په آند تر ډیره بریده د بازار ځواکونو ته د اقتصادي چارو پرېښودل د یوې ټولنې په ګټه وي خو کله چې دا چاره د یوې ټولنې په زیان تمامیږي او د تبادلې نرخ ډیر لوړ او یا هم ډیر زیات ټیټیږي نو بیا چارواکي د نومورې کار د مخنیوي په موخه د تبادلې د نرخ د کابو کولو لپاره بېلابېل ګامونه اخلي.[27]

اقتصاد پوهانو د تبادلې د نرخ د دغه ټولو ډولونو ښېګنې او زیانونه په ګوته کړي دي. د تبادلې ثابت نرخ د اسعارو اړوند د سوداګرو او نورو وګړو د راتلونکي احتمالي زیانونو په هکله ویره له منځه وړي چې په دې صورت کې هغوی په بهرنیو تادیاتو کې له کومې ویرې پرته په ډاډه زړه خپل هر ډول کاروبار پر مخ وړلای شي او له بله اړخه دغه چاره د نړیوالې سوداګرۍ په پرمختګ کې هم اغیزمنه ثابتیږي. د تبادلې پر ثابت نرخ د ځینو نیوکه دا ده چې نوموړی سیستم زوړ او پخوانی دی چې له امله یې شاید د یو هیواد د کرنسۍ ارزښت له خپل اصلي ارزښت او یا له هغه ارزښت څخه چې په ازاد بازار کې ورته ټاکل کیږي کم او یا هم زیات وټاکل شي، چې په دې صورت کې د یو هیواد په اقتصاد او د تادیاتو په بیلانس کې نا انډولي رامینځته کیږي او دغه نا انډولي بیا د یوې ټولنې په خیر او ګټه نه وي.

## د تبادلې نرخ کموالی (Devaluation)

اوریدلي به مو وي چې ځینې هیوادونه په لوی لاس د خارجي اسعارو په مقابل کې د خپلو پیسو ارزښت را ښکته کوي؛ دغې چارې ته چې دولتونه په شعوري توګه او د ځانګړو پولي پالیسیو په وسیله په یو ثابت نرخ سره د نورو اسعارو په مقابل کې د خپلې کرنسۍ د تبادلې نرخ راکموي (Devaluation) وایي. هغه حالت ته چې د دولت د کومې ځانګړې پالیسۍ پرته د مارکیټ د ځواکونو (عرضې او تقاضا) په وسیله د خارجي اسعارو په مقابل کې د یوې کرنسۍ ارزښت رالویږي (Depreciation) ورته وایي.[28] نوموړې دواړه حالتونه د بهرني اسعارو په مقابل کې د کورنۍ کرنسۍ بې ارزښته کیدل ښیي

---

27 ) کوټوال، نصیر. (۱۳۹۴). اقتصادي درسونه. کابل، افغانستان: اکسوس کتابپلورنځی.
28 ) https://www.tolafghan.com/articles/19988

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو لومړنی حالت یې په شعوري او د ځانګړو ګټو په موخه رامینځ ته کیږي او دویم یې په نا مطلوب ډول د بازار د قواوو د کړنو او برخورد پایله وي چې مرکزي بانک یې د بېلا بېلو لارو چارو په کار اچولو سره مخنیوی کوي. له تاسو سره به هم پوښتنه پیدا شوې وي چې له بهرنیو پیسو څخه د کورنیو پیسو د ارزښت کمول خو نا معقول کار دی او څومره چې شونتیا ولري باید د کورنیو پیسو کم واحدونه هیواد ته د ډیرو بهرنیو پیسو د راوړلو وړتیا ولري نو بیا دولتونه ولې په داسي یو عمل لاس پوري کوي؟ ستاسو د پوښتنې د ځواب لپاره دلته د پیسو د ارزښت د کمولو د ګټو او زیانونو دواړو څخه په لنډ ډول یادونه کوو. د تبادلې نرخ د کموالي ګټې عبارت دي له:[29]

د (Devaluation) په وسیله د یو هیواد د صادراتو قیمت رالویږي دا چاره د کورني تولید لپاره د بهرنیو وګړو تقاضا را جذبوي او صادرات ورسره لا زیات پراخیږي خو دا په هغه صورت کې چې یو هیواد په کور دننه په پراخه پیمانه تولید ولري او په ډیرو اړتیاوو کې پر ځان د بسیا والي تر څنګ د توکو او خدماتو د صادرولو ځواک هم ولري. طبعي ده چې د صادراتو نوموړې پراختیا به د تادیاتو د بیلانس د کسر په له مینځه وړلو کې ستره ونډه ولري. همدارنګه د صادراتو لوړه کچه به مجموعي تقاضا زیاته او چټک اقتصادي پرمختګ ته به لار هواره کړي.

همداشان د تبادلې نرخ کموالی یو شمېر زیانونه هم لري، چې په لاندې توګه ورڅخه یادونه کوو[30]

د پیسو د ارزښت راکمول د بېلا بېلو لاملونو له امله پرسوب یا انفلاسیون ته لار هواروي. واردات به په کورنۍ کرنسۍ سره ډیرې لوړې بیې ولري ځکه د بیرون څخه وارداتي توکي په بهرنیو اسعارو پیرودل شوي وي او د کورنیو اسعارو د ارزښت د کموالي له امله به دغه توکي په کور دننه ډیر لوړ قیمتونه ولري. همدارنګه د مجموعي تقاضا زیاتوالی هم پرسوب یا انفلاسیون ته لار هواروي ځکه د انفلاسیون د لاملونو څخه یو هم د زیاتې شوې تقاضا له امله رامینځ ته کیدونکی انفلاسیون دی چې (Demand pull Inflation) ورته وایي. له بله اړخه (Devaluation) د یو هیواد د وګړو د پیر ځواک کموي، په ځانګړي ډول کله چې بهرني هیوادونو ته د کوم کار او یا چکر لپاره ځي. د یو هیواد د پیسو چټک بې ارزښته کیدل په نوموړي هیواد کې د پانګونې لپاره بهرني پانګوال دوه زړي کوي ځکه دا چاره د وخت په تیریدو سره د هغوی د شتمنیو ارزښت را کموي. ځیني اقتصاد پوهان د تجربو پر بنسټ ادعا کوي چې د اقتصادي رکود په حالت کې (Devaluation) په اقتصادي پرمختګ او غوړیدا کې اغیزمن ثابتیدای شي او د انفلاسیون د رامینځ ته کیدو لامل نه کیږي، خو د اقتصادي

29 ) https://www.tolafghan.com/articles/19988
30 ) Krugman, Paul. Obstfeld, Maurice. (2003). International Economics. New York: Hugh Crawford.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوکالۍ او عروج پر وخت د نومورې پالیسۍ عملي کول د انفلاسیون په زیاتوالي کې ستر رول لرلای شي.

په هر صورت د پیسو د ارزښت د راکمولو پالیسي باید په بشپړې پاملرنې او احتیاط سره تر لاس لاندې ونیول شي، دا چاره به هغه وخت ګټورتوب ولري کله چې د یو هیواد کرنسۍ د تبادلې نرخ د نړۍ ډیرې مهمو پیژندل شوو هیوادونو د کرنسیانو څخه لوړ وي په دې صورت کې به مطلوبو موخو یعنې د سوداګرۍ د بیلانس توازن او د صادراتو زیاتوالي ته لار هواره شي. له بله اړخه د اقتصادي پرمختګ او د صادراتو د زیاتوالي په موخه د نومورې پالیسۍ عملي کول شاید په دې اړوند د هیوادونو تر مینځ سیالي رامینځ ته کړي او ډیرې هیوادونه په متقابل ډول د خپلو پیسو ارزښتونه د نورو اسعارو په مقابل کې راکم کړي چې د یو هیواد د (Devaluation) په پالیسۍ به منفي اغیز ولري او پایلې یې شاید سرچپه را وخیژي.

## ډالرایزیشن (Dollarization)

مخکې مو وویل چې ډیرې هیوادونه په راکړه ورکړه کې له خپلو ځانګړو کرنسیانو څخه کار اخلي، خو د دې تر څنګ ځینې داسې هیوادونه هم شته چې د یو بل هیواد کرنسي د خپلې چلښت وړ کرنسۍ په توګه مني او یا هم یو څو هیوادونه سره یو ځای کیږي او په ګډه سره د یوې کرنسۍ څخه استفاده کوي. دا چې یو هیواد په خپلو کورنیو او بهرنیو راکړو ورکړو کې د یو بل هیواد غښتلې او ټول منلې کرنسي کاروي د ډالرایزیشن (Dollarization) په نوم یادیږي. له بله اړخه کله چې یو څو هیوادونه په ګډه سره په خپلو منځونو کې د یوې ځانګړې کرنسۍ په چلند موافقه کوي د اسعاري اتحادیې یا (Currency Union) په نوم یادیږي چې ښه بیلګه یې د ځینو اروپایې هیوادونو تر مینځ د یورو پر شریکې کرنسۍ توافق دی[31] چې وروسته به پرې خبرې وکړو.

ډالرایزیشن ډیرې وختونه په مخ پر ودې او هغه هیوادونو کې چې بشپړه ازادي و نه لري او یا هم تازه خپلواکه شوې وي صورت نیسي. غیر رسمي ډالرایزیشن خو نژدې د نړۍ په هر هیواد کې شتون لري. غیر رسمي ډالرایزیشن په دې مانا چې د یو هیواد د کورنۍ کرنسۍ د چاپ او چلښت تر څنګ ځینې راکړې ورکړې په بهرنیو اسعارو تر سره کیږي. رسمي ډالرایزیشن بیا هغه حالت ته ویل کیږي کله چې بهرنۍ کرنسي په رسمي ډول د یو هیواد د قانوني کرنسۍ په توګه ومنل شي او ټولې راکړې ورکړې لکه د قرضونو او مزدونو تادیه، خرڅلاو، مالیه او نور ټول تادیات د همدغه بیروني کرنسۍ په وسیله تر سره شي. دا په یاد لرئ چې د ډالرایزیشن څخه وروسته خپلې کورنۍ کرنسي ته بیرته

31 ) کوټوال، نصیر. (۱۳۹۴). اقتصادي درسونه. کابل، افغانستان: اکسوس کتابپلورنځی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګرځېدل یا د هغې بیا رواجول ستونزمن کار دی؛ له همدې امله ډېری هیوادونه دغه کار ته زړه نه ښه کوي. ډالرایزیشن ګټې او زیانونه دواړه لري چې دلته یې د هر یو څخه یادونه کوو. د ډالرایزېشن ګټې او زیانونه په لاندې ډول دي:[32]

نوې کرنسي د اقتصادي ثبات سره مرسته کوي او د اقتصادي ثبات په پایله کې بهرنۍ پانګونه را جذبیږي. د خپلې کرنسۍ په توګه د یوې بهرنۍ منل شوې کرنسۍ ټاکل د انفلاسیون مخنیوي کوي، همدارنګه د تبادلې لګښتونه او د (Devaluation) زیانونه له مینځه ځي. همداشان د ډالرایزېشن زیانونه عبارت دي له:

د ډالرایزیشن یا د خپلې کرنسۍ د نه شتون په حالت کې په یو هیواد کې د مرکزي بانک اړتیا نه وي، کله چې مرکزي بانک شتون ونه لري نو طبعي ده چې هلته به ځانګړې پولي پالیسي ګاني هم و نه اوسي تر څو د اړتیا پر وخت له اقتصادي نظم سره مرسته وکړي. په دې صورت کې به یو هیواد د اسعارو د حق الضرب یا (Seignior Age) له ګټې محروم وي. حق الضرب د یوې کرنسۍ د ارزښت او د هغه په نشر باندې د راغلي لګښت تر مینځ تفاوت ته ویل کیږي، که نوموړی تفاوت مثبت وي نو دا د یو هیواد د اقتصاد په ګټه او که منفي وي نو په زیان یې تماميږي. که دغه توپیر مثبت وي نو ورڅخه لاس ته راغلی عاید یې دولتونه د خپلو بیلابیلو لګښتونو د تمویل په موخه کاروي، د بیلګې په ډول که د سلو افغانیو د یو نوټ پر چاپ او نشر پنځه افغانۍ لګښت راځي نو حق الضرب ( Seignior age) یې له (۹۵) څخه عبارت دی. د بهرنۍ کرنسۍ د چلښت په صورت کې د حق الضرب نوموړې ګټه هم بهرني هیواد ته رسیږي. د دې تر څنګ په بهرنۍ کرنسۍ پورې تړلتیا د ژوند په ټولو چارو کې یو هیواد د پردیو پورې تړي او د خپلې کرنسۍ د نه شتون په صورت کې وګړي د محرومۍ او د خپلې بې هویتۍ احساس کوي.

په لومړي ځل د پاناما هیواد په (۱۹۰۴) زیږدیز کال کې امریکایي ډالر د خپلې کرنسۍ په ډول وټاکه، دا چاره د پانامې هیواد د اقتصاد په غوړېدا او پرمختګ تمامه شوه. کله چې ایکوادور له سخت اقتصادي بحران او انفلاسیون سره مخ شو نو نوموړي هیواد هم په دوه زرم زیږدیز کال کې امریکایي ډالر د خپلې کرنسۍ په توګه ومنلو چې دغه کار د نوموړي هیواد د اقتصادي ښه والي سره څه نا څه مرسته وکړه. دا چې د السلوادور هیواد ټولې راکړې ورکړې د امریکا د متحده ایالاتو سره تر سره کیدې او د السلوادور هغه کارګر چې د امریکا په متحده ایالاتو کې په کار بوخت وو خپل مزدونه په ډالرو اخیستل ځکه خو نوموړي هیواد هم په (۲۰۰۱) میلادي کال کې ډالر د خپل کرنسۍ په حیث ومانه.

32 ) کوټوال، نصیر. (۱۳۹۴). اقتصادي درسونه. کابل، افغانستان: اکسوس کتابپلورنځی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخکې مو وویل چې د ډالرایزیشن پروسه ډېرى وختونه په هغه هیوادونو کې چې نوې خپلواک شوي وي عملي کیږي ځکه چې نوموړې هیوادونه تر خپلواک کیدو وروسته سمدلاسه او په بیړني ډول خپله کرنسي نشي رامینځ ته کولای او د دغه ستونزې د حل په موخه باید د یو بهرني هیواد د کرنسی څخه استفاده وکړي. د نوموړو هیوادونو شه بیلګه ختیځ تیمور دی چې تر اوږدې مبارزې وروسته یې په (۲۰۰۲) میلادي کال کې د اندونیزیا څخه خپلواکي واخیستله. ختیځ تیمور په دې موخه چې بهرنی پولي مرستې او پانګونه په اسانی سره را جلب کړي ډالر د خپلې کرنسی په توګه وټاکلو. په (۲۰۰۹) میلادي کال کې کله چې زمبابیا د نړۍ په بدترین انفلاسیون اخته وه نو د دغه ناورین څخه د راوتلو لپاره یې خپله کرنسي یعنې زمبابوي ډالر ختم کړو او پر ځای یې امریکایي ډالر، انګلیسي پونډ، د جنوبي افریقا رینډ او نور د خپلې کرنسی په توګه وټاکل تر څو په وسیله یې انفلاسیوني بحران ختم او تر هغه وروسته بیرته خپله کرنسي په دوران کې واچوي.

د ډالرایزیشن په لړ کې ډیرى هیوادونه د امریکایي ډالر پرته د ځینو نورو هیوادونو کرنسیانې هم کاروي د بیلګې په ډول د پسیفیک درې کوچني هیوادونه کیریباتی، ټیوالو او نیرو د آسترالیایي ډالر څخه، نیمیبیا، سوازیلینډ او لوسوتو د خپلو رسمي کرنسیانو تر څنګ د جنوبی افریقا د رینډ څخه استفاده کوي. همدارنګه هندي روپۍ په بوتان او نیپال کې په پراخه پیمانه د چلښت وړ دي.

### اسعاري اتحادیه (Currency Union)

د هیوادونو تر مینځ د کرنسۍ د یو والي بله بڼه ګډه کرنسي یا (Currency Union) دی. ګډه کرنسي یا اسعاري اتحادیه د څو هیوادونو ټولګه وي چې په ګډه سره په خپلو منځونو کې د راکړې ورکړې لپاره مشترکه کرنسي کاروي.[33] د کرنسۍ د دا ډول یو والي موخه او ګټه دا ده چې د هیوادونو تر مینځ د اسعارو د بدلولو اړتیا له مینځه وړي او د اقتصادي نزدیوالي او انضمام (Economic Integration) سره مرسته کوي. د مشترکې کرنسۍ لرونکو هیوادونو تر مینځ سوداګریزې چارې په اسانۍ سره پر مخ وړل کیږي دا ځکه چې د هغوی د راکړو ورکړو او معاملاتو ارزښت د یوې مشترکې کرنسۍ په وسیله قیمت ګذاري کیږي. د اسعاري اتحادیو څخه تر ټولو مشهور یې د ځینو اروپایي هیوادونو تر مینځ د یورو ګډ پولي واحد دی چې د دغه پولي واحد کاروونکي هیوادونه د یورو زون (Eurozone) په نوم یادیږي. هغه هیوادونه چې د یورو په زون کې سره را غونډ شوي د پرتګال، سلواک، نیدر لینډ، یونان، ایرلینډ، بلجیم، هسپانیه، ایټالیا، جرمني، فرانسي، فنلینډ، مالتا، لوکزامبورګ، فنلینډ، استریا، استونیا، او سلووینیا څخه عبارت دي. د دغه زون لپاره د پولي ثبات د پالیسیو جوړول

33 ) https://www.taand.com/archives/50460

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اروپا د مرکزي بانک ((European Central Bank (ECB) له لوري اداره کيږي. يورو زون چې په (۱۹۹۹) ميلادي کال کې تاسيس شوی، مشترکه کرنسی يعني يورو يې د نوموړې اتحاديې له ګډونوالو هيوادونو پرته په ډيرى نورو هيوادونو کې هم کارول کيږي. دا هغه هيوادونه دي چې د خپلې رسمي کرنسی د کارولو تر څنګ يې د يورو د کارولو په موخه د نوموړې زون د چارواکو سره هم قرار داد کړی وي. نوموړې هيوادونه د يورو د نشر او چاپ حق نه لري ځکه نوموړی حق يوازې د هغه هيوادونو لپاره وي چې د يورو غړيتوب ولري.[34]

د اسعارو بله اتحاديه د ختيځ کارابين ډالري اتحاديه ده. نوموړی ډالر په (۱۹۶۵) ميلادي کال کې معرفی شو او د نړی شپږ هيوادونه تري ګډه استفاده کوي. همدارنګه په (۱۹۴۰) ميلادي کال کې فرانسي په افريقا کې د خپلو څوارلسو مستعمره هيوادونو لپاره ګډه کرنسي رامينځ ته کړه چې تر اوسه تري نوموړې هيوادونه په راکړه ورکړه کې کار اخلي. دغه ګډه کرنسي د فرانسي د مرکزي خزانې څخه اداره کيږي او د همدوی له لوري ورته د يورو سره د تبادلي ثابت نرخ ټاکل شوی. دغه چارې د نوموړو مخ پر ودې هيوادونو د اقتصادي پرمختګ او هلته د پړسوب يا انفلاسيون د مخنيوي سره ډيره مرسته کړې. همدارنګه د نوموړو هيوادونو طبيعي منابع هم له همدې امله په ډيرې اسانۍ سره بهرنيو هيوادونو ته صادريږي.[35]

## د اسعارو بازار

د اسعارو بازار هغه ځای ته ويل کيږي چيرته چې بېلا بېل اسعار اخيستل او خرڅول کيږي، نوموړي بازار ته د بهرنيو اسعارو د تبادلي يا (Foreign Exchange) بازار هم وايي چې په لنډ ډول يې (Forex) بولي.[36] په دغه بازار کې بېلا بېل اسعار د بهرنۍ سوداګرۍ يا د بهرنيو توکو د رانيولو په موخه يو د بل سره تبادله کيږي. د نورو هيوادونو د اسعارو له مخې د يو هيواد د کرنسۍ بيه او قيمت هم په همدغه بازار کې د ازاد بازار د اقتصاد د اصولو له مخې د هغوی د عرضې او تقاضا له مخې ټاکل کيږي. د يو هيواد د پيسو مقدار يا د هغه پيسو مقدار چې په اقتصادي جريان کې غورځول شوي وي، هم د نوموړې هيواد د پيسو په ارزښت او د نورو اسعارو له مخې د هغوی په قيمت اغيز لري. که د بيلګې په ډول د امريکا او افغانستان دوه هيوادونه په نظر کې ونيسو چې د امريکا هيواد د کرنسی مقدار په افغانستان کې د چليدونکي کرنسی اويا چنده وي نو ښکاره خبره ده چې د افغانستان د کرنسی اويا واحده به د امريکا هيواد د کرنسۍ د يو واحد د رانيولو ځواک ولري. اوس که موخه مو د افغانی

34 ) https://www.taand.com/archives/50460
35 ) Krugman, Paul. Obstfeld, Maurice. (2003). International Economics. New York: Hugh Crawford.
36 ) کوټوال، نصير. (۱۳۹۴). اقتصادي درسونه. کابل، افغانستان: اکسوس کتابپلورنځی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مقابل کې د ډالر د تبادلې نرخ لوړول وي نو باید په اقتصادي دوران کې د افغانۍ مقدار زیات شي.(37)

## د افغانیو نرخ او د پیسو کړنلاره یا پولي سیاست

دافغانیو دتبادلې لپاره مدیریت شوی متغیر نرخ ټاکل شوی او کلونه کیږي چې همدا تعقیبیږي. د افغانستان بانک دقانون د دویمې مادې لومړي بند په اساس، دهېواد مرکزي بانک اساسي هدف دقیمتونو کنټرول او ثبات دی، د دې هدف لاسته راوړلو لپاره مرکزي بانک د پیسو چلښت وسیله ګرځولې.(38)

## د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ څرنګوالی

د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ ارزښت نږدې په دوامداره ډول کموالی کوي، او یاد کموالی تر یو بریده د هیواد په بازارونو او اقتصاد باندې د مؤثر عامل په توګه پېژندل کېږي. د دې لپاره چې دا خبره لا ښه روښانه شي، چې آیا د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د ارزښت کموالی ربنتیا هم د هیواد په بازارونو کې د قیمتونو سطحې د پورته والي سبب ګرځي او د هیواد اقتصاد اغېزمن کوي؟ لومړی باید د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ څرنګوالی او بیا اغېزې روښانه شي.

د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ څرنګوالی د کلونو په نظر کې نیولو سره په نهه فرعي عنوانونو کې تشریح کوو، چې په لاندې ډول دي.

### ۱. د آمریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ څرنګوالی، کال (۱۳۹۰) هجري شمسي

| | حمل | ثور | جوزا | سرطان | اسد | سنبله | میزان | عقرب | قوس | جدي | دلو | حوت |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | 43.00 | 43.00 | 43.04 | 43.04 | 43.04 | 43.00 | 43.34 | 43.34 | 42.98 | 42.98 | 44.18 | 46.38 |
| 2 | 43.00 | 43.04 | 43.00 | 43.04 | 43.04 | 43.00 | 43.34 | 43.34 | 43.34 | 42.93 | 44.18 | 46.40 |
| 3 | 43.04 | 43.04 | 43.04 | 43.00 | 43.00 | 42.99 | 43.34 | 43.34 | 43.34 | 43.34 | 44.23 | 46.40 |
| 4 | 43.00 | 43.04 | 43.00 | 43.04 | 43.04 | 43.04 | 43.00 | 43.34 | 42.93 | 43.34 | 44.23 | 48.38 |
| 5 | 43.00 | 43.00 | 43.00 | 43.04 | 43.04 | 43.00 | 42.99 | 43.34 | 43.00 | 43.34 | 44.18 | 48.23 |
| 6 | 43.04 | 42.99 | 43.00 | 43.00 | 43.00 | 43.00 | 43.00 | 43.34 | 43.00 | 42.93 | 44.28 | 48.28 |
| 7 | 43.04 | 43.00 | 43.04 | 43.00 | 43.04 | 43.04 | 43.34 | 43.00 | 43.34 | 43.34 | 44.18 | 48.28 |
| 8 | 43.00 | 43.04 | 43.04 | 43.04 | 43.00 | 43.34 | 43.00 | 43.00 | 43.34 | 43.01 | 44.23 | 48.33 |
| 9 | 43.00 | 43.04 | 43.04 | 43.04 | 43.00 | 43.00 | 43.34 | 43.00 | 42.98 | 42.92 | 44.23 | 48.26 |
| 10 | 43.04 | 43.00 | 42.99 | 43.00 | 43.00 | 43.00 | 43.34 | 43.00 | 43.34 | 43.34 | 44.18 | 48.18 |
| 11 | 43.00 | 43.00 | 43.00 | 43.04 | 43.00 | 43.00 | 43.00 | 43.00 | 43.34 | 43.34 | 44.18 | 48.22 |
| 12 | 43.04 | 43.04 | 43.00 | 43.04 | 43.00 | 43.34 | 43.00 | 43.00 | 42.98 | 43.34 | 44.18 | 48.27 |

37 ) https://www.tolafghan.com/articles/19988

38 ) https://www.pajhwok.com/ps/opinions/%D8%AF-%D8%A7%D9%81%D8%BA%D8%A7%D9%86%DB%8C%D9%88-%D9%86%D8%B1%D8%AE-%D8%A7%D9%88-%D8%AF-%D9%BE%DB%8C%D8%B3%D9%88-%DA%A9%DA%93%D9%86%D9%84%D8%A7%D8%B1%D9%87-%DB%8C%D8%A7-%D9%BE%D9%88%D9%84%D9%8A-%D8%B3%DB%8C%D8%A7%D8%B3%D8%AA

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 13 | 43.00 | 43.00 | 43.00 | 43.04 | 43.00 | 43.34 | 43.34 | 43.34 | 42.98 | 43.00 | 44.18 | 48.30 |
| 14 | 43.00 | 43.00 | 43.00 | 43.00 | 43.00 | 43.34 | 43.34 | 43.34 | 43.34 | 43.34 | 44.18 | 48.30 |
| 15 | 43.04 | 43.00 | 43.00 | 43.04 | 43.00 | 43.00 | 43.00 | 43.34 | 43.34 | 43.34 | 44.18 | 48.28 |
| 16 | 43.00 | 43.04 | 42.97 | 43.04 | 43.00 | 43.34 | 42.98 | 43.34 | 42.97 | 42.98 | 44.18 | 48.24 |
| 17 | 43.00 | 43.00 | 43.04 | 43.04 | 43.00 | 43.04 | 42.98 | 42.98 | 43.34 | 42.93 | 44.23 | 48.23 |
| 18 | 43.00 | 43.00 | 43.00 | 43.04 | 43.00 | 42.98 | 42.98 | 42.98 | 42.98 | 42.93 | 44.18 | 48.28 |
| 19 | 43.00 | 43.04 | 43.00 | 43.04 | 43.00 | 43.34 | 43.34 | 43.34 | 42.98 | 44.23 | 44.18 | 48.28 |
| 20 | 43.04 | 43.00 | 43.00 | 43.00 | 43.00 | 43.34 | 43.00 | 43.33 | 42.98 | 44.13 | 45.36 | 48.18 |
| 21 | 43.04 | 43.04 | 43.04 | 43.04 | 43.00 | 43.00 | 43.34 | 43.33 | 42.93 | 44.18 | 45.53 | 48.18 |
| 22 | 43.00 | 43.00 | 43.04 | 43.00 | 43.00 | 42.99 | 43.34 | 43.33 | 42.98 | 44.23 | 45.48 | 48.23 |
| 23 | 43.00 | 43.00 | 43.00 | 43.00 | 43.00 | 43.34 | 43.34 | 42.98 | 43.13 | 44.11 | 45.48 | 49.33 |
| 24 | 43.04 | 43.04 | 43.04 | 42.99 | 43.00 | 43.00 | 43.34 | 43.34 | 43.34 | 44.28 | 45.60 | 48.18 |
| 25 | 43.00 | 43.04 | 43.00 | 43.04 | 43.00 | 43.00 | 42.98 | 42.98 | 43.34 | 44.28 | 46.13 | 49.23 |
| 26 | 43.04 | 43.00 | 43.00 | 43.04 | 43.00 | 42.98 | 43.34 | 43.34 | 43.34 | 44.28 | 45.30 | 48.23 |
| 27 | 43.04 | 43.00 | 43.00 | 43.00 | 43.00 | 42.98 | 43.34 | 42.98 | 43.34 | 44.13 | 46.13 | 48.23 |
| 28 | 43.04 | 43.04 | 43.04 | 43.04 | 43.04 | 42.98 | 43.34 | 42.98 | 42.93 | 44.18 | 46.38 | 48.23 |
| 29 | 43.00 | 43.00 | 43.04 | 43.00 | 43.04 | 43.34 | 42.98 | 42.98 | 43.34 | 44.13 | 46.38 | 48.18 |
| 30 | 43.04 | 43.00 | 43.00 | 43.04 | 43.04 | 43.34 | 43.34 | 43.34 | 43.34 | 44.18 | 46.38 | |
| 31 | 43.00 | 43.04 | 43.04 | 43.00 | 43.00 | 43.34 | | | | | | |

سرچینه: dab.gov.af، www.saraishahzada.af، https://finance.yahoo.com او www.investing.com

په جدول کې تر ټولو لوړ ترین نرخ په پوخ شین او تر ټولو ټیټ ترین نرخ په پوخ سور رنګ ښودل شوی، هر څومره چې د رنګونه ګډ وډ ښودل شوي په هماغه اندازه د د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د ارزښت زیات نوسان ښيي.

له جدول څخه معلومیږي چې د کال په لومړیو کې د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ په ارزښت کې څه اندازه موجود وه ولې په وروستیو دوه میاشتو کې یې تقریبا په یو ثابت نرخ سره لوړوالی کړی دی.


د (۱۳۹۰) هجري شمسي کال په پیل کې د یو امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ (۴۳ف) وه، چې (۳۶۴) ورځې وروسته یعني د (۱۳۹۰) هجري شمسي کال په پای کې په یاد نرخ کې د (۵,۱۸ف) په اندازه زیاتوالی راغلی، چې د یو امریکایي ډالر په وړاندې د (۴۸,۱۸ف) تبادلې نرخ ښيي. په یاد کال کې تر ټولو لوړ ترین نرخ یا په بل عبارت د افغانۍ تر ټولو ټیټ ترین ارزښت د یو امریکایي ډالر په مقابل کې د (۴۹,۳۳ف) تبادله ده، او تر ټولو ټیټ ترین نرخ بیا د یو امریکایي ډالر په مقابل کې د (۴۲,۹۲ف) تبادله ده. [39]

39 ) https://m.investing.com/currencies/usd-afn

(c) ketabton.com: The Digital Library

که چیرته د پورتني جدول ارقام احصايوي فارمول ته واچول شي، ښيي، چې په (۱۳۹۰) هجري شمسي کال کې د يو امريکايي ډالر په وړاندې د افغانی د تبادلي اوسط نرخ (۴۳,۶۶ﺍﻓ) دی، او همداشان د کال تر پايه د افغانی د ارزښت کموالی د (۱۲,۰۴٪) په اندازه دی.

**د يو (USD) په وړاندې د (AFN) د تبادلي نرخ کال (۱۳۹۰هـ.ش)**




سرچينه: www.investing.com

پورتنی چارټ د يو امريکايي ډالر په وړاندې د افغاني د تبادلې نرخ کې نوسان ښيي. د (۱۳۹۰) هجري شمسي کال له پيل څخه د سنبلې تر مياشت پورې د يو امريکايي ډالر د ارزښت د نوسان انټروال د (۰,۳۶) تر (۰,۳۴-) افغانيو او په وروستيو شپږ مياشتو کې له (۱,۹۸) تر (۱,۱۵-) افغانيو پورې دی.

**۲. د آمريکايي ډالر په وړاندې د افغاني د تبادلي نرخ څرنګوالی، کال (۱۳۹۱) هجري شمسي**

| | حمل | ثور | جوزا | سرطان | اسد | سنبله | میزان | عقرب | قوس | جدي | دلو | حوت |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | 48.23 | 48.18 | 48.18 | 48.23 | 48.33 | 48.33 | 49.93 | 50.96 | 51.97 | 51.13 | 51.23 | 51.38 |
| 2 | 48.18 | 48.18 | 48.23 | 48.23 | 48.28 | 48.33 | 49.93 | 50.96 | 52.40 | 51.13 | 51.23 | 51.98 |
| 3 | 48.18 | 48.18 | 48.18 | 48.23 | 48.28 | 48.33 | 49.56 | 50.98 | 52.32 | 51.13 | 51.13 | 51.96 |
| 4 | 48.23 | 48.23 | 48.23 | 48.23 | 48.28 | 48.33 | 49.98 | 50.98 | 52.32 | 51.13 | 51.23 | 51.88 |
| 5 | 48.18 | 48.23 | 48.33 | 48.24 | 48.28 | 48.33 | 50.75 | 50.97 | 52.32 | 51.03 | 51.33 | 51.88 |
| 6 | 48.18 | 48.18 | 48.28 | 48.23 | 48.33 | 48.33 | 50.78 | 50.98 | 52.31 | 51.13 | 51.23 | 51.88 |
| 7 | 48.23 | 48.27 | 48.28 | 48.33 | 48.36 | 48.33 | 50.78 | 50.98 | 52.31 | 51.13 | 51.22 | 51.88 |
| 8 | 48.23 | 48.28 | 48.28 | 48.28 | 48.36 | 48.33 | 50.78 | 50.98 | 52.31 | 51.13 | 51.22 | 51.86 |
| 9 | 48.23 | 48.11 | 48.13 | 48.23 | 48.28 | 48.33 | 50.78 | 50.98 | 52.31 | 50.98 | 51.00 | 51.86 |
| 10 | 48.38 | 48.11 | 48.28 | 48.18 | 48.23 | 48.33 | 50.28 | 50.93 | 52.31 | 50.98 | 50.98 | 51.88 |
| 11 | 48.18 | 48.28 | 48.23 | 48.18 | 48.19 | 48.33 | 50.83 | 50.97 | 52.31 | 50.98 | 50.93 | 51.93 |
| 12 | 48.26 | 48.33 | 48.18 | 48.23 | 48.38 | 48.33 | 50.98 | 50.98 | 52.31 | 50.98 | 50.83 | 51.98 |
| 13 | 48.26 | 48.18 | 48.33 | 48.23 | 48.33 | 48.33 | 50.93 | 50.97 | 52.31 | 51.13 | 50.79 | 51.98 |
| 14 | 48.18 | 48.23 | 48.33 | 48.18 | 48.43 | 48.33 | 50.96 | 50.97 | 52.31 | 51.14 | 50.80 | 51.93 |
| 15 | 48.23 | 48.18 | 48.18 | 48.23 | 48.43 | 48.33 | 50.91 | 50.98 | 50.14 | 51.03 | 50.80 | 52.45 |
| 16 | 48.18 | 48.23 | 48.23 | 48.23 | 48.38 | 48.33 | 50.91 | 50.97 | 50.13 | 51.13 | 50.78 | 52.00 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 17 | 48.18 | 48.23 | 48.23 | 48.38 | 48.33 | 48.33 | 50.91 | 50.98 | 51.03 | 51.13 | 50.88 | 52.58 |
| 18 | 48.28 | 48.28 | 48.33 | 48.38 | 48.33 | 48.33 | 50.97 | 51.00 | 51.01 | 51.03 | 50.88 | 53.13 |
| 19 | 48.28 | 48.23 | 48.31 | 48.17 | 48.33 | 48.33 | 50.94 | 51.93 | 51.01 | 51.13 | 50.78 | 53.14 |
| 20 | 48.28 | 48.18 | 48.28 | 48.18 | 48.28 | 48.33 | 50.93 | 51.93 | 51.13 | 51.23 | 51.18 | 53.14 |
| 21 | 48.23 | 48.31 | 48.28 | 48.00 | 48.28 | 48.33 | 50.96 | 51.93 | 50.99 | 51.13 | 51.20 | 53.77 |
| 22 | 48.28 | 48.27 | 48.33 | 48.18 | 48.28 | 48.78 | 50.93 | 51.93 | 50.93 | 51.12 | 51.20 | 52.53 |
| 23 | 48.30 | 48.03 | 48.23 | 48.23 | 48.28 | 48.93 | 50.93 | 51.98 | 50.98 | 51.13 | 51.21 | 53.20 |
| 24 | 48.20 | 48.03 | 48.23 | 48.33 | 48.28 | 48.93 | 50.98 | 52.00 | 50.88 | 51.13 | 51.35 | 52.66 |
| 25 | 48.18 | 48.23 | 48.18 | 48.33 | 48.32 | 48.93 | 50.98 | 51.98 | 50.99 | 51.03 | 51.36 | 52.70 |
| 26 | 48.30 | 48.30 | 48.30 | 48.23 | 48.33 | 48.93 | 50.98 | 51.98 | 50.99 | 51.00 | 51.38 | 52.71 |
| 27 | 48.30 | 48.30 | 48.26 | 48.36 | 48.33 | 49.98 | 50.97 | 51.96 | 50.98 | 51.26 | 51.43 | 52.71 |
| 28 | 48.33 | 48.18 | 48.26 | 48.33 | 48.27 | 49.13 | 50.98 | 51.96 | 50.95 | 51.23 | 51.38 | 53.09 |
| 29 | 48.38 | 48.33 | 48.28 | 48.33 | 48.27 | 49.92 | 50.93 | 51.98 | 51.23 | 51.23 | 51.38 | 52.57 |
| 30 | 48.38 | 48.23 | 48.33 | 48.33 | 48.28 | 49.78 | 50.93 | 51.99 | 51.13 | 51.23 | 51.38 | |
| 31 | 48.28 | 48.23 | 48.23 | 48.33 | 48.33 | 49.88 | | | | | | |

سرچینه: dab.gov.af، www.saraishahzada.af، https://finance.yahoo.com او www.investing.com

په جدول کې تر ټولو لوړ ترین نرخ په پوخ شین او تر ټولو ټیټ ترین نرخ په پوخ سور رنګ ښودل شوی، هر څومره چې د رنګونه ګډ وډ ښودل شوي په هماغه اندازه د د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د ارزښت زیات نوسان ښيي.

که جدول ته وکتل شي، معلومېږي چې د (۱۳۹۱) هجري شمسي کال په لومړيو شپږ میاشتو کې د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ ارقام ټیټ ترین نرخ او وروستیو شپږ میاشتو کې بیا لوړترین نرخ ته نږدې وه.


د (۱۳۹۱) هجري شمسي کال په پیل کې د یو امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ (۴۸,۲۳ؤ) وه، چې (۳۶۴) ورځې وروسته یعني د (۱۳۹۱) هجري شمسي کال په پای کې په یاد نرخ کې د (۴,۸۲ؤ) په اندازه زیاتوالی راغلی، چې د یو امریکایي ډالر په وړاندې د (۵۳,۰۵ؤ) تبادلې نرخ ښيي. په یاد کال کې تر ټولو لوړ ترین نرخ یا په بل عبارت د افغانۍ تر ټولو ټیټ ترین ارزښت د یو امریکایي ډالر په مقابل کې د (۵۳,۷۷ؤ) تبادله ده، او تر ټولو ټیټ ترین نرخ بیا د یو امریکایي ډالر په مقابل کې د (۴۸ؤ) تبادله ده همداشان په (۱۳۹۱) هجري شمسي کال کې د یو امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې اوسط نرخ (۴۹,۸۲ؤ) دی، او همداشان د کال تر پایه د افغانۍ د ارزښت کموالی د (۹,۹۹٪) په اندازه دی.[40]

---

40 ) https://m.investing.com/currencies/usd-afn

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د یو (USD) په وړاندې د (AFN) د تبادلې نرخ کال (۱۳۹۱هـ.ش)**




سرچینه: www.investing.com

پورتنی چارټ دا څرګندوي چې په (۱۳۹۱) هجري شمسي کال کې د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ د نوسان انټروال د (۱۳۹۰) هجري شمسي کال په پرتله لوی دی. د (۱۳۹۰) هجري شمسي کال په لومړیو شپږ میاشتو کې یاد انټروال له (۰,۳۶ف) تر (۰,۳۴- ف) پورې وه، خو د (۱۳۹۱) هجري شمسي کال په لومړیو شپږ میاشتو کې، د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ د نوسان انټروال له (۱,۰۵ف) تر (۰,۸۵- ف) پورې دی. د (۱۳۹۰) هجري شمسي کال په اخري شپږ میاشتو کې یاد انټرول له (۱,۹۸ف) تر (۰,۱۵- ف) وه، او د (۱۳۹۱) هجري شمسي په یاده موده کې د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ د نوسان انټروال له (۰,۹۳ف) تر (۲,۱۷- ف) پورې دی.

د یادولو وړ ده چې په (۱۳۹۱) هجري شمسي کال کې د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ د نوسان انټروال د (۱۳۹۰) هجري شمسي کال په پرتله لوی تر سترګو کیږي، ولې؛ د افغانۍ ارزښت کې کموالی د (۱۳۹۰) هجري شمسي کال په پرتله په (۱۳۹۱) هجري شمسي کال کې کم دی.

### ۳. د آمریکایي ډالر په وړاندې د افغانې د تبادلې نرخ څرنګوالی، کال (۱۳۹۲) هجري شمسي

| 1 | حمل | ثور | جوزا | سرطان | اسد | سنبله | میزان | عقرب | قوس | جدي | دلو | حوت |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | 52.57 | 52.83 | 53.38 | 54.13 | 56.13 | 55.75 | 55.54 | 55.72 | 56.83 | 55.75 | 56.20 | 56.13 |
| 2 | 52.57 | 52.88 | 52.88 | 54.13 | 56.08 | 55.48 | 55.45 | 56.18 | 55.93 | 56.03 | 56.32 | 56.13 |
| 3 | 52.57 | 52.93 | 53.24 | 54.07 | 56.13 | 55.48 | 55.45 | 55.80 | 55.93 | 56.77 | 55.28 | 55.75 |
| 4 | 52.57 | 52.90 | 53.23 | 54.16 | 56.18 | 55.38 | 55.46 | 55.91 | 56.81 | 56.82 | 56.03 | 55.75 |
| 5 | 52.90 | 52.98 | 53.23 | 54.13 | 56.21 | 55.38 | 55.46 | 55.91 | 56.86 | 56.41 | 56.04 | 56.23 |
| 6 | 53.31 | 53.25 | 53.65 | 54.95 | 56.21 | 55.33 | 55.46 | 56.58 | 56.92 | 55.98 | 56.04 | 56.43 |
| 7 | 53.39 | 52.98 | 53.18 | 54.23 | 56.23 | 55.38 | 55.46 | 56.83 | 56.93 | 55.75 | 56.81 | 56.43 |
| 8 | 52.73 | 52.98 | 53.28 | 54.23 | 56.23 | 55.53 | 54.48 | 56.88 | 56.35 | 55.75 | 57.15 | 56.43 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 9 | 52.59 | 52.88 | 53.28 | 54.23 | 56.23 | 55.48 | 54.53 | 56.78 | 56.35 | 55.79 | 56.03 | 56.33 |
| 10 | 52.59 | 52.98 | 53.29 | 54.23 | 55.80 | 55.48 | 54.53 | 56.25 | 56.35 | 55.84 | 56.00 | 56.15 |
| 11 | 52.59 | 52.94 | 53.50 | 54.96 | 55.25 | 55.50 | 55.55 | 55.82 | 55.93 | 56.23 | 56.03 | 56.15 |
| 12 | 52.58 | 52.93 | 53.50 | 55.20 | 55.28 | 55.50 | 55.53 | 55.82 | 55.51 | 55.84 | 55.75 | 56.43 |
| 13 | 52.60 | 52.98 | 54.03 | 54.78 | 55.28 | 55.50 | 55.63 | 56.70 | 54.68 | 55.56 | 55.75 | 56.35 |
| 14 | 52.73 | 52.93 | 54.03 | 54.89 | 56.03 | 55.50 | 55.63 | 56.73 | 54.27 | 55.58 | 56.02 | 56.38 |
| 15 | 52.60 | 52.93 | 54.02 | 54.93 | 55.31 | 55.50 | 55.68 | 56.77 | 58.78 | 55.58 | 56.12 | 56.61 |
| 16 | 52.63 | 52.98 | 54.13 | 54.93 | 56.02 | 55.50 | 55.69 | 56.78 | 58.78 | 55.55 | 56.08 | 56.71 |
| 17 | 52.70 | 52.93 | 54.03 | 54.96 | 55.33 | 55.50 | 55.68 | 56.83 | 58.78 | 55.66 | 56.01 | 56.68 |
| 18 | 52.70 | 52.93 | 54.25 | 55.75 | 55.28 | 55.50 | 57.17 | 56.78 | 58.15 | 56.24 | 56.42 | 56.68 |
| 19 | 52.73 | 52.98 | 54.25 | 55.15 | 55.41 | 55.50 | 55.76 | 56.78 | 57.48 | 55.66 | 55.75 | 56.53 |
| 20 | 52.78 | 52.93 | 54.03 | 55.18 | 55.41 | 55.50 | 55.73 | 57.10 | 57.45 | 55.40 | 55.75 | 56.53 |
| 21 | 52.88 | 53.03 | 54.13 | 55.13 | 55.23 | 55.50 | 55.73 | 56.68 | 58.10 | 55.33 | 56.42 | 56.48 |
| 22 | 52.11 | 53.03 | 53.80 | 55.18 | 55.43 | 55.50 | 55.73 | 56.78 | 57.48 | 55.33 | 57.09 | 56.44 |
| 23 | 52.83 | 53.00 | 53.95 | 55.18 | 55.53 | 55.50 | 55.71 | 56.73 | 57.48 | 55.31 | 56.42 | 56.51 |
| 24 | 52.78 | 53.01 | 54.13 | 55.14 | 56.37 | 55.50 | 55.73 | 56.80 | 57.48 | 55.75 | 56.67 | 56.35 |
| 25 | 52.78 | 52.98 | 54.03 | 55.52 | 56.37 | 54.08 | 55.73 | 56.35 | 57.43 | 55.33 | 56.43 | 56.35 |
| 26 | 52.83 | 52.99 | 54.03 | 55.18 | 56.37 | 54.08 | 55.73 | 56.35 | 57.53 | 55.27 | 56.08 | 56.58 |
| 27 | 52.78 | 52.98 | 54.13 | 56.08 | 56.37 | 53.78 | 55.73 | 55.93 | 53.93 | 55.23 | 56.08 | 57.15 |
| 28 | 52.83 | 53.35 | 54.12 | 56.08 | 56.37 | 54.08 | 55.73 | 57.24 | 55.80 | 55.23 | 57.12 | 56.23 |
| 29 | 52.83 | 53.35 | 54.55 | 56.13 | 55.38 | 54.08 | 55.73 | 57.24 | 56.03 | 55.23 | 57.16 | 56.23 |
| 30 | 52.78 | 53.36 | 54.08 | 56.13 | 55.38 | 54.08 | 55.82 | 56.78 | 55.75 | 55.75 | 56.13 | |
| 31 | 52.83 | 53.38 | 54.13 | 56.08 | 55.43 | 54.08 | | | | | | |

سرچینه: dab.gov.af، www.saraishahzada.af، https://finance.yahoo.com او www.investing.com

په جدول کې تر ټولو لوړ ترین نرخ په پوخ شین او تر ټولو ټیټ ترین نرخ په پوخ سور رنګ ښودل شوی، هر څومره چې د رنګونه کډ وډ ښودل شوي په هماغه اندازه د د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د ارزښت زیات نوسان ښیي.


له جدول څخه څرګندیږي چې په (۱۳۹۲) هجري شمسي کال کې د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ په ارزښت کې نوسان د تېرو دوه کلونو په پرته زیات دی.

د (۱۳۹۲) هجري شمسي کال په پیل کې د یو امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ (۵۲,۵۷ؚ) وه، چې (۳۶۴) ورځې وروسته یعني د (۱۳۹۲) هجري شمسي کال په پای کې په یاد نرخ کې د (۳,۶۶ؚ) په اندازه زیاتوالی راغلی، چې د یو امریکایي ډالر په وړاندې د (۵۶,۲۳ؚ) تبادلې نرخ ښیي. په یاد کال کې تر ټولو لوړ ترین نرخ یا په بل عبارت د افغانۍ تر ټولو ټیټ ترین د یو امریکایي ډالر په مقابل کې د (۵۸,۷۸ؚ) تبادله ده، او تر ټولو ټیټ ترین نرخ بیا د یو امریکایي ډالر په مقابل کې د (۵۲,۱۱ؚ) تبادله ده همدا شان په (۱۳۹۲) هجري شمسي کال کې د یو امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې اوسط نرخ (۵۵,۲۰ؚ) ده، چې په (۱۳۹۰) او (۱۳۹۱) هجري شمسي کلونو کې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترتیب سره (۴۳,۶۶ؤ) او (۴۹,۸۲ؤ) وه. او همداشان په (۱۳۹۲) هجري شمسي کال کې د کال تر پایه د افغانۍ د ارزښت کموالی د (۶,۹۶٪) په اندازه دی. که څه هم، د (۱۳۹۲) هجري شمسي کال له پیل څخه د کال تر پایه د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ په ارزښت کې کموالی د مخکنیو دوارو کلونو په پرتله تیټ دی، ولې؛ د ارزښت د نوسان انټروال یې بیا د تېرو دوارو کلونو په پرتله غټ دی. (41)

د یو (USD) په وړاندې د (AFN) د تبادلې نرخ کال (۱۳۹۲هـ.ش)




سرچینه: www.investing.com

له پورتني چارټ څخه په ډاګه کیږي، چې په (۱۳۹۲) هجري شمسي کال کې د (۱۳۹۱) او (۱۳۹۰) هجري شمسي کلونو په پرتله، د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ د نوسان انټروال لوی دی. مخکې مو پدې باندې بحث کړی وه، چې په (۱۳۹۱) هجري شمسي کال کې د (۱۳۹۰) هجري شمسي کال په پرتله، د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ د نوسان انټروال لوی وه، دلته به دا روښانه کړو چې په (۱۳۹۲) هجري شمسي کال کې یاد انټروال د (۱۳۹۱) هجري شمسي کال په پرتله هم لوی دی.

د (۱۳۹۱) هجري شمسي کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ د نوسان انټروال له (۰,۲ؤ) تر (-۰,۲۴ ؤ) وه، خو د (۱۳۹۲) هجري شمسي کال په لومړیو شپږ میاشتو کې بیا له (۰,۹ؤ) تر (-۱,۴۱ ؤ) پورې دی. د (۱۳۹۱) هجري شمسي کال په وروستیو شپږ میاشتو کې یاد انټروال له (۱,۰۵ؤ) تر (-۲,۱۷ ؤ) وه، ولې په (۱۳۹۲) هجري شمسي کال کې له (۴,۵۰ؤ) تر (-۳,۶ ؤ) پورې دی، چې د تېر کال په پرتله د غټ انټروال ښودونکی دی.

په (۱۳۹۲) هجري شمسي کال کې که څه هم د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ نوسان د تېرو دوه کلونو په پرتله ډېر زیات وه، ولې د افغانۍ ارزښت کې کموالی بیا د تېرو دوارو کلونو په

41 ) https://m.investing.com/currencies/usd-afn

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرتله کم دی. د (۱۳۹۲) هجري شمسي کال تر پایه د افغانی ارزښت د امریکایي ډالر په وړاندې د (۳,۶۶٪) په اندازه کموالی کړی، په داسي حال کي چي په (۱۳۹۱) هجري شمسي کال کي دا کموالی د (۴,۸۲٪) او په (۱۳۹۰) هجري شمسي کال کي د (۵,۱۸٪) په اندازه وه.

### ۴. د آمریکایي ډالر په وړاندې د افغاني د تبادلي نرخ څرنګوالی، کال (۱۳۹۳) هجري شمسي

| | حمل | ثور | جوزا | سرطان | اسد | سنبله | میزان | عقرب | قوس | جدي | دلو | حوت |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | 56.38 | 56.09 | 57.83 | 56.73 | 56.53 | 55.50 | 56.63 | 56.73 | 57.23 | 58.03 | 57.59 | 57.35 |
| 2 | 56.11 | 57.01 | 56.56 | 56.63 | 56.30 | 55.50 | 57.19 | 56.78 | 57.23 | 58.04 | 57.28 | 57.37 |
| 3 | 56.11 | 57.93 | 56.58 | 56.73 | 56.21 | 55.50 | 57.12 | 57.00 | 58.12 | 58.08 | 57.51 | 57.37 |
| 4 | 56.43 | 57.05 | 56.58 | 56.73 | 55.50 | 55.50 | 56.78 | 57.00 | 58.09 | 57.63 | 57.53 | 57.37 |
| 5 | 56.11 | 56.08 | 56.58 | 57.21 | 55.50 | 55.50 | 56.73 | 57.84 | 58.10 | 57.53 | 57.53 | 57.64 |
| 6 | 56.48 | 56.23 | 57.86 | 56.93 | 56.14 | 55.50 | 56.73 | 57.82 | 58.04 | 57.56 | 57.32 | 57.67 |
| 7 | 57.43 | 56.23 | 56.73 | 56.93 | 56.03 | 55.50 | 56.71 | 57.81 | 57.57 | 57.56 | 57.21 | 57.62 |
| 8 | 57.01 | 57.14 | 57.36 | 56.93 | 56.13 | 55.50 | 56.83 | 57.75 | 57.55 | 58.38 | 57.02 | 57.20 |
| 9 | 57.01 | 56.64 | 56.38 | 56.88 | 56.13 | 55.50 | 57.02 | 57.05 | 57.55 | 57.58 | 57.21 | 57.52 |
| 10 | 57.01 | 56.50 | 56.58 | 56.63 | 56.13 | 55.50 | 56.78 | 57.13 | 57.91 | 58.27 | 57.02 | 57.52 |
| 11 | 57.59 | 55.23 | 56.58 | 56.73 | 55.50 | 55.50 | 56.83 | 57.13 | 57.84 | 58.17 | 57.01 | 57.52 |
| 12 | 57.47 | 56.23 | 57.86 | 56.98 | 55.50 | 55.50 | 56.83 | 57.16 | 57.84 | 57.56 | 57.01 | 57.62 |
| 13 | 57.17 | 57.08 | 56.26 | 56.91 | 56.13 | 55.50 | 56.83 | 57.48 | 57.91 | 57.53 | 57.22 | 57.62 |
| 14 | 57.59 | 57.08 | 57.00 | 56.91 | 56.49 | 55.50 | 56.73 | 57.24 | 57.53 | 57.53 | 57.17 | 57.51 |
| 15 | 57.59 | 56.83 | 57.74 | 56.91 | 56.51 | 55.50 | 57.14 | 57.81 | 57.53 | 58.05 | 57.49 | 57.60 |
| 16 | 57.17 | 55.76 | 56.53 | 57.69 | 56.50 | 55.50 | 57.19 | 57.18 | 57.53 | 58.00 | 57.47 | 57.57 |
| 17 | 57.17 | 56.66 | 56.61 | 56.78 | 55.88 | 56.13 | 56.56 | 57.13 | 58.06 | 57.86 | 57.57 | 57.57 |
| 18 | 57.22 | 56.48 | 56.61 | 56.76 | 55.87 | 56.25 | 56.51 | 57.13 | 57.99 | 57.91 | 57.52 | 57.57 |
| 19 | 57.25 | 56.73 | 58.06 | 56.78 | 55.87 | 56.15 | 56.51 | 57.78 | 58.03 | 57.56 | 57.52 | 57.95 |
| 20 | 57.26 | 57.08 | 56.68 | 56.78 | 56.55 | 56.13 | 56.51 | 57.83 | 57.91 | 57.55 | 57.52 | 57.52 |
| 21 | 57.27 | 57.08 | 57.34 | 56.83 | 55.77 | 56.03 | 56.53 | 57.81 | 57.56 | 57.55 | 57.25 | 58.02 |
| 22 | 56.11 | 56.70 | 58.65 | 56.83 | 55.72 | 56.13 | 57.53 | 57.86 | 57.56 | 57.52 | 57.15 | 58.02 |
| 23 | 56.05 | 56.80 | 58.63 | 57.36 | 56.56 | 56.13 | 57.54 | 57.18 | 57.56 | 57.54 | 57.62 | 58.02 |
| 24 | 56.05 | 56.85 | 57.88 | 56.96 | 55.51 | 56.13 | 57.69 | 57.23 | 57.99 | 57.78 | 57.32 | 58.02 |
| 25 | 56.86 | 56.80 | 57.88 | 56.02 | 55.55 | 57.11 | 57.69 | 57.23 | 58.02 | 57.78 | 56.96 | 58.02 |
| 26 | 56.95 | 56.85 | 57.36 | 55.53 | 55.55 | 57.27 | 57.69 | 57.98 | 57.99 | 57.56 | 56.96 | 57.99 |
| 27 | 56.76 | 55.93 | 57.49 | 55.63 | 55.50 | 57.39 | 57.69 | 57.87 | 58.06 | 57.52 | 57.32 | 57.75 |
| 28 | 56.98 | 55.93 | 57.58 | 55.63 | 55.50 | 56.48 | 56.89 | 57.88 | 57.53 | 57.52 | 57.57 | 58.15 |
| 29 | 55.13 | 57.30 | 56.83 | 55.63 | 55.50 | 56.56 | 56.78 | 58.00 | 57.60 | 57.69 | 57.25 | 57.77 |
| 30 | 55.14 | 57.60 | 56.73 | 56.41 | 55.50 | 56.56 | 56.78 | 57.21 | 57.60 | 57.51 | 57.65 | |
| 31 | 55.14 | 57.65 | 56.73 | 56.66 | 55.50 | 56.95 | | | | | | |

سرچینه: dab.gov.af، www.saraishahzada.af، https://finance.yahoo.com او www.investing.com


په جدول کي تر ټولو لوړ ترین نرخ په پوخ شین او تر ټولو ټیټ ترین نرخ په پوخ سور رنګ ښودل شوی، هر څومره چي د رنګونه ګډ وډ ښودل شوي په هماغه اندازه د د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د ارزښت زیات نوسان ښیي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه پورتني جدول نه چې مالومیږي، په (۱۳۹۳) هجري شمسي کال کې د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ په ارزښت کې ډېر زیات نوسان شتون درلود.

د (۱۳۹۳) هجري شمسي کال په پیل کې د یو امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ (۵۶,۳۸ؔ) وه، چې د کال تر پایه په کې د (۱,۳۹ؔ) په اندازه زیاتوالی راغلی، چې د یو امریکایي ډالر په وړاندې د (۵۷,۷۷ؔ) تبادلې نرخ ښیي. په یاد کال کې د افغانۍ تر ټولو ټیټ ترین ارزښت د امریکایي ډالر په وړاندې د یو امریکایي ډالر په مقابل کې د (۵۸,۶۵ؔ) تبادله ده، او تر ټولو ټیټ ترین نرخ بیا د یو امریکایي ډالر په مقابل کې د (۵۵,۱۳ؔ) تبادله ده همدا شان په (۱۳۹۳) هجري شمسي کال کې د یو امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې اوسط نرخ (۵۶,۹۹ؔ) دی، چې په (۱۳۹۰)، (۱۳۹۱) او (۱۳۹۲) هجري شمسي کلونو کې په ترتیب سره (۴۳,۶۶ؔ)، (۴۹,۸۲ؔ) او (۵۵,۲۰ؔ) وه.[42]

**د یو (USD) په وړاندې د (AFN) د تبادلې نرخ کال (۱۳۹۳هـ.ش)**




سرچینه: www.investing.com

په (۱۳۹۲) هجري شمسي کال کې، د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ د نوسان انټروال د (۱۳۹۰) او (۱۳۹۱) هجري شمسي کلونو په نسبت ډېر لوی وه. د (۱۳۹۳) هجري شمسي کال په لومړیو شپږو میاشتو کې نوموړی انټروال د (۱۳۹۲) هجري شمسي کال په پرتله هم لوی دی، چې له (۱,۴۵ؔ) تر (۱,۸۵- ؔ) پورې دی، ولې د (۱۳۹۲) هجري شمسي کال په یاده موده کې له (۰,۹ؔ) تر (۱,۴۱- ؔ) پورې وه. او همداشان د (۱۳۹۲) هجري شمسي کال په وروستیو شپږ میاشتو کې له (۴,۵۰ؔ) تر (۳,۶- ؔ) وه، چې د (۱۳۹۳) هجري شمسي کال په ورته موده کې له (۱ؔ) تر (۰,۸- ؔ)

42 ) https://m.investing.com/currencies/usd-afn

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوري دی، چې نه یواځې د (۱۳۹۲)، بلکې؛ د (۱۳۹۱) او (۱۳۹۰) هجري شمسي کلونو په پرتله هم کوچنی انتروال ښيي.

**۵. د آمریکايي ډالر په وړاندې د افغاني د تبادلې نرخ څرنګوالی، کال (۱۳۹۴) هجري شمسي**

| 1 | حمل | ثور | جوزا | سرطان | اسد | سنبله | میزان | عقرب | قوس | جدي | دلو | حوت |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | 57.72 | 57.82 | 58.42 | 58.50 | 60.30 | 64.00 | 64.61 | 64.50 | 68.27 | 65.98 | 68.64 | 69.38 |
| 2 | 57.72 | 57.79 | 58.37 | 58.47 | 60.92 | 64.00 | 64.57 | 64.50 | 68.27 | 65.97 | 68.65 | 69.38 |
| 3 | 57.72 | 57.77 | 58.37 | 58.42 | 60.89 | 64.00 | 64.55 | 64.50 | 66.78 | 65.95 | 68.65 | 69.36 |
| 4 | 58.07 | 57.77 | 58.37 | 58.42 | 60.89 | 64.59 | 64.54 | 64.45 | 66.60 | 65.95 | 68.65 | 69.14 |
| 5 | 58.07 | 57.89 | 58.37 | 58.37 | 61.24 | 64.55 | 64.54 | 64.58 | 65.60 | 65.95 | 68.65 | 68.88 |
| 6 | 57.72 | 57.89 | 57.97 | 59.24 | 60.85 | 65.37 | 64.54 | 64.55 | 65.60 | 65.95 | 68.65 | 69.20 |
| 7 | 58.12 | 57.52 | 58.50 | 59.24 | 61.18 | 65.34 | 64.52 | 64.70 | 65.60 | 65.95 | 68.57 | 68.76 |
| 8 | 58.10 | 57.50 | 58.84 | 59.24 | 60.82 | 65.34 | 64.84 | 64.66 | 65.60 | 66.02 | 68.68 | 68.75 |
| 9 | 58.10 | 57.85 | 58.82 | 59.20 | 61.59 | 65.34 | 64.72 | 64.65 | 65.58 | 66.02 | 68.70 | 68.75 |
| 10 | 58.10 | 57.55 | 58.82 | 59.60 | 60.82 | 65.17 | 63.94 | 64.65 | 66.63 | 68.45 | 68.69 | 68.74 |
| 11 | 58.07 | 57.92 | 58.82 | 60.44 | 60.82 | 65.15 | 64.51 | 64.65 | 66.52 | 68.45 | 68.69 | 68.63 |
| 12 | 57.82 | 57.91 | 58.79 | 60.65 | 60.82 | 64.15 | 64.51 | 64.86 | 66.59 | 68.45 | 68.69 | 68.60 |
| 13 | 58.15 | 57.91 | 58.77 | 60.62 | 61.05 | 64.12 | 64.51 | 64.95 | 66.90 | 68.45 | 68.66 | 68.60 |
| 14 | 58.17 | 57.91 | 58.77 | 60.62 | 60.92 | 64.10 | 64.65 | 64.93 | 66.88 | 68.45 | 68.65 | 68.60 |
| 15 | 58.15 | 57.87 | 58.77 | 60.25 | 61.14 | 64.10 | 64.90 | 65.10 | 66.88 | 68.55 | 68.65 | 68.25 |
| 16 | 58.15 | 58.35 | 58.74 | 60.02 | 61.45 | 64.10 | 64.67 | 65.05 | 66.88 | 68.53 | 68.65 | 68.25 |
| 17 | 58.15 | 58.34 | 58.74 | 61.16 | 61.44 | 64.08 | 64.62 | 65.15 | 66.73 | 68.52 | 68.63 | 68.20 |
| 18 | 58.12 | 58.32 | 58.74 | 60.22 | 61.44 | 63.95 | 64.60 | 65.10 | 66.70 | 68.58 | 68.63 | 68.53 |
| 19 | 58.14 | 58.32 | 58.72 | 60.80 | 61.44 | 63.94 | 64.60 | 65.68 | 66.71 | 68.55 | 68.63 | 68.51 |
| 20 | 58.12 | 58.32 | 58.72 | 60.79 | 61.42 | 63.91 | 64.60 | 65.65 | 66.13 | 68.55 | 68.37 | 68.50 |
| 21 | 57.77 | 58.32 | 58.67 | 60.79 | 62.24 | 63.92 | 64.57 | 66.10 | 66.10 | 68.55 | 68.89 | 68.42 |
| 22 | 58.10 | 58.29 | 58.62 | 60.79 | 63.07 | 63.92 | 64.70 | 66.35 | 66.10 | 68.65 | 68.88 | 68.40 |
| 23 | 58.10 | 58.62 | 58.62 | 60.15 | 63.45 | 64.00 | 64.70 | 66.33 | 66.34 | 68.43 | 68.88 | 68.40 |
| 24 | 58.10 | 58.60 | 58.62 | 60.19 | 63.42 | 64.03 | 64.75 | 66.33 | 66.31 | 68.70 | 68.90 | 68.40 |
| 25 | 57.50 | 58.57 | 58.62 | 60.12 | 63.42 | 64.22 | 64.75 | 66.33 | 66.89 | 68.70 | 68.90 | 68.38 |
| 26 | 57.84 | 58.54 | 58.60 | 60.80 | 63.42 | 64.17 | 64.75 | 67.14 | 66.36 | 68.68 | 68.90 | 68.37 |
| 27 | 57.85 | 58.54 | 58.57 | 60.81 | 64.07 | 64.65 | 64.55 | 66.95 | 66.02 | 68.68 | 68.88 | 68.38 |
| 28 | 57.82 | 58.54 | 58.55 | 60.81 | 64.05 | 64.62 | 64.50 | 67.80 | 66.00 | 68.68 | 68.87 | 68.36 |
| 29 | 57.80 | 58.47 | 58.52 | 60.81 | 64.03 | 64.62 | 64.47 | 68.30 | 66.00 | 68.52 | 69.28 | 68.36 |
| 30 | 57.80 | 58.07 | 58.50 | 60.43 | 63.65 | 64.62 | 64.55 | 68.27 | 66.00 | 68.63 | 69.27 | |
| 31 | 57.43 | 58.43 | 58.50 | 60.28 | 64.00 | 64.61 | | | | | | |

سرچینه: dab.gov.af، www.saraishahzada.af، https://finance.yahoo.com او www.investing.com


په جدول کې تر ټولو لوړ ترین نرخ په پوخ شین او تر ټولو ټیټ ترین نرخ په پوخ سور رنګ ښودل شوی، هر څومره چې د رنګونه ګډ وډ ښودل شوي په هماغه اندازه د د امریکايي ډالر په وړاندې د افغانۍ د ارزښت زیات نوسان ښيي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورتنی جدول څرګندوي چې له (۱۳۹۰) هجري شمسي کال څخه تر (۱۳۹۴) هجري شمسي کال پورې د امریکایي ډالر په وړاندي د افغانی په ارزښت کې تر ټولو کمترین نوسان په (۱۳۹۴) هجري شمسي کال کې شتون درلود.

د (۱۳۹۴) هجري شمسي کال په پیل کې د یو امریکایي ډالر په وړاندي د افغانی د تبادلي نرخ (۵۷,۷۲ؤ) وه، چې (۳۶۴) ورځې وروسته یعني د (۱۳۹۴) هجري شمسي کال په پای کې په یاد نرخ کې د (۱۰,۶۳ؤ) په اندازه زیاتوالی راغلی، چې د یو امریکایي ډالر په وړاندي د (۶۸,۳۶ؤ) تبادلي نرخ بنیي. په یاد کال کې د امریکایي ډالر په وړاندي د افغانی د تبادلي تر ټولو لوړ ترین نرخ د یو امریکایي ډالر په مقابل کې د (۶۹,۳۸ؤ) تبادله ده، او تر ټولو ټیټ ترین نرخ بیا د یو امریکایي ډالر په مقابل کې د (۵۷,۴۳ؤ) تبادله ده همداشان په (۱۳۹۴) هجري شمسي کال کې د یو امریکایي ډالر په وړاندي د افغانی د تبادلي اوسط نرخ (۶۳,۵۰ؤ) ده، چې په (۱۳۹۰)، (۱۳۹۱)، (۱۳۹۲) او (۱۳۹۳) هجري شمسي کلونو کې په ترتیب سره (۴۳,۶۶ؤ)، (۴۹,۸۲ؤ)، (۵۵,۲۰ؤ) او (۵۶,۹۹ؤ) وه. او همداشان د کال تر پایه د افغانی د ارزښت کموالی د (۱۸,۴۲٪) په اندازه دی.[43]

## د یو (USD) په وړاندې د (AFN) د تبادلي نرخ کال (۱۳۹۴هـ.ش)




سرچینه: www.investing.com

د کال په لومړیو شپږو میاشتو کې، د امریکایي ډالر په وړاندي د افغانی د تبادلي نرخ د نوسان تر ټولو لوی ترین انتروال په کال (۱۳۹۳) هجري شمسي کې، چې له (۱,۴۵ؤ) تر (۱,۸۵- ؤ) پورې وه. د (۱۳۹۴) هجري شمسي کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د تبادلي نرخ زیاتوالی او کموالی په ترتیب سره له (۱,۱۴ؤ) تر (۱- ؤ) دی. له دي څخه څرګندیږي چې له (۱۳۹۰-۱۳۹۴) هجري شمسي کلونو،

43 ) https://m.investing.com/currencies/usd-afn

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لومړیو شپږو میاشتو کې، د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ د نوسان تر ټولو لوی ترین انټروال په (۱۳۹۳) هجري شمسي کال کې شتون درلود.

د (۱۳۹۴) هجري شمسي کال په وروستیو شپږ میاشتو کې بیا یاد انټروال له (۲,۴۳ف) تر (۱,۴۹- ف) پورې دی، چې په (۱۳۹۲) هجري شمسي کال کې تر ټولو لوړ ترین له (۴,۵۰ف) تر (۳,۶- ف) وه.

پورتنی مطب دا څرګندوي چې په (۱۳۹۴) هجري شمسي کال کې، د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ د نوسان انټروال نظر نورو کلونو ته کوچنی، ولې؛ د افغانۍ ارزښت په متناقص ډول او د تیرو څلورو کلونو په پرتله زیات کموالی کړی دی.

**۶. د آمریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ څرنګوالی، کال (۱۳۹۵) هجري شمسي**

| 1 | حمل | ثور | جوزا | سرطان | اسد | سنبله | میزان | عقرب | قوس | جدي | دلو | حوت |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | 68.36 | 68.38 | 68.73 | 69.19 | 68.77 | 67.46 | 66.59 | 66.06 | 66.95 | 66.39 | 66.77 | 66.65 |
| 2 | 68.36 | 68.34 | 68.73 | 69.06 | 68.75 | 67.52 | 66.61 | 66.06 | 66.68 | 66.40 | 66.77 | 66.65 |
| 3 | 68.36 | 68.36 | 68.73 | 68.85 | 68.75 | 67.31 | 66.61 | 66.06 | 66.81 | 66.39 | 66.77 | 66.64 |
| 4 | 68.35 | 68.36 | 68.77 | 68.89 | 68.74 | 67.30 | 66.61 | 66.06 | 66.70 | 66.39 | 66.83 | 66.76 |
| 5 | 68.36 | 68.36 | 68.88 | 68.89 | 69.08 | 66.92 | 66.61 | 66.08 | 66.70 | 66.39 | 66.64 | 66.85 |
| 6 | 68.40 | 68.36 | 68.86 | 68.89 | 69.00 | 66.93 | 66.60 | 66.06 | 66.71 | 66.39 | 66.64 | 66.64 |
| 7 | 68.40 | 68.35 | 68.86 | 68.89 | 68.98 | 66.93 | 66.60 | 66.06 | 66.71 | 66.43 | 66.72 | 66.65 |
| 8 | 68.40 | 68.34 | 68.86 | 68.71 | 68.98 | 66.93 | 66.60 | 66.06 | 66.70 | 66.40 | 66.81 | 66.65 |
| 9 | 68.39 | 68.40 | 68.86 | 68.53 | 68.98 | 66.84 | 65.67 | 66.06 | 66.68 | 66.39 | 66.82 | 66.65 |
| 10 | 68.33 | 68.36 | 68.86 | 68.31 | 68.98 | 66.65 | 65.67 | 66.06 | 66.73 | 67.00 | 66.82 | 66.75 |
| 11 | 68.64 | 68.38 | 68.86 | 68.42 | 68.98 | 66.74 | 65.67 | 66.33 | 66.65 | 66.80 | 66.85 | 66.74 |
| 12 | 68.55 | 68.38 | 68.79 | 68.42 | 68.60 | 66.74 | 65.67 | 65.95 | 66.65 | 66.80 | 66.84 | 66.69 |
| 13 | 68.65 | 68.38 | 69.00 | 68.42 | 69.10 | 66.73 | 66.21 | 65.99 | 66.65 | 66.80 | 66.83 | 66.75 |
| 14 | 68.64 | 68.30 | 68.98 | 68.42 | 65.63 | 66.73 | 65.92 | 65.91 | 66.65 | 66.94 | 66.80 | 66.75 |
| 15 | 68.64 | 68.33 | 69.03 | 68.42 | 65.63 | 66.73 | 65.90 | 65.84 | 66.68 | 66.88 | 66.80 | 66.75 |
| 16 | 68.64 | 68.26 | 69.03 | 68.40 | 65.62 | 66.73 | 65.90 | 65.84 | 66.65 | 66.82 | 66.74 | 66.70 |
| 17 | 68.59 | 68.36 | 69.04 | 68.60 | 65.62 | 66.70 | 65.90 | 65.79 | 66.64 | 66.83 | 66.74 | 66.69 |
| 18 | 68.62 | 68.40 | 69.09 | 68.61 | 65.62 | 66.65 | 65.90 | 65.83 | 66.66 | 66.83 | 66.68 | 66.74 |
| 19 | 68.60 | 68.40 | 69.11 | 68.65 | 67.57 | 66.68 | 65.90 | 65.79 | 66.60 | 66.83 | 66.73 | 66.77 |
| 20 | 68.58 | 68.40 | 69.26 | 68.65 | 67.97 | 66.68 | 65.76 | 65.82 | 66.56 | 66.83 | 66.66 | 66.74 |
| 21 | 68.57 | 68.54 | 69.29 | 68.64 | 67.98 | 66.68 | 65.84 | 65.80 | 66.56 | 66.82 | 66.90 | 66.74 |
| 22 | 68.57 | 68.52 | 69.29 | 68.62 | 67.93 | 66.68 | 65.84 | 65.80 | 66.56 | 66.88 | 66.68 | 66.74 |
| 23 | 68.57 | 68.58 | 69.29 | 68.68 | 67.93 | 66.69 | 65.75 | 65.80 | 66.53 | 66.80 | 66.69 | 66.74 |
| 24 | 68.53 | 68.62 | 69.29 | 68.65 | 67.93 | 66.66 | 65.77 | 65.75 | 66.43 | 66.90 | 66.69 | 66.76 |
| 25 | 68.38 | 68.59 | 69.27 | 68.60 | 67.96 | 66.67 | 65.77 | 65.78 | 66.40 | 66.85 | 66.64 | 66.62 |
| 26 | 68.25 | 68.59 | 69.48 | 68.68 | 67.51 | 66.66 | 65.77 | 66.74 | 66.40 | 66.85 | 66.66 | 66.80 |
| 27 | 68.37 | 68.59 | 69.46 | 68.68 | 67.49 | 66.65 | 65.75 | 66.83 | 66.39 | 66.85 | 66.67 | 66.70 |
| 28 | 68.37 | 68.58 | 69.47 | 68.68 | 67.43 | 66.65 | 66.11 | 66.86 | 66.39 | 66.84 | 66.70 | 66.70 |
| 29 | 68.37 | 68.64 | 69.47 | 68.82 | 67.44 | 66.65 | 66.06 | 66.95 | 66.39 | 66.89 | 66.71 | 66.70 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 30 | 68.36 | 68.60 | 69.47 | 68.74 | 67.43 | 66.64 | 66.06 | 66.95 | 66.40 | 66.80 | 66.94 | 66.70 |
| 31 | 68.39 | 68.58 | 69.47 | 68.74 | 67.44 | 66.75 | | | | | | |

سرچینه: dab.gov.af، www.saraishahzada.af، https://finance.yahoo.com او www.investing.com

په جدول کې تر ټولو لوړ ترین نرخ په پوخ شین او تر ټولو ټیټ ترین نرخ په پوخ سور رنګ ښودل شوی، هر څومره چې د رنګونه ګډ وډ ښودل شوي په هماغه اندازه د د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانی د ارزښت زیات نوسان ښیي.

پورتنی جدول ښيي چې د (۱۳۹۵) هجري شمسي کال په لومړی نیمایي کې د امریکایي ډالر په وړاندې د افغاني په ارزښت کې تقریبا نوسان په نشت حساب وه، ولي په ورستیو میاشتو کې څه اندازه نوسان پکې لیدل کیږي.


د (۱۳۹۵) هجري شمسي کال په پیل کې د یو امریکایي ډالر په وړاندې د افغانی د تبادلي نرخ (۶۸,۳۶ف) دی، چې (۳۶۵) ورځي وروسته یعني د (۱۳۹۵) هجري شمسي کال په پای کې په یاد نرخ کې د (۱,۶۶ف) په اندازه کموالی راغلی، چې د یو امریکایي ډالر په وړاندې د (۶۶,۷۰ف) تبادلي نرخ ښيي. په یاد کال کې تر ټولو لوړ ترین نرخ یا په بل عبارت د افغانی تر ټولو ټیټ ترین ارزښت د امریکایي ډالر په وړاندې د یو امریکایي ډالر په مقابل کې د (۶۹,۴۸ف) تبادله ده، او تر ټولو ټیټ ترین نرخ بیا د یو امریکایي ډالر په مقابل کې د (۶۵,۶۲ف) تبادله ده همدارنګه په (۱۳۹۵) هجري شمسي کال کې د یو امریکایي ډالر په وړاندې د افغانی د تبادلي اوسط نرخ (۶۷,۳۷ف) دی، چې په (۱۳۹۰)، (۱۳۹۱)، (۱۳۹۲)، (۱۳۹۳) او (۱۳۹۴) هجري شمسي کلونو کې په ترتیب سره (۴۳,۶۶ف)، (۴۹,۸۲ف)، (۵۵,۲۰ف)، (۵۶,۹۹ف) او (۶۳,۵۰ف) وه. او همداشان د کال تر پایه د افغانی د ارزښت زیاتوالی د (۲,۴۲٪) په اندازه دی. (44)

په تېرو پنځه کلونو کې د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ په ارزښت کې په مسلسل ډول کموالی راغلی، ولي په (۱۳۹۵) هجري شمسي کال کې د نورو کلونو برخلاف د افغانی ارزښت لوړ شوی دی. همدا شان د کال په لومړیو میاشتو کې یې ثبات هم درلود، ولي په ورستیو میاشتو کې که څه هم یو څه اندازه نوسان پکې لیدل کیږي، ولي په ارزښت کې یې کموالی نه بلکې لوړوالی رامنځته شوی دی.

44 ) https://m.investing.com/currencies/usd-afn

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یو (USD) په وړاندې د (AFN) د تبادلې نرخ کال (۱۳۹۵ هـ.ش)




سرچینه: www.investing.com

د کال په لومړیو شپږو میاشتو کې، د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ نوسان تر ټولو لوی ترین انټروال په کال (۱۳۹۳) هجري شمسي کې، له (۱,۴۵ فږ) تر (-۱,۸۵ فږ) پورې وه. د (۱۳۹۵) هجري شمسي کال د تبادلې نرخ ګراف دا ښيي چې د کال په پیل کې د افغانۍ ارزښت کې زیات نوسان شتون نه درلود، ولې په پنځمه میاشت کې د افغانۍ ارزښت یودمې کموالی کوي، او په همدې اساس د همدې کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ ارزښت د نوسان انټروال د تېرو پنځه واړو کلونو په پرتله لوی دی، چې له (۱,۹۵ فږ) تر (-۳,۴۷ فږ) پورې دی.

د کال په نیمه وروستۍ کې د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ ارزښت د نوسان لوی ترین انټروال په کال (۱۳۹۲) هجري شمسي کې له (۴,۵۰ فږ) تر (-۳,۶ فږ) وه. د (۱۳۹۵) هجري شمسي کال په یاده موده کې د افغاني ارزښت د نوسان انټروال تقریبا د یوې افغانۍ په اندازه یعني له (۰,۹۵ فږ) تر (-۰,۹۲ افغانۍ پورې ده، چې د تېرو پنځه واړه کلونو په پرتله لږ نوسان ښيي.

له پورته مطلب څخه ځرګندیږي چې، د تېرو پنځه کلونو په پرتله د (۱۳۹۵) هجري شمسي کال په لومړۍ نیمه کې د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ ارزښت د لوړ ترین نوسان درلودونکی وه، او برعکس په وروستۍ نیمه کې د تر ټولو ټیټ ترین نوسان درلودونکی دی.

### ۷. د آمریکایي ډالر په وړاندې د افغاني د تبادلې نرخ ځرنګوالی، کال (۱۳۹۶) هجري شمسي

| 1 | حمل | ثور | جوزا | سرطان | اسد | سنبله | میزان | عقرب | قوس | جدي | دلو | حوت |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | 66.70 | 67.63 | 68.04 | 68.04 | 68.64 | 69.03 | 68.45 | 68.19 | 68.81 | 69.49 | 69.43 | 69.50 |
| 2 | 66.70 | 67.63 | 68.40 | 68.14 | 68.59 | 68.62 | 68.45 | 68.20 | 68.92 | 69.49 | 70.41 | 69.45 |
| 3 | 66.64 | 67.75 | 68.33 | 68.10 | 68.49 | 68.70 | 68.39 | 68.62 | 68.65 | 69.49 | 69.43 | 69.55 |
| 4 | 66.65 | 67.60 | 68.34 | 68.10 | 68.46 | 68.58 | 68.58 | 68.10 | 68.79 | 69.49 | 69.19 | 68.94 |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 5 | 66.62 | 67.60 | 68.26 | 68.11 | 68.33 | 68.58 | 68.63 | 68.27 | 68.79 | 69.48 | 69.19 | 68.92 |
| 6 | 66.62 | 67.63 | 68.26 | 68.08 | 68.40 | 68.58 | 68.27 | 68.27 | 68.79 | 69.48 | 69.36 | 68.92 |
| 7 | 66.62 | 67.65 | 68.26 | 68.09 | 68.40 | 68.43 | 68.21 | 68.27 | 68.85 | 69.68 | 69.21 | 68.92 |
| 8 | 66.70 | 67.57 | 68.26 | 68.08 | 68.40 | 68.71 | 68.25 | 68.60 | 68.99 | 69.48 | 69.21 | 69.24 |
| 9 | 66.72 | 67.60 | 68.24 | 67.99 | 68.45 | 68.75 | 68.25 | 68.47 | 68.83 | 69.51 | 69.21 | 69.47 |
| 10 | 66.72 | 67.60 | 68.37 | 68.09 | 68.46 | 68.45 | 68.25 | 68.39 | 68.76 | 69.51 | 69.53 | 68.90 |
| 11 | 66.70 | 67.60 | 68.29 | 68.09 | 68.42 | 68.44 | 68.43 | 68.73 | 68.83 | 69.51 | 69.36 | 69.35 |
| 12 | 66.70 | 67.60 | 68.31 | 68.09 | 68.49 | 68.44 | 68.20 | 68.39 | 68.83 | 69.65 | 69.34 | 69.30 |
| 13 | 66.70 | 67.59 | 68.31 | 68.08 | 68.41 | 68.44 | 68.20 | 68.39 | 68.93 | 69.74 | 69.48 | 69.30 |
| 14 | 66.69 | 67.63 | 68.31 | 68.26 | 68.42 | 68.42 | 68.20 | 68.39 | 68.88 | 69.89 | 69.19 | 68.98 |
| 15 | 67.39 | 67.65 | 68.31 | 68.30 | 68.40 | 68.44 | 68.20 | 68.39 | 68.92 | 69.70 | 69.19 | 69.43 |
| 16 | 67.40 | 67.60 | 68.28 | 68.31 | 68.42 | 68.75 | 68.20 | 68.45 | 68.89 | 69.69 | 69.19 | 69.37 |
| 17 | 67.44 | 67.60 | 68.28 | 68.34 | 68.42 | 68.42 | 68.20 | 68.72 | 69.04 | 69.69 | 69.01 | 69.47 |
| 18 | 67.46 | 67.54 | 68.28 | 68.34 | 68.44 | 68.42 | 68.23 | 68.64 | 69.04 | 70.24 | 69.52 | 69.48 |
| 19 | 67.46 | 67.63 | 68.26 | 68.30 | 68.40 | 68.42 | 68.21 | 68.66 | 69.04 | 70.28 | 69.30 | 69.33 |
| 20 | 67.46 | 67.85 | 68.26 | 68.30 | 68.41 | 68.42 | 68.20 | 68.66 | 69.04 | 69.90 | 68.78 | 69.33 |
| 21 | 67.46 | 67.96 | 68.26 | 68.42 | 68.41 | 68.51 | 68.17 | 68.66 | 68.90 | 70.10 | 68.84 | 69.51 |
| 22 | 67.37 | 67.97 | 68.46 | 68.37 | 68.41 | 68.60 | 68.20 | 68.58 | 68.90 | 69.84 | 68.84 | 68.99 |
| 23 | 67.39 | 68.00 | 67.91 | 68.39 | 68.39 | 68.59 | 68.20 | 68.73 | 69.00 | 69.83 | 68.84 | 69.44 |
| 24 | 67.39 | 68.00 | 68.15 | 68.39 | 68.51 | 68.63 | 68.20 | 68.78 | 69.30 | 69.83 | 69.40 | 69.48 |
| 25 | 67.66 | 68.00 | 68.07 | 68.39 | 68.67 | 68.63 | 68.18 | 68.59 | 69.30 | 69.83 | 69.41 | 69.50 |
| 26 | 67.38 | 68.15 | 68.05 | 68.39 | 68.60 | 68.63 | 68.21 | 68.50 | 69.30 | 69.32 | 69.45 | 69.07 |
| 27 | 67.38 | 68.17 | 68.05 | 68.43 | 68.65 | 68.63 | 68.58 | 68.66 | 69.60 | 70.37 | 68.99 | 69.07 |
| 28 | 67.30 | 68.20 | 68.05 | 68.40 | 68.69 | 68.67 | 68.22 | 68.66 | 69.83 | 70.43 | 68.99 | 69.52 |
| 29 | 67.18 | 68.11 | 68.04 | 68.55 | 68.69 | 68.70 | 68.19 | 68.66 | 69.51 | 69.45 | 68.99 | 69.53 |
| 30 | 67.57 | 68.10 | 68.02 | 68.45 | 68.69 | 68.72 | 68.19 | 68.75 | 69.68 | 69.43 | 68.99 | |
| 31 | 67.69 | 68.10 | 68.17 | 68.64 | 68.92 | 68.41 | | | | | | |

سرچينه: dab.gov.af، www.saraishahzada.af، https://finance.yahoo.com او www.investing.com

په جدول کې تر ټولو لوړ ترين نرخ په پوخ شين او تر ټولو ټيټ ترين نرخ په پوخ سور رنګ ښودل شوی، هر څومره چې د رنګونه ګډ وډ ښودل شوي په هماغه اندازه د د امريکايي ډالر په وړاندې د افغانۍ د ارزښت زيات نوسان ښيي.


له پورتني جدول څخه معلوميږي چې په (۱۳۹۶) هجري شمسي کال کې د امريکايي ډالر په وړاندې د افغانۍ په ارزښت کې نوسان موجود وه ولې په ډېره زياته اندازه نه دی.

د (۱۳۹۶) هجري شمسي کال په پيل کې د يو امريکايي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ (۶۶,۷۰ؤ) دی، چې (۳۶۴) ورځې وروسته يعني د (۱۳۹۶) هجري شمسي کال په پای کې په ياد نرخ کې د (۲,۸۲ؤ) په اندازه زياتوالی راغلی، چې د يو امريکايي ډالر په وړاندې د (۶۹,۵۲ؤ) تبادلې نرخ ښيي. په ياد کال کې د افغانۍ تر ټولو ټيټ ترين د يو امريکايي ډالر په مقابل کې د (۷۰,۴۲ؤ) تبادله ده، او تر ټولو ټيټ ترين نرخ بيا د يو امريکايي ډالر په مقابل کې د (۶۶,۶۲ؤ) تبادله ده همدا شان په

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۱۳۹۶) هجري شمسي کال کې د يو امريکايي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې اوسط نرخ (۶۸،۵۳ف) دی، چې په (۱۳۹۰)، (۱۳۹۱)، (۱۳۹۲)، (۱۳۹۳)، (۱۳۹۴) او (۱۳۹۵) هجري شمسي کلونو کې په ترتيب سره (۴۳،۶۶ف)، (۴۹،۸۲ف)، (۵۵،۲۰ف)، (۵۶،۹۹ف)، (۶۳،۵۰ف) او (۶۷،۳۷ف) وه. او همداشان د کال تر پايه د افغانۍ د ارزښت کموالی د (۴،۲۳٪) په اندازه دی. په ياد کال کې د يو امريکايي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ کې نوسان په لاندې چارټ کې ښودل شوی دی.[45]

**د يو (USD) په وړاندې د (AFN) د تبادلې نرخ کال (۱۳۹۶ هـ.ش)**




سرچينه: www.investing.com

د (۱۳۹۶) هجري شمسي کال په لومړۍ نمايي کې د امريکايي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ د نوسان انټروال له (۰،۶۹ف) تر (-۰،۵۴ ف) پورې دی، چې د تېرو شپږ کلونو د لوړ ترين رقم څخه ټيټ دی. په وروستۍ نيمه کې هم د (۱۳۹۲) هجري شمسي کال د وروستي نيمي د لوړ ترين انټروال په پرتله کوچنۍ يعني له (۱،۰۴ف) تر (-۰،۹۷ ف) پورې دی.

**۸. د آمريکايي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ څرنګوالی، کال (۱۳۹۷) هجري شمسي**

| 1 | حمل | ثور | جوزا | سرطان | اسد | سنبله | ميزان | عقرب | قوس | جدي | دلو | حوت |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | 69.54 | 70.45 | 71.39 | 71.68 | 73.85 | 73.15 | 75.76 | 75.92 | 76.00 | 74.96 | 75.98 | 75.35 |
| 2 | 69.55 | 70.45 | 71.85 | 71.58 | 72.98 | 73.32 | 75.95 | 76.15 | 76.05 | 74.96 | 75.78 | 75.45 |
| 3 | 69.47 | 70.48 | 71.82 | 71.58 | 72.75 | 72.67 | 75.68 | 76.18 | 76.05 | 75.46 | 75.80 | 75.45 |
| 4 | 69.03 | 70.43 | 71.61 | 71.65 | 73.10 | 72.67 | 75.45 | 75.75 | 76.05 | 75.90 | 75.80 | 74.58 |
| 5 | 69.03 | 70.53 | 71.82 | 72.48 | 73.10 | 73.15 | 75.45 | 75.37 | 75.98 | 75.95 | 75.90 | 74.58 |
| 6 | 69.03 | 70.55 | 71.82 | 72.65 | 72.56 | 73.35 | 75.93 | 75.37 | 76.08 | 76.03 | 75.45 | 75.56 |
| 7 | 69.53 | 70.50 | 72.07 | 72.80 | 72.56 | 72.45 | 75.67 | 75.80 | 76.30 | 75.68 | 75.45 | 75.43 |
| 8 | 69.55 | 70.25 | 71.82 | 72.80 | 73.20 | 73.45 | 75.67 | 75.70 | 76.10 | 75.68 | 76.15 | 75.43 |
| 9 | 69.62 | 70.50 | 71.05 | 73.28 | 73.15 | 73.45 | 75.95 | 75.85 | 76.00 | 75.68 | 75.55 | 75.43 |

45 ) https://m.investing.com/currencies/usd-afn

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 10 | 69.62 | 70.56 | 71.55 | 73.28 | 72.75 | 73.26 | 75.85 | 75.50 | 75.79 | 75.55 | 75.75 | 75.50 |
| 11 | 69.27 | 70.50 | 71.50 | 73.00 | 72.95 | 73.26 | 75.93 | 75.80 | 75.79 | 75.80 | 75.90 | 74.59 |
| 12 | 69.27 | 70.43 | 71.32 | 73.55 | 72.95 | 73.25 | 75.60 | 74.98 | 76.03 | 75.78 | 75.60 | 74.59 |
| 13 | 69.60 | 70.48 | 71.32 | 73.68 | 72.16 | 73.58 | 76.21 | 74.98 | 76.13 | 75.80 | 75.20 | 75.44 |
| 14 | 69.58 | 70.68 | 71.70 | 73.60 | 72.16 | 73.80 | 75.76 | 75.05 | 76.13 | 75.85 | 75.20 | 75.50 |
| 15 | 69.53 | 70.51 | 71.45 | 73.65 | 72.83 | 73.95 | 75.76 | 75.77 | 76.03 | 75.36 | 76.00 | 75.60 |
| 16 | 69.60 | 70.68 | 71.30 | 73.65 | 72.95 | 73.95 | 75.76 | 75.80 | 76.03 | 75.36 | 75.60 | 75.68 |
| 17 | 69.65 | 70.45 | 71.53 | 73.65 | 73.20 | 74.20 | 76.00 | 75.85 | 75.78 | 75.73 | 75.60 | 75.60 |
| 18 | 69.51 | 70.68 | 71.58 | 74.02 | 73.30 | 74.20 | 76.00 | 75.95 | 75.78 | 76.05 | 75.68 | 75.60 |
| 19 | 69.65 | 70.63 | 71.43 | 73.88 | 73.10 | 74.20 | 75.95 | 75.66 | 76.11 | 75.90 | 75.53 | 75.60 |
| 20 | 69.55 | 70.73 | 71.43 | 73.05 | 72.39 | 74.10 | 76.05 | 75.66 | 76.08 | 75.90 | 75.53 | 75.56 |
| 21 | 69.65 | 70.81 | 71.76 | 73.40 | 72.39 | 74.31 | 75.99 | 76.00 | 76.05 | 75.90 | 75.53 | 75.78 |
| 22 | 69.85 | 70.87 | 71.50 | 73.00 | 73.00 | 75.60 | 75.99 | 75.70 | 75.80 | 75.49 | 75.93 | 75.80 |
| 23 | 69.85 | 70.73 | 71.70 | 72.26 | 73.20 | 75.10 | 76.32 | 76.00 | 76.05 | 75.49 | 75.23 | 75.70 |
| 24 | 69.85 | 70.62 | 71.58 | 72.26 | 72.99 | 76.02 | 76.08 | 76.27 | 75.80 | 76.03 | 75.38 | 75.81 |
| 25 | 69.85 | 71.22 | 71.63 | 72.99 | 73.27 | 76.02 | 76.03 | 76.13 | 75.80 | 75.78 | 74.35 | 75.20 |
| 26 | 70.00 | 71.34 | 71.55 | 73.18 | 73.25 | 76.32 | 76.29 | 76.11 | 76.22 | 75.80 | 75.38 | 75.20 |
| 27 | 70.43 | 70.95 | 71.55 | 73.05 | 72.72 | 76.38 | 76.25 | 76.11 | 76.23 | 75.68 | 74.53 | 75.67 |
| 28 | 70.23 | 70.95 | 71.58 | 73.20 | 72.72 | 75.78 | 75.93 | 76.19 | 76.08 | 75.85 | 74.53 | 76.00 |
| 29 | 70.50 | 71.23 | 71.75 | 73.40 | 73.37 | 75.35 | 75.93 | 76.08 | 75.80 | 75.38 | 75.53 | 75.88 |
| 30 | 70.45 | 71.23 | 71.55 | 73.11 | 73.15 | 75.88 | 76.42 | 76.13 | 74.70 | 75.38 | 75.40 | |
| 31 | 70.60 | 71.33 | 71.63 | 73.11 | 73.15 | 75.76 | | | | | | |

سرچینه: dab.gov.af، www.saraishahzada.af، https://finance.yahoo.com او www.investing.com

په جدول کې تر ټولو لوړ ترین نرخ په پوخ شین او تر ټولو ټیټ ترین نرخ په پوخ سور رنګ ښودل شوی، هر څومره چې د رنګونه کړ وړ ښودل شوي په هماغه اندازه د د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د ارزښت زیات نوسان ښیي.


په (۱۳۹۷) هجري شمسي کال کې هم د تېرو کلونو په څېر د افغانۍ په ارزښت کې تر یو حده نوسان شتون درلود، ولې د (۱۳۹۳) هجري شمسي کال په شان ډېر زیات نه دی.

د (۱۳۹۷) هجري شمسي کال په پیل کې د یو امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ (۶۹,۵۴؋) دی، چې (۳۶۴) ورځې وروسته یعني د (۱۳۹۷) هجري شمسي کال په پای کې په یاد نرخ کې د (۶,۳۳؋) په اندازه زیاتوالی راغلی، چې د یو امریکایي ډالر په وړاندې د (۷۵,۸۷؋) تبادلې نرخ ښیي. په یاد کال د افغانۍ تر ټولو ټیټ ترین ارزښت د یو امریکایي ډالر په مقابل کې د (۷۶,۴۲؋) تبادله ده، او تر ټولو ټیټ ترین نرخ بیا د یو امریکایي ډالر په مقابل کې د (۶۹,۰۳؋) تبادله ده همداشان په (۱۳۹۷) هجري شمسي کال کې د یو امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې اوسط نرخ (۷۳,۸۳؋) ده، چې په (۱۳۹۰)، (۱۳۹۱)، (۱۳۹۲)، (۱۳۹۳)، (۱۳۹۴)، (۱۳۹۵) او (۱۳۹۶) هجري شمسي کلونو کې په ترتیب سره (۴۳,۶۶؋)، (۴۹,۸۲؋)، (۵۵,۲۰؋)، (۵۶,۹۹؋)، (۶۳,۵۰؋)،

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۶۷,۳۷فې) او (۶۸,۵۳فې) وه. او همداشان د کال تر پایه د افغانۍ د ارزښت کموالی د (۹,۱۰٪) په اندازه دی. په یاد کال کې د یو امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ کې نوسان په لاندې چارټ کې ښودل شوی دی. (46)

**د یو (USD) په وړاندې د (AFN) د تبادلې نرخ کال (۱۳۹۷هـ.ش)**




سرچینه: www.investing.com

د (۱۳۹۷) هجري شمسي کال په لومړۍ نیمه کې د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د ارزښت د نوسان انټروال له (۱,۲۹فې) تر (۰,۹- فې) او په وروستۍ نیمه کې له (۱,۰۲فې) تر (۱,۱- فې) پورې دی، چې د تېرې منظور دورې د لوړ ترین ارقامو څخه د کم انټروال ښودونکي دي.

### ۹. د آمریکایي ډالر په وړاندې د افغاني د تبادلې نرخ څرنګوالی، کال (۱۳۹۸) هجري شمسي

| 1 | حمل | ثور | جوزا | سرطان | اسد | سنبله | میزان | عقرب | قوس | جدي | دلو | حوت |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | 75.87 | 77.47 | 80.47 | 80.78 | 79.90 | 78.57 | 78.24 | 78.25 | 78.40 | 78.47 | 77.84 | 76.85 |
| 2 | 75.87 | 77.37 | 80.45 | 80.78 | 80.97 | 78.57 | 78.11 | 78.28 | 78.44 | 78.82 | 77.81 | 77.11 |
| 3 | 75.46 | 77.75 | 80.60 | 81.20 | 79.90 | 78.57 | 78.18 | 78.22 | 78.44 | 78.55 | 76.77 | 77.11 |
| 4 | 75.46 | 77.67 | 80.68 | 80.97 | 79.85 | 78.57 | 78.11 | 78.14 | 78.56 | 78.55 | 76.82 | 77.11 |
| 5 | 75.92 | 77.82 | 80.68 | 81.45 | 79.85 | 78.20 | 78.32 | 78.14 | 78.85 | 78.65 | 76.89 | 78.26 |
| 6 | 75.88 | 77.69 | 81.38 | 81.65 | 79.85 | 78.37 | 78.32 | 78.14 | 78.72 | 78.65 | 76.89 | 77.75 |
| 7 | 75.91 | 77.54 | 80.42 | 80.80 | 79.89 | 78.16 | 78.32 | 78.10 | 78.80 | 78.17 | 78.07 | 76.60 |
| 8 | 76.13 | 77.54 | 79.87 | 81.44 | 78.94 | 77.95 | 78.32 | 77.98 | 78.55 | 78.17 | 76.65 | 76.21 |
| 9 | 76.05 | 77.89 | 80.05 | 81.44 | 78.83 | 77.95 | 78.26 | 77.95 | 78.55 | 78.97 | 76.80 | 76.30 |
| 10 | 75.89 | 77.55 | 80.10 | 82.04 | 79.11 | 77.95 | 78.41 | 78.13 | 78.55 | 78.20 | 76.67 | 75.88 |
| 11 | 75.89 | 77.55 | 79.37 | 81.25 | 78.31 | 77.95 | 78.28 | 78.13 | 79.04 | 78.00 | 76.76 | 75.88 |
| 12 | 76.19 | 77.55 | 79.37 | 80.80 | 78.30 | 77.95 | 78.33 | 78.13 | 78.81 | 78.22 | 76.42 | 75.96 |
| 13 | 75.95 | 77.55 | 80.17 | 80.28 | 78.30 | 78.21 | 78.19 | 78.13 | 78.64 | 77.78 | 76.42 | 75.61 |
| 14 | 76.25 | 77.72 | 80.10 | 80.11 | 78.54 | 78.22 | 78.19 | 78.73 | 79.00 | 77.20 | 76.52 | 76.46 |

46 ) https://m.investing.com/currencies/usd-afn

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 15 | 76.75 | 77.72 | 80.10 | 80.11 | 78.18 | 78.25 | 78.25 | 78.47 | 78.45 | 77.20 | 78.10 | 76.04 |
| 16 | 76.75 | 78.07 | 80.10 | 80.11 | 78.42 | 78.25 | 78.33 | 78.64 | 78.63 | 78.10 | 76.70 | 76.10 |
| 17 | 76.73 | 77.45 | 79.30 | 80.98 | 78.14 | 78.25 | 78.19 | 78.30 | 78.63 | 78.05 | 76.80 | 76.10 |
| 18 | 76.73 | 78.20 | 79.30 | 81.02 | 78.51 | 78.25 | 78.23 | 78.30 | 78.90 | 77.95 | 76.81 | 76.10 |
| 19 | 76.70 | 78.00 | 79.30 | 81.02 | 78.51 | 78.52 | 78.14 | 78.30 | 78.70 | 77.85 | 76.81 | 76.10 |
| 20 | 77.05 | 78.20 | 79.30 | 81.17 | 78.51 | 78.52 | 78.15 | 78.58 | 78.40 | 78.24 | 76.81 | 76.00 |
| 21 | 77.52 | 78.28 | 80.17 | 80.87 | 78.51 | 78.59 | 78.15 | 78.38 | 78.76 | 77.37 | 77.86 | 76.15 |
| 22 | 77.50 | 78.28 | 80.25 | 80.20 | 78.51 | 78.38 | 78.51 | 78.30 | 78.54 | 77.37 | 77.75 | 76.14 |
| 23 | 77.10 | 78.10 | 80.26 | 80.20 | 78.51 | 78.38 | 78.58 | 78.96 | 78.74 | 77.66 | 77.95 | 76.11 |
| 24 | 77.30 | 78.30 | 80.04 | 81.12 | 78.37 | 78.38 | 78.47 | 78.32 | 78.74 | 78.11 | 77.00 | 76.11 |
| 25 | 77.30 | 78.20 | 80.24 | 80.92 | 78.37 | 78.48 | 78.70 | 78.38 | 78.94 | 78.08 | 77.15 | 76.11 |
| 26 | 77.43 | 78.85 | 80.24 | 81.07 | 78.37 | 78.11 | 78.63 | 78.38 | 78.70 | 76.90 | 77.15 | 76.22 |
| 27 | 77.78 | 79.11 | 79.96 | 80.97 | 78.37 | 78.38 | 78.22 | 78.73 | 78.90 | 76.90 | 77.15 | 75.88 |
| 28 | 77.72 | 79.11 | 80.60 | 81.17 | 78.37 | 78.13 | 78.22 | 78.50 | 78.47 | 76.90 | 78.27 | 76.13 |
| 29 | 78.00 | 79.11 | 80.69 | 80.09 | 78.39 | 78.24 | 78.55 | 78.60 | 78.72 | 76.90 | 77.77 | 75.95 |
| 30 | 77.55 | 78.91 | 81.17 | 80.09 | 78.52 | 78.24 | 78.56 | 78.80 | 78.47 | 77.96 | 77.82 | |
| 31 | 77.47 | 79.71 | 80.87 | 80.09 | 78.49 | 78.24 | | | | | | |

سرچینه: dab.gov.af، www.saraishahzada.af، https://finance.yahoo.com او www.investing.com


په جدول کې تر ټولو لوړ ترین نرخ په پوخ شین او تر ټولو ټیټ ترین نرخ په پوخ سور رنګ ښودل شوی، هر څومره چې د رنګونه ګډ وډ ښودل شوي په هماغه اندازه د د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د ارزښت زیات نوسان ښیي، نو په همدې اساس ویلای شو چې په (۱۳۹۸) هجري شمسي کال کې د (۱۳۹۷) هجري شمسي کال په پرتله کم نوسان شتون درلود. همدارنګه باید یادونه وکړو چې به تېرو نهه کلونو کې د امریکایي ډالر په وړاندې د افغاني په ارزښت کې تر ټولو زیات ترین نوسان په کال (۱۳۹۳) هجري شمسي کې شتون درلود او تر ټولو کم ترین یې په (۱۳۹۴) هجري شمسي کې وه.

د (۱۳۹۸) هجري شمسي کال په پیل کې د یو امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ (۷۵,۸۷ؤ) دی، چې (۳۶۴) ورځې وروسته یعنې د (۱۳۹۷) هجري شمسي کال په پای کې په یاد نرخ کې د (۰,۰۷ؤ) په اندازه زیاتوالی راغلی، چې د یو امریکایي ډالر په وړاندې د (۷۵,۹۴ؤ) تبادلې نرخ ښیي. په یاد کال د افغانۍ تر ټولو ټیټ ترین ارزښت د یو امریکایي ډالر په مقابل کې د (۸۲,۰۴ؤ) تبادله ده، او تر ټولو ټیټ ترین نرخ بیا د یو امریکایي ډالر په مقابل کې د (۷۵,۴۶ؤ) تبادله ده همدا شان په (۱۳۹۸) هجري شمسي کال کې د یو امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې اوسط نرخ (۷۸,۳۱ؤ) ده، چې له (۱۳۹۰) تر (۱۳۹۷) هجري شمسي کلونو کې په ترتیب سره (۴۳,۶۶ؤ)، (۴۹,۸۲ؤ)، (۵۵,۲۰ؤ)، (۵۶,۹۹ؤ)، (۶۳,۵۰ؤ)، (۶۷,۳۷ؤ)، (۶۸,۵۳ؤ) او (۷۳,۸۳ؤ) وه. او همداشان

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کال تر پایه د افغانۍ د ارزښت کموالی د (۰،۰۹٪) په اندازه دی. په یاد کال کې د یو امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ کې نوسان په لاندې چارټ کې ښودل شوی دی.(47)

**د یو (USD) په وړاندې د (AFN) د تبادلې نرخ کال (۱۳۹۸ هـ.ش)**




سرچینه: www.investing.com

د (۱۳۹۸) هجري شمسي کال په لومړۍ نیمه کې د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د ارزښت د نوسان انټروال له (۱،۰۷؋) تر (۱،۰۸- ؋) او په وروستۍ نیمه کې له (۱،۵۷؋) تر (۱،۴۲- ؋) پورې دی، چې د تېرې منظور دورې د لوړ ترین ارقامو څخه د کم انټروال ښودونکې دي.

## د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ اغیزې د افغانستان په اقتصاد باندې

د بهرنیو اسعارو په وړاندې د یو هیواد د پیسو ارزښت کموالی او زیاتوالی د لوی اقتصاد څلور اساسي اهداف (انفلاسیون نرخ، اقتصادي وده، خارجي تجارت او استخدام سطحه) تر تاثیر لاندې راولي. اډا چې په تېرو نهه کلونو کې د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د ارزښت کموالي د افغانستان په اقتصاد باندې څه ډول تاثیر وارد کړی په لاندې ډول ورڅخه یادونه کوو:

### ۱. د تبادلې نرخ تاثیر په انفلاسیون په نرخ باندې

د یو هیواد د پیسو ارزښت کې رامنځته کېدونکې بدلون په دوه ډوله دی، چې د پولي واحد ارزښت لوړېدل (Currency Appreciation or Revaluation) او ارزښت کمېدلو (Currency Depreciation or devaluation) څخه عبارت دي. کله چې د یو هیواد د ملي پیسو ارزښت لوړیږي نو د هیواد دننه ورسره د قیمتونو سطحه کې کموالی راځي او برعکس که ارزښت یې غورځي،(48) نو

47 ) https://m.investing.com/currencies/usd-afn

48 ) کوټوال، نصیر. (۱۳۹۴). اقتصادي درسونه. کابل، افغانستان: اکسوس کتابپلورنځی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي سره به د قیمتونو سطحه لوړیږي، ولي دا حتمي نه ده چې د تبادلې نرخ بدلون له کبله دې یاد تاثیرات رامنځته شي، ځکه چې هیوادونه نه یواځې دا چې له بهرنی نړی څخه وارد شویو توکو څخه استفاده کوي، بلکې؛ د هیواد دننه هم ګڼ شمېر توکي تولید او استفاده کوي. بلاخره ویلای شو، چې د پیسو په ارزښت کې بدلون له کبله د انفلاسیون نرخ متاثیره کیدل د یو هیواد د حقیقي تولید سطحې پورې تړلی دی.

په تېره یوه لسیزه کې د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانی ارزښت تقریبا په دوامداره ډول کموالی کړی چې له (۱۳۹۰-۱۳۹۸) هجري شمسي کال پورې پکې د (۷۶,۶۱٪) په اندازه کموالی راغلی. په تېره یوه لسیزه کې د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانی د ارزښت او انفلاسیون نرخ اړوند ارقام په لاندې ډول دي:

| Year | 1390 | 1391 | 1392 | 1393 | 1394 | 1395 | 1396 | 1397 | 1398 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Change in Ex. Rate (%) | 11.94 | 10.11 | 5.99 | 2.74 | 18.33 | -2.42 | 4.23 | 9.13 | 0.09 |
| Change in Inflation Rate (%) | 4.41 | -0.45 | 0.15 | -0.37 | -1.14 | -7.64 | 0.14 | -0.87 | 4.87 |

**منبع:** www.macrotrends.net

له پورتنیو ارقامو څخه ښکاري چې د پیسو په ارزښت کې نږدې دوامداره کموالی رامنځته شوی دی. همدارنګه د انفلاسیون نرخ که څه هم په وروستیو کلونو کې ټیټ معلومیږي، ولي په مجموع کې د قیمتونو عمومي سطحه کې تر یو حده لوړوالی رامنځته شوی دی. د پورتني ارقامو په نظر کې نیولو او (Regression Analysis) څخه په استفادې د انفلاسیون نرخ او تبادلې نرخ ترمنځ اړیکي اړوند لاندې معلومات لاسته راځي.

$$Linear\ Model: \widehat{Y} = -1.006 + 0.136x$$

$$P - value = 0.531$$

$$B - Value = 0.136$$

$$R\ Square = 0.058$$

پورتنی جدول څرګندوي، چې د تبادلې نرخ اغېز اړوند د انفلاسیون نرخ مهم فکتور نه دی، ځکه چې د پي ارزښت (P-Value) له (۰,۰۵) څخه لوړ دی. د بي ارزښت (B-Value) مثبت قیمت د انفلاسیون نرخ او د تبادلې نرخ ترمنځ مثبته رابطه ښیي او ($R^2$) دا ښیي چې د انفلاسیون نرخ باندې د تبادلې نرخ د بدلون تاثیر د (۵,۸۳) سلنه په اندازه دی. باید یادونه وکړو چې (Linear Model) د انفلاسیون نرخ د اوسط بدلون د ګراف رسمولو لپاره استفاده کیږي، چې د ګراف له رسمولو وروسته د تبادلې نرخ (x)

(c) ketabton.com: The Digital Library

او انفلاسیون نرخ (y) هره نقطه په نښه کیږي. هرڅومره چې رسم شوي نقاط له ګراف څخه پراګنده پراته وي په هم هغه اندازه به د متحویلونو ترمنځ اړیکه ضعیفه وي.

د هغه ډېټا په اساس چې مونږ د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ، او په افغانستان کې د انفلاسیون نرخ اړوند را ټوله کړې، دا څرګندیږي چې د انفلاسیون نرخ ډېر مهم فکټور نه دی. د دې خبرې لومړی دلیل دا دی چې د پیسو په ارزښت کې بدلون له کبله د انفلاسیون نرخ متاثیره کیدل د یو هیواد د حقیقي تولید سطحې پورې تړلی دی، ځکه چې د تبادلې نرخ له کبله د انفلاسیون نرخ هغه وخت متاثیره کیږي کله چې د هیواد دننه د واردېدونکو توکو تعویضي جنس رامنځته نشي. او دویم دلیل دا دی چې تر (۱۳۹۸) کال پورې په افغانستان کې د افغانۍ چلښت په نشت حساب وه، او د هیواد د تجارت زیاته اندازه له پاکستان او ایران سره وه، چې د واریدېدونکو توکو تادیه او په داخل کې پلور دواړه به په روپۍ او تومن باندې وه، نو د امریکایي ډالر په مقابل کې د افغانۍ په ارزښت کې د بدلون تاثیر هم باید د افغانۍ د چلښت او د وارداتو په مقابل کې د امریکایي ډالر د تادیې په اندازه وي.

**۲. د تبادلې نرخ تاثیر په اقتصادي وده باندې**

د یو هیواد د پیسو ارزښت کموالی (Devaluation) اقتصادي وده تحریکوي او د دواړو متحویلونو ترمنځ مثبته اړیکه شتون لري. [49] مثلا، که په افغانستان کې د یو طبي بوټي قیمت (۵۰؋) وي او د امریکایي ډالر په مقابل کې د افغانۍ د تبادلې نرخ له (۱/۵۰) څخه (۱/۱۰۰) ته ټیټیږي، نو پدې صورت کې امریکایي تجار کولای شي چې د یو ډالر په مقابل کې (۱۰۰؋) ترلاسه کړي، په داسې حال کې چې مخکې به یې (۵۰؋) ترلاسه کولې او په همدې (۵۰؋) به یې یو طبي بوټی اخیستل، ولې اوس کولای شي چې په همهغه یو ډالر دوه طبي بوټي واخلي، ځکه چې د یو امریکایي ډالر په مقابل کې (۱۰۰؋) او د (۱۰۰؋) په بدل کې دوه طبي بوټي ترلاسه کوي. دا په دې مانا ده چې د افغانۍ د ارزښت کمېدلو سره به له افغانستان څخه امریکا ته صادرېدونکي طبي بوټي قیمت له (1USD) څخه (0.5USD) ته ښکته شي. د تقاضا قانون په اساس، کله چې د یو شي قیمت ټیټیږي، تقاضا ورته زیاتیږي. نو دا چې د هیواد د پیسو ارزښت کې کموالي سره صادرات لوړیږي، او د هیواد داخلي تولیداتو ته په نړیوال بازار کې تقاضا لوړیږي نو دې سره په داخل د هیواد کې د تولید سطحه لوړیږي او بلاخره د سړي سر ناخالص داخلي تولید د زیاتوالي سبب ګرځي، کوم چې اقتصادي وده څرګندوي.

49 ) Rapetti, M., Skott, P., & Razmi, A. (2011). The Real Exchange Rate and Economic Growth. *International Review of Applied Economics*, 19.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اقتصادي وده له هغه اندازه حاصل څخه عبارت دی چې په وسیله يي په یوه اوږده موده کې د یو هیواد سرانه عاید زیاتوالی وکړي.[50]

له (۱۳۹۰-۹۸) هجري شمسي کال پورې د امریکايي ډالر په وړاندې د افغانی د تبادلې نرخ او (GDP/Capita) کې بدلون په لاندې ډول دی:

| Year | 1390 | 1391 | 1392 | 1393 | 1394 | 1395 | 1396 | 1397 | 1398 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Change in Ex. Rate (%) | 11.94 | 10.11 | 5.99 | 2.74 | 18.33 | -2.42 | 4.23 | 9.13 | 0.09 |
| Change in GDP/Capita (%) | 14.38 | 12.72 | -1.03 | -3.24 | -9.37 | 2.81 | 3.30 | -10.01 | -20.71 |

**منبع:** www.nasia.gov.af

د (Regression Analysis) څخه په استفادې د پورتنی ډېټا تحلیل لاندې ارقام په لاس راکوي:

$$Linear\ Model: \hat{Y} = -3.302 + 0.309x$$

$$P - value = 0.649$$

$$B - Value = 0.309$$

$$R\ Square = 0.031$$

که د افغانی په ارزښت کې بدلون او انفلاسیون نرخ ترمنځ اړیکې اړوند ارقام چې د احصایوي تحلیل په نتیجه کې مو ترلاسه کړي وه، له پورتنیو ارقامو سره مقایسه کړو، دا معلومیږي چې د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانی په ارزښت کې بدلون تاثیر د اقتصادي ودې په پرتله په انفلاسیون نرخ باندې زیات دی، ځکه چې د انفلاسیون نرخ لپاره د تبادلې نرخ د پي ارزښت (P-Value) د اقتصادي ودې لپاره د پي ارزښت (P-Value) څخه ټیټ دی، او هر څومره چې د پي ارزښت ټیټ وي په هم هغه اندازه د آزاد متحویل تاثیر په تړلي متحویل زیات وي.

د (P-Value) ارزښت د (۰,۰۵) څخه لوړ پدې مانا دی، چې اقتصادي وده ډېر مهم فکتور نه دی، همداشان د اقتصادي ودې د (P-Value) ارزښت نسبت انفلاسیون نرخ ته هم لوړ دی، او دا په دې دلالت کوي، چې د اقتصادي ودې په پرتله انفلاسیون نرخ مهم فکتور دی.

د بیټا (B-Value) مثبت ارزښت د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانی د تبادلې نرخ او اقتصادي ودې تر منځ مستقیمه رابطه ښيي، او په اقتصادي وده باندې د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانی د تبادلې

50 ) نظامي، حمد الله؛ (۱۳۹۷). لوی اقتصاد. جلال آباد، افغانستان: مومند خپرندویه ټولنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نرخ تاثیر د (۳,۱۴٪) په اندازه ده، چې له دې څخه هم د اقتصادي ودې په پرتله د انفلاسیون نرخ فکټور زیات اهمیت څرګندیږي.

له هغه ټولګه معلوماتو څخه چې د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ او د افغانستان د سرې سر ناخالص داخلي تولید اړوند شتون لري، دا څرنګندیږي چې د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د ارزښت کمېدل د افغانستان په اقتصادي وده باندې مثبت تاثیر غورځولی دی.

### ۳. د تبادلې نرخ تاثیر په خارجي تجارت باندې

د ګټې په موخه د شغل او پېشې په ډول په پرلپسې توګه د منقولو اجناسو اخیستل او خرڅول عبارت له تجارت څخه دی.[51] هیڅ یو هیواد په ټوله مانا په خپل ځان باندې متکي نه دی، بلکې؛ په یو نه یو برخه کې د نورو هیوادونو تجارتي راکړه ورکړو ته اړ وي. د خارجي تجارت په برخه کې صادرات او واردات لرو، او د تبادلې نرخ کموالی او زیاتوالی یې په هر یو جلا جلا تاثیر لري، چې مونږ هم هر یو په جلا جلا توګه تر مطالعې لاندې نیسو:

### ۱,۳. د تبادلې نرخ تاثیر په صادراتو باندې

د خارجي اسعارو په وړاندې د یو هیواد د پیسو د ارزښت کموالي سره د یاد هیواد د صادراتي توکو قیمت ټیټیږي.[52] د تقاضا د قانون په اساس د قیمت او تقاضا د مقدار ترمنځ معکوسه رابطه شتون لري. بلاخره ویلای شو چې د تبادلې نرخ لوړوالي او د صادراتو ترمنځ مثبته اړیکه شتون لري. هرځومره چې د یو هیواد د پیسو ارزښت کموالی کوي، په همهغه اندازه په نړیوال بازار کې د یاد هیواد توکو ته تقاضا زیاتیږي، او هر کله چې د یو جنس په مقابل کې تقاضا لوړیږي، نو تولیدونکي د تقاضا رامنځته شوي مازاد مشبوع کولو لپاره د تولید مقدار د لوړوالي لاري چاري په کار اچوي، نوي ماشینونه او کارګر استخداموي او د تولید مقدار لوړوي. څرنګه چې له یو خوا په نړیوال بازار کې داخلي تولیداتو ته تقاضا زیاتیږي او له بل پلوه په داخل د هیواد کې د تولید مقدارو لوړیږي، نو طبعي ده چې د صادراتو په مقدار کې به هم د لوړوالي سبب ګرځي.

په وروستۍ لسیزه کې د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانستان د افغانۍ ارزښت او صادراتو اړوند وړاندې شوي ارقام په لاندې ډول دي. چې په لومړي قطار کې کلونه، بیا د تبادلې نرخ کې کلنی بدلون او وروسته د صادراتو په مقدار کې کلنی بدلون ښودل شوی دی.

---

51 ) خلیلزی، صفی الله؛ (۱۳۹۶). کاروبار پیژندنه. جلال آباد، افغانستان: دعوت خپرندویه ټولنه.
52 ) Krugman, Paul. Obstfeld, Maurice. (2003). International Economics. New York: Hugh Crawford.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| Year | 1391 | 1390 | 1391 | 1392 | 1393 | 1394 | 1395 | 1396 | 1397 | 1398 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Ex. Rate at Mar/19 | 43.04 | 48.18 | 53.05 | 56.23 | 57.77 | 68.36 | 66.70 | 69.52 | 75.87 | 75.94 |
| Exports (Million $) | 388.5 | 375.9 | 414.5 | 515.0 | 570.5 | 571.4 | 596.5 | 831.9 | 875.2 | 1508 |

**منبع:** www.nasia.gov.af

پورتنی جدول په ښکاره ډول د افغانی د ارزښت د کمښت سره د صادراتو زیاتوالی ښیي. هر څومره چې د امریکايي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ لوړ شوی په هم هغه اندازه ورسره په مسلسل ډول د صادراتو په مقدار کې لوړوالی راغلی دی. د موضوع د لا وضاحت لپاره د احصايوي تحليل څخه ترلاسه شوي ارقام راوړو، چې په لاندي ډول دي:

$$Linear\ Model: \hat{Y} = -774.69 + 23.417x$$

$$P - value = 0.007$$

$$B - Value = 23.417$$

$$R\ Square = 0.619$$

پورتني ارقام له کين طرف څخه په ښي طرف په ترتيب سره دا مطب واضح کوي، چې د تبادلې نرخ تاثير اړوند، صادرات ډېر مهم فکتور دی، د دواړو متحولينو ترمنځ مثبته اړيکه شتون لري، يعني هرڅومره چې د امريکايي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ لوړ شوی په هم هغه کچه ورسره په صادراتو کې زياتوالی راغلی او د مورد نظر اسعارو د تبادلې نرخ تاثير په صادراتو باندي د (٦١,٩٪) په اندازه دی.

په لاينر موډل کې هم د (x) ضريب د بې ارزښت ښيي او د بي مثبت ارزښت د متحويلونو ترمنځ د مثبتي اړيکي څرګندونه کوي.

ډېره مهمه خبره چې له پورتني جدول څخه څرګندېږي دا ده چې د امريکايي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ تاثير د صادراتو په مقدار باندي په ډېره پراخه اندازه ده، او دا د امريکايي ډالر په وړاندې د افغانۍ د (Devaluation) ارزښت څرګندوي. د دې خبرې دليل دا کيدای شي چې د افغانستان اکثره لوړ ارزښت لرونکي صادراتي توکي لکه، غالی، زعفران، جنغوزي او نور له پاکستان او ايران علاوه غربي هيوادونو ته هم صادرېږي،[53] چې هلته د امريکايي ډالر په مقابل کې په پلور رسول کيږي، نو طبعي ده چې د امريکايي ډالر په وړاندې د افغانۍ د ارزښت د بدلون تاثير به هم ورباندي په پراخه

53 ) https://tradingeconomics.com/afghanistan/exports-by-country

(c) ketabton.com: The Digital Library

کچه وي. د مثال په توګه، په (۲۰۱۸) میلادي کال کې د افغانستان د صادراتو له (۵۰) سلنه زیات یې د پاکستان او ایران علاوه نورو هیوادونو ته صادر شوي دي.[54]

### ۲,۳. د تبادلې نرخ تاثیر په وارداتو باندې

مخکې مو په صادراتو باندې د تبادلې نرخ تاثیر څخه یادونه وکړه، او دا مو واضح کړه چې د تبادلې نرخ او صادراتو د مقدار ترمنځ مثبته اړیکه شتون لري. دا چې واردات د صادراتو برعکس مفهوم لري، نو د تبادلې نرخ تاثیر به هم ورباندې د صادراتو برعکس وي،[55] ولې؛ که شرایط توپیر کوي نو نتیجه به په ذکر شوي ډول ترلاسه نشي. په وروستۍ لسیزه کې د افغانستان د وارداتو مقدار او د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ په لاندې ډول وه:

| Year | 1391 | 1390 | 1391 | 1392 | 1393 | 1394 | 1395 | 1396 | 1397 | 1398 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Ex. Rate at Mar/19 | 43.04 | 48.18 | 53.05 | 56.23 | 57.77 | 68.36 | 66.70 | 69.52 | 75.87 | 75.94 |
| Imports (Million $) | 5154 | 6515 | 9069 | 8724 | 7729 | 7723 | 6534 | 7793 | 7407 | 80003 |

**منبع:** www.nasia.gov.af

پورتني ارقام د کلونو په تفکیک په میلیون ډالر سره د افغانستان د وارداتو مقدار او د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ ارزښت ښیي. که څه هم مخکې مو یادونه وکړه چې د تبادلې نرخ او وارداتو ترمنځ اړیکه منفي وي، ولې پورتني ارقام دا څرګندوي چې د افغانۍ د ارزښت په کموالي سره بیا هم د وارداتو مقدار نږدې په مسلسل ډول زیات شوی دی. د دې لپاره چې موضوع لا واضح شي، له احصایوي تحلیل څخه ترلاسه شویو لاندنیو ارقامو ته کتنه کوو.

$$Linear\ Model: \hat{Y} = -41512 + 913.95x$$

$$P - value = 0.185$$

$$B - Value = 913.946$$

$$R\ Square = 0.208$$

پورتنی جدول په څرګند ډول ښیي چې د وارداتو او امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ ترمنځ مثبته اړیکه شتون لري، چې د تبادلې نرخ بدلون د (۲۰,۸۱٪) په اندازه د وارداتو په مقدار باندې تاثیر درلود، او همدارنګه د (P-Value) ارزښت ښیي، چې د تبادلې نرخ تاثیر اړوند واردات مهم فکتور نه دی.

54 ) https://tradingeconomics.com/afghanistan/exports-by-country

55 ) کوټوال، نصیر. (۱۳۹۴). اقتصادي درسونه. کابل، افغانستان: اکسوس کتابپلورنځی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

باید یادونه وشي چې د یو هیواد د کرنسي (Devaluation) په هغه صورت کې د وارداتو د کموالي لپاره موثر تماميږي، چې د هیواد دننه د تولید ظرفیت لوړ شي، او د وارداتي توکو د تقاضا ارتجاعیت باید لوړ وي. "د تقاضا لوړ ارتجاعیت په دې مانا ده چې د توکو په قیمت کې د لږ تغیر سره د تقاضا مقدار په زیاته اندازه تغیر وکړي."[56] که داسي نه وي، نو د تبادلې نرخ تاثیر ممکن کم اوسي.

دا چې د افغانستان نفوس په چټکۍ سره وده کوي او د نفوسو زیاتوالی د تقاضا د لوړوالي یوه وسیله ده. بلخوا د هیواد نږدې ټول لومړني توکي له بهرنۍ نړۍ پوره کیږي، یواځې کم تعداد زراعتي محصولات د هیواد دننه کرل کیږي، چې د هغه لپاره هم د ساتنې وسایل شتون نلري، او له یواځنۍ مودې څخه علاوه چې زراعتي محصولات پکې پخیږي، د کال په نوره اوږده کې باید وارد شي. نو دا چې له یو خوا د هیواد دننه د مجموعي تقاضا مقدار په چټکۍ سره لوړیږي او له بل پلوه د هیواد دننه د لومړنیو توکو د تولید فرصت په نشت حساب دی، ضروري ده چې د وارداتو مقدار به لوړوالی کوي.

همدارنګه د افغانستان اکثریت وارداتي توکي لومړني خوراکي مواد وي چې تر ډېره یې له پاکستان او ایران څخه واردیږي. په (۱۳۹۸) هجري شمسي کال کې د هیواد د واریداتو له جملې څخه یوازې یو میلیارد او (۲۴۷) میلیونه ډالر په ارزښت یې له ایران هیواد څخه افغانستان ته را وارد شوي دي، کوم چې د نورو ټولو هغه هیوادونو په پرتله لوړ رقم ښیي، چې افغانستان ورڅخه تجارتي توکي واردوي.[57] که چیرته مونږ د پاکستانی کلداري او ایراني تومن په وړاندې د افغانی ارزښت تېره ډېټا وګورو، دا واضح ده چې د افغانۍ ارزښت کموالی نه، بلکي لوړوالی کړی، او د یو هیواد د پیسو ارزښت لوړوالي او وارداتو مقدار ترمنځ مثبته اړیکه شتون لري. هر څومره چې د هیواد پیسو ارزښت لوړیږي په هم هغه کچه به په داخلي بازارونو کې د وارداتي توکو قیمت ټیټ او د قیمت ټیټوالي سره تقاضا زیاتیږي، او کله چې وارداتي توکو ته تقاضا لوړیږي، نو ورسره به د وارداتو په مقدار کې هم لوړوالی راځي.

**۴. د تبادلې نرخ تاثیر د وزګارتیا په کچه باندي**

مخکې مو له دې څخه یادونه وکړه چې د یو هیواد د کرنسي د ارزښت کموالی (Devaluation) یو تاثیر هم د انفلاسیون نرخ لوړوالی دی، او د انفلاسیون نرخ په دوه جلا شرایطو کې د وزګارتیا په سطحه متفاوت تاثیرات لري. کله چې د انفلاسیون نرخ لوړیږي، او د مجموعي تقاضا مقدار یا هیڅ لوړ نشي او یا هم د انفلاسیون نرخ په پرتله په کمه اندازه لوړ شي، نو په دې صورت کې د انفلاسیون نرخ لوړوالي سره د وزګارتیا کچه لوړیږي، او کله چې د انفلاسیون نرخ لوړوالي څخه زیات د

[56] ) نورمل، محمد زبیر؛ (۱۳۹۶). د کوچني اقتصاد اساسات. جلال آباد، افغانستان: یار خپرندویه ټولنه.
[57] ) https://www.google.com/amp/s/www.bbc.com/persian/amp/afghanistan-51626158

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجموعي تقاضا مقدار لوړ شي نو په دې صورت کې د وزګارتیا سطحه کې کموالی راځي، او استخدام رامنځته کیږي. که څه هم د قیمتونو سطحي لوړوالي سره تقاضا کموالی کوي، ولي؛ دلته نور فکتورونه لکه د نفوسو وده، د عاید سطحي لوړوالی او نور هم شتون لري چې د تقاضا د لوړوالي باعث ګرځي.(58)

دا چې د پیسو د ارزښت کموالي سره له یو خوا د هیواد دننه د قیمتونو سطحه لوړوالی کوي، له بل پلوه که چیرته د هیواد صادراتي توکي د تقاضا لوړ ارتجاعیت ولري، نو دې سره به د هیواد صادراتي توکو ته په بهر کې تقاضا ډیره زیاته شي او د تقاضا یاد مقدار مشبوع کولو لپاره باید داخلي تصدۍ د تولید مقدار لوړ کړي او د تولید مقدار لوړولو لپاره باید خلک په کار وګماري. که له یو پلوه د قیمتونو سطحي لوړوالی د تقاضا د کموالي، د تقاضا کموالی د تولید د مقدار کموالي او د تولید مقدار کموالی د وزګارتیا سطحي د لوړوالي سبب ګرځي، ولي دا چې په نړیوال بازار کې د هیواد د صادراتي توکو قیمت ټیټیږي نو دې سره به په نړیوال بازار کې داخلي تولیداتو ته تقاضا لوړه شي، او د تقاضا د یاد مقدار د پوره کولو لپاره به د هیواد دننه کارګري قوې ته تقاضا لوړه شي کله چې کارګري قوې ته تقاضا زیاتیږي، نو دې سره د هغوی د مزد اندازه هم لوړیږي.(59) بلاخره ویلای شو چې کله د یو هیواد د پیسو ارزښت د خارجي اسعارو په مقابل کې رالویږي، نو دا د لوړ د تقاضا ارتجاعیت لرونکو توکو صادرات ډېر تشویقوي، چې په وسیله یې د هیواد دننه د استخدام سطحه باندي هم مثبت تاثیر اچوي. د هیواد دننه د قیمت سطحي لوړوالي تاثیر د مزدونو لوړوالي باندي له منځه ځي، ولي د مزدونو دا لوړوالی باید د تقاضا د هغه مقدار زیاتوالي څخه زیات نه وي چې په نړیوال بازار کې داخلي توکو ته رامنځته کیږي.

په وروستۍ نهه کلونو کې د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ په ارزښت کې کموالی او د وزګارتیا سطحي کې بدلون په لاندې ډول دی:

| Year | 1390 | 1391 | 1392 | 1393 | 1394 | 1395 | 1396 | 1397 | 1398 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Change in Ex. Rate (%) | 11.94 | 10.11 | 5.99 | 2.74 | 18.33 | -2.42 | 4.23 | 9.13 | 0.09 |
| Change in Unemployment Level (%) | -13.16 | -14.65 | 2.37 | 0.58 | -3.45 | -2.98 | -4.29 | -1.28 | -1.30 |

**منبع:** www.statista.com

د جدول دویم افقي قطار د یو امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ کې د بدلون سلنه ښیي، او دریم افقي قطار د وزګارتیا سطحه کې د بدلون سلنه څرګندوي. له پورتنیو ارقامو څخه دا بریښي چې د تبادلې نرخ او وزګارتیا سطحي ترمنځ معکوسه رابطه وجود لري. هر څومره چې د تبادلې نرخ کې لوړوالی راغلی، ورسره په مسلسل ډول د وزګارتیا کچه کمه شوې ده. د یادو متحویلونو ترمنځ د

58 ) Excel Books Private Limited. (2012). Macro Economics. New Delhi: Excel Books Private Limited.
59 ) Krugman, Paul. Obstfeld, Maurice. (2003). International Economics. New York: Hugh Crawford.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دقیق اړیکي په اړه پوهیدلو لپاره له احصایوي تحلیل څخه ترلاسه شوي ارقام راوړو، چې په لاندي ډول دي:

$Linear\ Model: \hat{Y} = -1.799 - 0.365x$

$P - value = 0.286$

$B - Value = -0.365$

$R\ Square = 0.160$

پورتني ارقام ښیي چې د وزګارتیا سطحه د انفلاسیون نرخ او اقتصادي ودي په پرتله مهم فکتور دی، د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ لوړوالي سره معکوسه رابطه لري او د تبادلې نرخ د بدلون تاثیر وروباندي د (۱۶,۰۳) سلنه په اندازه دی.

د هیواد دننه د نفوسو چټکه وده، د تعلیم سطحي ټیټوالی او له مختلیفو هیوادونو سره په مختلیفو کرنسیو تجارت هغه عوامل دي چې د امریکایي ډالر په وړاندی د افغانۍ د ارزښت تاثیر په وزګارتیا سطحي باندي متأثیره کوونکو عواملو په توګه یې راوړلای شو. هدف دا دی چې د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ کموالي سره د صادراتو په مقدار کې په ډېره لوړه پیمانه زیاتوالی راغلی، ولي د وزګارتیا کچه په همهغه اندازه نه ده کمه شوې په کومه اندازه چې یې انتظار کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مناقشه (Discussion)

په دې څېړنه کې د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ اغېزې په څلورو فکتورونو (انفلاسیون نرخ، اقتصادي وده، خارجي تجارت او استخدام سطحه) باندې څېړل شوي دي.

د لومړۍ صفري فرضیې اړوند، چې د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د ارزښت ښکته والي سره د انفلاسیون نرخ کې لوړوالی راغلی دی، اې سي اریز او ملینډرېټوز په کال (۱۹۹۶) میلادي، می کې د (د تبادلې نرخ اغېز انفلاسیون په نرخ) عنوان لاندې څېړنه کې لیکلي چې، د تبادلې نرخ بدلون د انفلاسیون نرخ د بدلون یو عامل دی، پاول کنوې، آرون ډریو، بین هانټ او السډېر سکاټ په کال (۱۹۹۸) میلادي، می کې د (د تبادلې نرخ تاثیر په انفلاسیون نرخ په هغه هیوادونو کې چې د کمې اقتصادي آزادي لرونکي دي) عنوان لاندې څېړنه کې لیکلي چې، د تبادلې نرخ بدلون په انفلاسیون نرخ باندې زیات تاثیرګذار عامل دی او نصیر «کوتوال» په خپل کتاب (اقتصادي درسونه) کې، چې په کال (۲۰۱۵) میلادي کې خپور شوی لیکي، چې د پیسو ارزښت او انفلاسیون نرخ ترمنځ معکوسه رابطه شتون لري.

د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ او د انفلاسیون نرخ ډېټا تحلیلي ارقام د لومړۍ صفري فرضیې او د اې سي اریز او ملینډرېټوز او نصیر «کوتوال» د لیکنو سره یو شان او د پاول کنوې، آرون ډریو، بین هانټ او السډېر سکاټ د لیکني خلاف نتېجه ښیي. د دې خبرې لپاره دلیل دا دی، چې د افغانستان له (۵۰٪) څخه زیات وارداتي توکي له پاکستان او ایران هیوادونو څخه واردېږي او د (۱۳۹۷) هجري شمسي کال تر نمایي پورې د افغانستان وارداتي توکي، کوم چې له ایران او پاکستان هیوادونو څخه واردېدل، د پاکستانۍ روپۍ او ایراني تومن په مقابل کې اخیستل کېدل او د ایراني تومن او پاکستانۍ روپۍ په وړاندې د افغانۍ په ارزښت کې کموالی نه، بلکې؛ لوړوالی رامنځته شوی دی.

د دویمې صفري فرضیې اړوند، چې د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د ارزښت ښکته والي سره په اقتصادي وده کې مثبت تغیر راغلی دی، ډاني راډریک په کال (۲۰۰۴) میلادي کې د (حقیقي تبادلې نرخ او اقتصادي وده) تر نوم لاندې څېړنه کې لیکلي چې، د بهرنیو اسعارو په وړاندې د یو هیواد د پیسو د ارزښت ټیټوالی (Devaluation) اقتصادي وده تحریکوي، جان ایف کنیډي په کال (۲۰۰۷) میلادي، جولای کې د (حقیقي د تبادلې نرخ او اقتصادي وده) عنوان لاندې څېړنه کې لیکلي چې، د بهرنیو اسعارو په وړاندې د ملي پیسو د ارزښت کموالی د هیوادونو اقتصادي وده، په ځانګړې توګه په پرمختیایي هیوادونو کې تحریکوي او مارټین رېپټي، پیټر سکاټ او ارسلن رزمي په کال (۲۰۱۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library

میلادي، مارچ کې د (حقیقي د تبادلې نرخ او اقتصادي ودې) تر عنوان لاندې څېړنه کې لیکلي چې د تبادلې نرخ د کموالي (Devaluation) او اقتصادي ودې ترمنځ مثبته اړیکه شتون لري، نو ویلای شو چې د همدې څېړنې (د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ او په ملي اقتصاد یې اغېزې) دویمه صفري فرضیه او د اقتصادي ودې متحویل اړوند تېرې لیکنې ورته مفهوم ارایه کوي.

د درېیمې صفري فرضیې اړوند، چې د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د ارزښت ښکته والي سره د هیواد په سوداګرۍ کې مثبت تغیر راغلی، نصیر کوتوال په خپل کتاب (اقتصادي درسونه) کې، چې په کال (۲۰۱۵) میلادي کې خپور شوی، لیکي: د بهرنیو اسعارو په وړاندې د پیسو د ارزښت لوړوالی د صادراتو د کموالي او وارداتو د زیاتوالي سبب ګرځي، کایلي وانګ او کریسټوفر بي بېرټ په کال (۱۹۸۹-۱۹۹۸) میلادي پورې (د صادراتو په حجم باندې د تبادلې نرخ د بدولون د تاثیراتو سنجش) عنوان لاندې څېړنه کې لیکلې چې، د وارداتي هیوادونو صنعتي تولیدات او منتظره د تبادلې نرخ بدلون په ګډه سره د تجارت حجم متاثیره کوي او جینګوا زي، هینري ډبلیو کینوکن او اویسټاین میرلنډ په کال (۲۰۰۳) میلادي، اپریل کې (د تبادلې نرخ تاثیرات د سمن (Salmon) ماهي د صارداتو په قیمت) عنوان لاندې څېړنه کې لیکلې چې د تبادلې نرخ بدلون د تجارت په حجم باندې تاثیر ګذاره دی.

د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ او د افغانستان اقتصادي ودې ډېټا تحلیلي ارقام د درېیمې صفري فرضیې او د کایلي وانګ او کریسټوفر بي بېرټ او جینګوا زي، هینري ډبلیو کینوکن او اویسټاین میرلنډ لیکنو ته ورته نتایج ښیي، خو د نصیر «کوتوال» له لیکنې سره ورته نتېجه نه ښیي. د دې خبرې لپاره هم د پورته په شان باید یادونه وکړو چې، د افغانستان له (۵۰٪) څخه زیات وارداتي توکي له پاکستان او ایران هیوادونو څخه واردېږي او د (۱۳۹۷) هجري شمسي کال تر نمایي پورې د افغانستان وارداتي توکې، کوم چې له ایران او پاکستان هیوادونو څخه واردېدل، د پاکستانۍ روپۍ او ایراني تومن په مقابل کې اخیستل کېدل او د ایراني تومن او پاکستانۍ روپۍ په وړاندې د افغانۍ په ارزښت کې کموالی نه، بلکې؛ لوړوالی رامنځته شوی دی.

د څېړنې څلورمه صفري فرضیه مو دا وه چې د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د ارزښت ښکته والي سره د استخدام سطحه کې لوړوالی راغلی دی. د تبادلې نرخ بدلون او استخدام سطحې ترمنځ اړیکه باندې روبرټو فرینکیل او لېنس ټایلر په کال (۲۰۰۶) میلادي، فروري کې د (حقیقي تبادلې نرخ، پولي سیاست او استخدام) په نوم څېړنه ترسره کړې، چې د نوموړې څېړنې څخه څرګندېږي چې د تبادلې نرخ د استخدام سره مستقیمه رابطه لري او ډېمیر او فیراټ په کال (۲۰۱۰) میلادي کې د (د تبادلې نرخ بدلون او د استخدام سطحې لوړوالی په پرمختیایي هیوادونو کې) عنوان لاندې څېړنه ترسره کړې. دوی په خپله څېړنه کې لیکي چې، د تبادلې نرخ لوړوالي سره د استخدام سطحه کې لوړوالی

(c) ketabton.com: The Digital Library

رامنځته کيږي. د استخدام سطحي ټړلي متحويل اړوند ټېري ليکني، صفري فرضيه او زمونږ د څېړني نتايج ورته مفهوم ارايه کوي او هغه دا چې د بهرنيو اسعارو په وړاندې د يو هيواد د پيسو ارزښت کې کموالی د هيواد دننه استخدام سطحه باندي تاثير اچوي او د استخدام سطحې د لوړوالي باعث ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پایله اخیستنه (Conclusion)

د بهرنیو اسعارو په وړاندې د یو هیواد د پیسو د تبادلې نرخ له دې څخه عبارت دی، چې یو واحد بهرنی سعر د څو واحده ملي پیسو په بدل کې ترلاسه کوو. د تبادلې نرخ سیستمونه درې ډوله لري، چې د تبادلې ارتجاعي یا متغیر نرخ، د تبادلې ثابت نرخ او د تبادلې مشترک یا ګډ نرخ څخه عبارت دي.

په تېرو نهه کلونو کې په استثنا د (۱۳۹۵) هجري شمسي کال، چې د افغانۍ ارزښت په کې د (۱,۶۶ؤ) په اندازه لوړوالی کړی، د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ ارزښت په دوامداره ډول کم شوی دی. په مجموعي توګه په نهه کلونو کې د افغانی په وړاندې د امریکایي ډالر ارزښت د (۳۲,۹۴ؤ) یعني (۷۶,۶۱٪) په اندازه لوړ شوی دی، چې له جملې څخه یې (۳۲,۲۸٪) یعني د (۱۰,۶۳ؤ) په اندازه یوائې په (۱۳۹۴) هجري شمسي کال کې کم شوی دی، چې تر ټولو لوړ رقم ښیي.

د یو هیواد د پیسو د ارزښت ټیټوالی او لوړوالی د هیواد دننه اقتصادي حالت تر اغېز لاندې راولي. د لوی اقتصاد څلور اهداف (انفلاسیون نرخ، اقتصادي وده، د تادیاتو بیلانس او وزګارتیا) هر یو په جلا توګه د تبادلې نرخ سره معکوسه او مستقیمه رابطه لري، چې له (۹۸-۱۳۹۰) هجري شمسي کال پورې د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ او د پورتنیو پنځه واړه فکتورونو د ډېټا له تحلیل څخه څرګندیږي، چې د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د ارزښت ټیټوالي سره د انفلاسیون نرخ، اقتصادي ودې، صادرات او وارداتو اړیکه مثبت او د وزګارتیا سطحې اړیکه منفي دی. یاد تحلیلي ارقام دا هم واضح کوي چې تر ټولو مهم فکتورونه په ترتیب سره صادرات او واردات دي او اقتصادي وده ډېر مهم فکتور نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## وړاندیزونه (Recommendatins)

- دولتي ادارات باید داسي پالیسی طرحه کړي چې په وسیله یې د افغانۍ ارزښت نسبتا ثبات ومومي، او مطوب اهداف ورڅخه په ښه شکل سره ترلاسه شي.
- مسؤلیت لرونکي مقامات باید یواځي د هغه اهدافو لپاره د امریکایي ډالر په وړاندې د افغانۍ د تبادلې نرخ تغیر څخه استفاده وکړي، کوم چې د یادو اسعارو د تبادلې نرخ له کبله زیات اغېزمن کېدونکي دي.
- مسؤلي اداري باید د هغه اهدافو د ترلاسه کولو لپاره نوري لاري چاري ولټوي، په کومو چې د افغانۍ په وړاندې د امریکایي ډالر د تبادلې نرخ تاثیر کم دی.
- دولت باید د ناخالص داخلي تولید د لوړوالي ترڅنګ د نفوسو کنټرول برخي ته هم پاملرنه وکړي، ترڅو سړي سر ناخالص داخلي تولید لوړ او اقتصادي وده رامنځته شي.
- تجاران نه باید د تبادلې نرخ بدلون څخه د بهاني په توګه استفاده وکړي، او قیمتونه له حده زیات لوړ کړي، بلکې؛ د قیمتونو لوړوالی باید یواځي د تبادلې نرخ د تاثیر په اندازه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اخځلیکونه (References)


۱. خلیلزی، صفی الله؛ (۱۳۹۶). کاروبار پیژندنه. جلال آباد، افغانستان: دعوت خیرندویه ټولنه.

۲. کوټوال، نصیر. (۱۳۹۴). اقتصادي درسونه. کابل، افغانستان: اکسوس کتابپلورنځی.

۳. نظامي، حمد الله؛ (۱۳۹۷). لوی اقتصاد. جلال آباد، افغانستان: مومند خیرندویه ټولنه.

۴. نورمل، محمد زبیر؛ (۱۳۹۶). د کوچني اقتصاد اساسات. جلال آباد، افغانستان: یار خیرندویه ټولنه.

5. Arize, A., & Malindretos, J. (1996). Effects of Exchange Rate Variability on Inflation Variability. Applied Economics Letters, 6.

6. Conway, P., Drew, A., Hunt, B., & Scott, A. (1998). Exchange Rate Effects and Inflation Targeting in a Small Open Economy. Reserve Bank of New Zealand Discussion Paper, 20.

7. Excel Books Private Limited. (2012). Macro Economics. New Delhi: Excel Books Private Limited.

8. F. Kennedy, J. (2007). The Real Exchange Rate and Economic Growth. 37.

9. Firat, D. (2010). Exchange Rate Volatility and Employment Growth in Developing Countries. MPRA, 47.

10. Frenkel, R., & Taylor, L. (2006). Real Exchange Rate, Monetary Policy and Employment. DESA, 13.

11. Krugman, Paul. Obstfeld, Maurice. (2003). International Economics. New York: Hugh Crawford.

12. Kumar, Ranjit. (2011). Research Methodology. New Delhi: SAGE Publications Ltd.

13. Rapetti, M., Skott, P., & Razmi, A. (2011). The Real Exchange Rate and Economic Growth. International Review of Applied Economics, 19.

14. Rodrik, D. (2004). The Real Exchange Rate and Economic Growth. Brookings Papers on Economic Activity, 76.

15. USI Publications. (2012). Macro Economics. New Delhi: USI Publications.

16. Wang, K.-L., & B.Barrett, C. (1998). Estimating the Effects of Exchange Rate Volatility on Export Volumes. Journal of Agricultural and Resource Economics, 31.

17. Xie, J., W. Kinnucan, H., & Myrland, O. (2003). The Effects of Exchange Rate on Export Prices of Farmed Salmon. Marine Resource Economics, 439.

18. dab.gov.af

19. https://finance.yahoo.com

20. www.investing.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

21. www.macrotrends.net

22. www.nasia.gov.af

23. www.saraishahzada.af

24. www.statista.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**